قَٰتِلُوا الَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَلَا بِالْيَوْمِ الْآخِرِ وَلَا يُحَرِّمُونَ مَا حَرَّمَ اللَّهُ وَرَسُولُهُ وَلَا يَدِينُونَ دِينَ الْحَقِّ مِنَ الَّذِينَ أُوتُوا الْكِتَٰبَ حَتَّىٰ يُعْطُوا الْجِزْيَةَ عَن يَدٍ وَهُمْ صَٰغِرُونَ

له اهـل کتابو څخه د هغو خلکو په خلاف وجنګېږئ چي په الله او د اخرت په ورځ ايمان نه راوړي، او څه چي الله او د هغه پيغمبر حرام کړيدي، هغه نه حراموي او حق دين خپل دين نه ګرځوي. (له هغو سره وجنګېږئ)تر دې پوري چي په خپل لاس جزيه ورکړي او ذليل شي.

[سُورَةُ البقرة:249]

خراسان غږ

خراسان غږ مجله | نهمه ګڼه

دیني، تاریخي، سیاسي، ادبي او خبري مجله

تفسير القرآن الکريم

د صليبيانو وژل

د اسلامي دولت لومړيتوب

کرکټ د فکري جګړې وسيله او وسله

ټپي بندي

لنډه کيسه



د شهيدانو پلار

آفتاب الدين عمري رحمه الله

مؤسسة العزائم الإعلامية

نهمه ګڼه / یک شنبه 15 صفر 1444هـ

مؤسســـــة العـــزائم يـې وړانـدې كـــوي

ديني برخه

1 تفسير القرآن الكريم

8 نثر اللؤلؤ والمرجان (في سلسلة معرفة الرحيم الرحمان) اتم درس

11 الفلاح والرشاد في مسائل الجهاد (اتم درس)

17 سيرت النبي صلى الله عليه وسلم (اووم درس)

سياسي برخه

22 د صليبيانو وژل د اسلامي دولت لومړيتوب دی

29 كركټ د فكري جګړې وسيله او وسله ده

ادبي برخه

33 د شهيدانو پلار

44 لنډه كيسه ټپي بندي

49 شعر (مجاهدينـو انتظـار مـو ده اسـيره خوركـی)

تفسير القرآن الكريم
سُورَةُ التَّوْبَة
نهم درس ٩

أعوذ بالله من الشيطان الرجيم

د سورت توبې درس شروع و، مخکې الله عزوجل د منافقانو د کفر او نفاق له امله په جهاد کې خرڅه نه کولو بیان وکړو، بیا یې وفرمایل ددوی مالونو ته تعجب ندی پکار، پدې سره ورته الله عزوجل عذاب ورکوي. بیا د زکات مصارف بیان شو، او بیا د منافقانو لخوا نبي علیه السلام ته ضرر ورکول بیان شو، اوس دې دوه آیتونو کې منافقانو لپاره سخت وعید ذکر شوی، او ددوی بد صفات بیان شوي چې دوی الله او رسول او مومنانو پسې ټوقې کوي، بیا ورته بې ځایه عذرونه جوړوي، او وایي مونږ ګپ لګوو، او بیا الله عزوجل دا حکم بیانوي چې څوک د شریعت کوم حکم یا هم شعیرې (نښې) پسې ټوقې کوي هغه مرتد دی.

وَلَئِنْ سَأَلْتَهُمْ لَيَقُولُنَّ إِنَّمَا كُنَّا نَخُوضُ وَنَلْعَبُ قُلْ أَبِاللَّهِ وَآيَاتِهِ وَرَسُولِهِ كُنْتُمْ تَسْتَهْزِئُونَ (65) لَا تَعْتَذِرُوا قَدْ كَفَرْتُمْ بَعْدَ إِيمَانِكُمْ إِنْ نَعْفُ عَنْ طَائِفَةٍ مِنْكُمْ نُعَذِّبْ طَائِفَةً بِأَنَّهُمْ كَانُوا مُجْرِمِينَ (66)

ژباړه: او که ته دوی نه تپوس وکړې (چې تاسې څه ویل) خامخا دوی وایي یقینا مونږ ځان مشغولوو او لوبې مو کولې، ته اووایه آیا په الله تعالی پورې او په آیتونو د هغه پورې او په رسول د هغه پورې تاسې ټوقې کوئ ؟ بهانې مه کوئ یقینا کفر ښکاره کړی دی تاسې پس د ایمان ښکاره کولو څخه، که بخښنه وکړو مونږ ستاسې یوې ډلې ته (په توفیق د توبې سره) نو عذاب به ورکړو بلې ډلې ته، پدې وجه چې دوی مجرمان دي.

[وَلَئِنْ سَأَلْتَهُمْ لَيَقُولُنَّ إِنَّمَا كُنَّا نَخُوضُ وَنَلْعَبُ]:

اې نبي علیه السلام ته چې له دې منافقانو څخه پوښتنه وکړې چې تاسې مجلس کې څه ویل نو دوی به زر درته اووایي چې مونږ هسې ساعت تیري کوله او ګپ مو لګوو. د منافقانو د مجالسو موضوعات مفسرینو ذکر کړي دي. کله چې منافقانو د مسلمانانو غزوه تبوک ته چمتووالی او د جهاد شوق او جذبه یې ولیده نو یو مجلس کې لګیا شو : چې رسول الله علیه السلام او د هغه ملګري دومره امیدونه لري چې د شام بنګلې او کلاګانې به فتح کړي، ګوندې د ښار دروازې به ورته داسې په آسانه پرانیستل شي!

ودیعه بن ثابت په نوم منافق ویل: ستاسې څه فکر دی چې دا رومیان هم دې عربانو په څیر جګړه کوي ؟ بل وویل: لږ انتظار وکړئ، دوی یوځل تبوک ته ورسیږي بیا یې وګورئ چې څه ورسره کیږي ؟ بل منافق وویل: مسلمانان چې د روم پوځ سره مخامخ شي هغوی به یې زر تر زره په پړو وتړي، ځکه د روم پوځ خو ډیر تجربه کار پوځ دی. مجلس کې ناست بل منافق وویل: چې کله یې په پړو وتړي او اسیران یې کړي نو بیا به یې سل سل کوړې ووهي. بل منافق وویل: دا زمونږ قاریان ډیر خیټاګان دي، مونږ هم دروغ وایو خو دوی له مونږ زیات دروغجن دي، تاسې به دوی وګورئ چې جنګ کې څنګه بزدلي ښکاره کوي ؟ سبا به یې حال وګورئ، دوی د رومیانو مخې ته یو ساعت هم نشي ودریدای! دوی پدې چټیاتو بوخت و، بیخي یو له بله مخکې کیدل تر دې چې مخشن بن حمیر ته فکر ورغی چې زمونږ ددې مجلس معلومات نبي علیه السلام ته ونه رسیږي، الله عزوجل سورت رانازل نه کړي ؟ دغه وخت کې یو بدبخت منافق وویل: محمد (صلی الله علیه وسلم) د خلکو هدایت لپاره قرآن کریم کافي ګڼي خو مونږ خو دا د الله کلام نه ګڼو.

دې منافقانو به په پټو مجالسو کې د نبي علیه السلام بې ادبي، سپکاوی او تکذیب کاوو او د صحابه وو د جهاد شوق څخه به یې په لیونتوب تعبیر کوو، همدې یو څو کسانو منافقانو او مرجفینو به ځان حق ګڼو، نور ټول امراء او قائدین به یې پر باطله ګڼل. نن سبا هم دغه حال دی، منافقان په خپلو پټو مجالسو کې همداسې خبرې کوي، خصوصا هغه کسانو ته وایو چې ددې منافقانو دا ډول مجلس یې اوریدلی وي چې زر تر زره توبه وباسئ او ددې خلکو څخه جلا شئ، الله مه کړه چیرته ددې خلکو صف کې مو رب حساب نه کړي.

د منافقانو دې پروپاګند، تفرقې او اختلاف اچونې هدف دا و چې ټول مسلمانان ددې تبوک غزوې څخه پاتې شي، اسلام پرمختګ ونه کړي، اسلامي نظام پیاوړی نه شي، کافر برید وکړي، کافر دې غالبه شي، او که چیرې مسلمانان خامخا وځي نو مونږ دومره فکري جګړه وکړو چې لږ کسان ووځي، او د هغوی مرال هم کمزوری کړو. او چې رومیانو سره مخامخ شي اکثره به یې ووژل شي او پاتې به یې اسیران شي او نور به د اسلامي نظام څخه خلاص شو. معاذ الله.

تفسیر ابن جریر، ابن أبي حاتم او ابن کثیر د عبد الله بن عمر رضي الله عنهما څخه روایت نقل کړی: عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ قَالَ: قَالَ رَجُلٌ فِي غزوة تبوك فِي مجلس مَا رَأَيْتُ مِثْلَ قُرائنا هَؤُلَاءِ، أرغبَ بُطُونًا، وَلَا أكذبَ أَلْسُنًا، وَلَا أَجْبَنَ عِنْدَ اللِّقَاءِ. فَقَالَ رَجُلٌ فِي الْمَسْجِدِ: كذبتَ، وَلَكِنَّكَ مُنَافِقٌ. لَأُخْبِرَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَبَلَغَ ذَلِكَ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَنَزَلَ الْقُرْآنُ. قَالَ عَبْدُ اللَّهِ بْنُ عُمَرَ: وَأَنَا رَأَيْتُهُ مُتَعَلِّقًا بحَقَب نَاقَةِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَنْكُبُهُ الْحِجَارَةُ وَهُوَ يَقُولُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، إِنَّمَا كُنَّا نَخُوضُ وَنَلْعَبُ. وَرَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: {أَبِاللَّهِ وَآيَاتِهِ وَرَسُولِهِ كُنْتُمْ تَسْتَهْزِئُونَ لَا تَعْتَذِرُوا قَدْ كَفَرْتُمْ بَعْدَ إِيمَانِكُمْ}.

ژباړه: غزوه تبوک په یو مجلس کې یو کس (منافق) وویل: ما د قاریانو په شان ګېټ خیټي، دروغجن او د جنګ په وخت ډارن خلک ندي لیدلي. په جمات کې موجود یو کس ورته وویل: تا دروغ وویل، او ته منافق یې. زه به خامخا نبي علیه السلام خبروم. نو نبي علیه السلام ته دا خبره ورسیده او الله عزوجل دا آیتونه رانازل کړل. عبد الله بن عمر وایي: او ما ولید چې د نبي علیه السلام اوښې سینه بند یې نیولی و او کاڼو یې پښې وهلې او ده همدا غږ کوو: اې د الله رسوله مونږ خو ټوقې کولې او رسول الله علیه السلام ورته ویل: آیا تاسې په الله ، د هغه په آیاتونو او د هغه په رسول پورې ټوقې کوئ ؟ بهانې مه جوړوئ تاسې له ایمان نه وروسته کفر کړی دی.

لهذا د شریعت حکم پورې مسخرې کول په اجماع د مسلمانانو سره کفر دی اګر که کونکی یې دمسخرې کولو قصد نه لري بلکې یواځې ګپ او مزاح کوي، ځکه د اسلام په نواقضو کې ټوقې، ریشتیا او خوف دا ټول احوال یو حکم لري چې انسان پرې کافر کیږي، صرف مُکرَه انسان ترې مستثنی دی.

شیخ الاسلام ابن تیمیه د دې آیت په اړه فرمایي: "فبين أنهم كفار بالقول مع أنهم لم يعتقدوا صحته." [الصارم المسلول]

ژباړه: دا خبره ورته الله تعالی بیانه کړه، چې دوی د دغه وینا له امله کفار دي، سره له دې چې دوی د دغه وینا د سموالي عقیده نه درلوده.

زرکشي شافعي د دې آیت په اړه لیکي:

"فَمَنْ تَكَلَّمَ بِكَلِمَةِ الْكُفْرِ هَازِلًا، وَلَمْ يَقْصِدْ الْكُفْرَ كَفَرَ." [المنثور في القواعد الفقهية] ژباړه: چا چې په ټوقو سره د کفر کلمه وویله او کفر یې مقصد نه وو، خو هغه کفر وکړ.

ابن نجیم الحنفي وایي: "والحاصل أن من تكلم بكلمة الكفر هازلا أو لاعبا كفر عند الكل ولا اعتبار باعتقاده." [البحر الرائق شرح كنز الدقائق]

ژباړه: حاصل دا شو چې چا د کفر کلمه په ټوقو یا لوبو سره وویله، د ټولو په نزد یې کفر وکړ، او عقیدې ته یې اعتبار نشته.

دا وګورئ، ابن نجیم حنفي وایي چې په ټوقو کې د کفر کلمه ویلو باندې دا انسان د ټولو په نزد کافر ګرځي، پرته له دې چې دا عقیده وساتي.

جصاص او مفسر رازي هم لیکلي دي چې په ټوقو کې کفري کلمه ویل هم کفر دی.

بيا استهزاء (مسخرې کول) په دوه قسمه ده:

اول: د شريعت يوې ښکاره نښې پسې ټوقې کول لکه لمونځ، اذان، جهاد وغيره.

دويم: هغه چا پورې ټوقې کول چې د شريعت په يو حکم عمل کوي. نو دا بيا دوه حالات لري:

اول حال: کچيرې دې کس پسې دې وجې نه ټوقې کوي، چې په ځان يې سنت طريقه تطبيق کړې، نو دا هم کفر دی.

دويم حال: د ټوقو هدف ددغه کس شخصيت او ذات وي، ددين نښې او شعيرې پورې ټوقه هدف نه وي. نو دا ګناه ده او فسق دی.

په هر مسلمان فرض دي چې دين پسې ټوقو کونکو سره سخت چلند وکړي، ولو که هغوی يې خپلوان هم وي، د هغوی مجلس پرېږدي ترڅو دا هم د هغوی څخه شمير نشي. لکه الله عزوجل فرمايي:

﴿وَقَدْ نَزَّلَ عَلَيْكُمْ فِي الْكِتَابِ أَنْ إِذَا سَمِعْتُمْ آيَاتِ اللَّهِ يُكْفَرُ بِهَا وَيُسْتَهْزَأُ بِهَا فَلَا تَقْعُدُوا مَعَهُمْ حَتَّى يَخُوضُوا فِي حَدِيثٍ غَيْرِهِ إِنَّكُمْ إِذًا مِثْلُهُمْ إِنَّ اللَّهَ جَامِعُ الْمُنَافِقِينَ وَالْكَافِرِينَ فِي جَهَنَّمَ جَمِيعًا﴾ [سورة النسآء:140]

ژباړه: او يقينا نازل کړي دي الله تعالى په تاسو باندې دې کتاب کې چې کله تاسو واورئ د الله په آيتونو باندې کفر کيږي او يا هم ورپورې ټوقې کيږي، نو تاسو ورسره مه کينئ تر دې چې هغوی په بله خبره کې مشغول شي، يقينا تاسې په دغه وخت کې د هغو په څير ياست، يقينا الله جل جلاله کافران او منافقان په جهنم کې يوځاي راټولوي.

امام بغوي وايي :

"{إِنَّكُمْ إِذًا مِثْلُهُمْ} أَيْ: إِنْ قَعَدْتُمْ عِنْدَهُمْ وَهُمْ يَخُوضُونَ وَيَسْتَهْزِئُونَ وَرَضِيتُمْ بِهِ فَأَنْتُمْ كُفَّارٌ مِثْلُهُمْ." [تفسير البغوي]

ژباړه: د دې معنا دا ده که تاسو هم د دوی په خوا کې کيناستئ او هغو لګيا و خبرې يې کولې او ټوقې يې کولې، او تاسو پرې راضي شوئ نو تاسې هم د هغو پشان کفار ياست.

ګورئ مجلس کې بغير د رد څخه کيناستل د رضا علامت ګرځيدلای، بيا به د هغه طالبانو څه حال وي چې د اسلامي حکمونو پسې کفارو خولې خلاصې کړي وي، او دوی يې دفاع پر ځای ځان ددغه حکمونو څخه بري معرفي کوي، لکه يو واضحه بيلګه يې د حدودو نفاذ، د غلامۍ نظام رائج کول وغيره قانونو په خلاف نړيوال کانفرانسونو کې توهين آميزه څرګندونې دي.

شيخ سليمان بن عبد الله آل الشيخ وايي :

"وقوله انكم إذاً مثلهم ان قعدتم عندهم وهم يخوضون ويستهزؤن بآيات الله ودينه راضين باستهزائهم فأنتم كفار مثلهم، قال أهل العلم: هذا يدل على أن من رضي بالكفر فهو كافر."

[التوضيح عن توحيد الخلاق في جواب أهل العراق وتذكرة أولي الألباب]

ژباړه: د دې معنا دا ده که تاسې هم د دوی په خوا کې کيناستئ او هغو لګيا و خبرې يې کولې او هغو د الله په آيتونو او دين پورې ټوقې کولې، او تاسې پرې راضي شوئ نو تاسې هم د هغو پشان کفار ياست. دا پدې خبره دليل دی چې څوک په کفر راضي شو دا کافر دی.

{احْشُرُوا الَّذِينَ ظَلَمُوا وَأَزْوَاجَهُمْ} [الصَّافَّاتِ: 22] أي شبهائهم ونظرائهم.

راجمع کړئ تاسې ظالمان او د هغوی ملګري، يعنې هغه خلک چې ددوی په شان او هم مجلسه و.

نن سبا خلک مجاهدينو پسې ټوقې کوي او هيڅ پروا يې هم نه وي، سره ددې چې جهاد د وجې مجاهدينو پسې ټوقې کول د اسلام څخه د وتلو سبب ګرځي.

[إِنْ نَعْفُ عَنْ طَائِفَةٍ مِنْكُمْ نُعَذِّبْ طَائِفَةً]:

ټولو ته ښښنه نه کوو، بلکې بعضو ته خامخا عذاب ورکوو. ځکه دوی پدې وينا سره ستر مجرمين ګرځيدلي دي، چا چې د زړه له کومې توبه وويستله نو هغه يې وبښل او څوک چې په خپل نفاق پاتې شو، هغوی ته دنيا کې هم عذابونه ورکړل شو، او آخرت کې به يې هم دردناک عذاب مقدر وي، سيرت د ابن هشام ليکلي دي:

مُخَشِّن بْنُ حُمّير نبي عليه السلام ته راغی او ويې ويل: اې د الله رسوله، ما باندې زما نوم او د پلار نوم اثر کړی دی، نو دې آيت له امله هغه ته عفوه وشوه، نبي عليه السلام ورته عبد الرحمن نوم کېښود، او هغه د الله عزوجل څخه داسې شهادت وغوښت چې هيڅ ځای يې هم معلوم نشي. نو د يمامه په جنګ کې شهيد شو او هيڅ نښه يې هم پاتې نه شوه.

[مخکې آيتونو کې الله عزوجل دا خبره ذکر کړه چې منافقانو به خپلو مجالسو کې نبي عليه السلام او صحابه وو پورې ټوقې او استهزاء کوله، نو وحي راغله او دغه خلک يې کافران وبلل. وس پدې آيتونو کې الله عزوجل د منافقانو نور صفات ذکر کوي، او هغوی ته زجر ورکوي.]

الْمُنَافِقُونَ وَالْمُنَافِقَاتُ بَعْضُهُمْ مِنْ بَعْضٍ يَأْمُرُونَ بِالْمُنْكَرِ وَيَنْهَوْنَ عَنِ الْمَعْرُوفِ وَيَقْبِضُونَ أَيْدِيَهُمْ نَسُوا اللَّهَ فَنَسِيَهُمْ إِنَّ الْمُنَافِقِينَ هُمُ الْفَاسِقُونَ (67)

ژباړه: منافقان سړي او منافقانې ښځې بعضې ددوی د بعضو څخه دي، حکم کوي په ناروا او منع کوي د نيکۍ څخه او بند ساتي لاسونه خپل، هير کړی دی دوی الله تعالى لره نو الله هم پرېښودل دوی لره (په محرومولو د خير نه) يقينا منافقان خاص دوی لوی فاسقان دي.

تفسير:

[الْمُنَافِقُونَ وَالْمُنَافِقَاتُ بَعْضُهُمْ مِنْ بَعْضٍ]:

دا منافقان سړي او زنانه يو شان دي، دا ناکاره صفات يې زنانه وو کې هم موجود دي. فتح القدير کې وايي: لَيْسُوا مِنَ الْمُؤْمِنِينَ، وَلَكِنْ بَعْضُهُمْ مِنْ بَعْضٍ. دوی د مومنانو د ډلې څخه ندي. بلکې دوی د يو بل د جملې څخه دي. ځکه اوس الله عزوجل د دواړو ډلو صفات ذکر کوي، چې هغه علت د امتياز د مومنانو دی. اول به د منافقانو او بيا د مومنانو صفات ذکر کړي.

[يَأْمُرُونَ بِالْمُنْكَرِ وَيَنْهَوْنَ عَنِ الْمَعْرُوفِ]:

دوی په منکر باندې امر کوي او معروف څخه منع کول کوي.

منكر: هُوَ كُلُّ قَبِيحٍ عَقْلًا أَوْ شَرْعًا.

هر هغه کار چې عقل او يا شريعت يې بدګڼي.

معروف: وَهُوَ كُلُّ حَسَنٍ عَقْلًا أَوْ شَرْعًا.

هر هغه کار چې عقل او يا شريعت يې ښه ګڼي.

نو دې منافقانو به د هر خير څخه خلک منع کول، خو بنيادي وظيفه يې دا وه چې جهاد څخه به يې مسلمانان کېنول، شکونه به يې پيدا کول، د ډار ثقافت به يې خپروو.

ځکه پدې ټولو اعمالو کې دوی ته سخت عمل جهاد و، او د اسلام لپاره پدې ټولو کې فايده مند عمل هم جهاد و، نو ځکه يې ورسره په کامله توګه ورانه وه.

[وَيَقْبِضُونَ أَيْدِيَهُمْ]:

عن الجهاد في سبيل الله وعَنِ الْإِنْفَاقِ فِي سَبِيلِ اللَّهِ وعن جميع الطاعات.

لاسونو بندوي د الله په لار کې د جهاد او انفاق څخه او د ټولو عباداتو څخه خپل ځانونه او لاسونه بندوي. لکه دوی به ويل، اقتصادي فشار او محاصرې لاندې مسلمانان راولړئ نو دا مهاجرين به ټول بيرته خواره شي.

هُمُ الَّذِينَ يَقُولُونَ لَا تُنْفِقُوا عَلَى مَنْ عِنْدَ رَسُولِ اللَّهِ حَتَّى يَنْفَضُّوا وَلِلَّهِ خَزَائِنُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَلَكِنَّ الْمُنَافِقِينَ لَا يَفْقَهُونَ (7) سورة المنافقون.

ژباړه: داهمغه کسان دي چې وائي د پيغمبر پرملګرو لګښت کول بندکړئ ترڅو چې دوی تيت پرک شي. پداسې حال کي چې د اسمانونو او ځمکې دخزانو مالك الله دی، خو دغه منافقان نه پوهېږي.

[نَسُوا اللَّهَ فَنَسِيَهُمْ]:

علامه شوکاني وايي: {نَسُوا اللَّهَ} أَيْ: نسوا ذكر الله. هغوی د الله ذکر (يادول) هير کړل. {فَنَسِيَهُمْ} تَرَكُوا مَا أَمَرَهُمْ بِهِ، فَتَرَكَهُمْ مِنْ رَحْمَتِهِ وَفَضْلِهِ، لِأَنَّ النِّسْيَانَ الْحَقِيقِيَّ لَا يَصِحُّ إِطْلَاقُهُ عَلَى اللَّهِ سُبْحَانَهُ. [فتح القدير]

دوی هغه څه پريښودل چې الله ورته په هغه امر کړی و، نو هغه هم د خپل رحمت او فضل څخه پريښودل، ځکه حقيقي نسيان (هيرولو) نسبت الله تعالى ته نه کيږي.

حافظ ابن کثير وايي:

أي: عاملهم مُعَامَلَةَ مَنْ نَسِيَهُمْ.

داسې معامله يې ورسره (قصدا) وکړه لکه څوک چې دوی هير کړي. لکه الله تعالى فرمايي:

{وَقِيلَ الْيَوْمَ نَنْسَاكُمْ كَمَا نَسِيتُمْ لِقَاءَ يَوْمِكُمْ هَذَا} [الْجَاثِيَةِ:34]

ژباړه: او هغو ته به وويل شي چې نن مونږ هم تاسې په همغه

شان هیروو لکه چې تاسې د دغې ورځې ملاقات هېر کړی و.

[إِنَّ الْمُنَافِقِينَ هُمُ الْفَاسِقُونَ]:

حافظ ابن کثیر وایي: أَيْ: الْخَارِجُونَ عَنْ طَرِيقِ الْحَقِّ، الدَّاخِلُونَ فِي طَرِيقِ الضَّلَالَةِ. د حقې لارې څخه وتونکي او د ګمراهۍ په لور ننوتکي دي.

[دې آیت کریمه کې الله عزوجل منافقانو ته تخویف أخروي بیانوي]

وَعَدَ اللَّهُ الْمُنَافِقِينَ وَالْمُنَافِقَاتِ وَالْكُفَّارَ نَارَ جَهَنَّمَ خَالِدِينَ فِيهَا هِيَ حَسْبُهُمْ وَلَعَنَهُمُ اللَّهُ وَلَهُمْ عَذَابٌ مُقِيمٌ (68)

ژباړه: لوظ کړی دی الله تعالی د منافقانو سړو او منافقانو ښځو سره، او د کافرانو سره داوور د جهنم، همیشه به وي دوی په هغې کې، هغه پوره سزا ددوی ده، او لعنت کړی دی پدوی باندې الله تعالی او دوی لپآره عذاب دی همیشه.

تفسیر:

[وَعَدَ اللَّهُ الْمُنَافِقِينَ وَالْمُنَافِقَاتِ وَالْكُفَّارَ نَارَ جَهَنَّمَ] :

دا آیت دلیل دی چې وَعَدَ په شر کې هم استعمالیږي لکه څنګه چې په خیر کې استعمالیږي. حافظ ابن کثیر خپل تفسیر کې لیکي: {خَالِدِينَ فِيهَا} أَيْ: مَاكِثِينَ فِيهَا مُخَلَّدِينَ، هُمْ وَالْكُفَّارُ. ژباړه: دوی او کفار به جهنم کې همیش لپاره اوسیدونکي وي. {هِيَ حَسْبُهُمْ} أَيْ: كَافِيَتُهُمْ لَا يَحْتَاجُونَ إِلَى زِيَادَةٍ عَلَى عَذَابِهَا. ژباړه: دا جهنم ورته کافي دی، ددې څخه نور د عذاب زیاتوالي ته حاجت نشته.

خو ددې سره سره پرې الله رب العالمین لعنت هم کړی دی. أَيْ: طَرَدَهُمْ وَأَبْعَدَهُمْ مِنْ رَحْمَتِهِ. ژباړه: دوی یې د خپل رحمت څخه شړلي دي. وَلَهُمْ عَذَابٌ مُقِيمٌ أَيْ: نَوْعٌ آخَرُ مِنَ الْعَذَابِ دَائِمٌ لَا يَنْفَكُّ عَنْهُمْ. او بل قسم عذاب به هم وي، چې همیشه به وي او نه به ترې جدا کیږي.

[پدې آیت کې د منافقانو او کفارو جهنم کې د یوځای کیدو علت ذکر کیږي، چې دواړو کې مشابهت موجود دی، ددواړو لارې یو شان دي.]

كَالَّذِينَ مِنْ قَبْلِكُمْ كَانُوا أَشَدَّ مِنْكُمْ قُوَّةً وَأَكْثَرَ أَمْوَالًا وَأَوْلَادًا فَاسْتَمْتَعُوا بِخَلَاقِهِمْ فَاسْتَمْتَعْتُمْ بِخَلَاقِكُمْ كَمَا اسْتَمْتَعَ الَّذِينَ مِنْ قَبْلِكُمْ بِخَلَاقِهِمْ وَخُضْتُمْ كَالَّذِي خَاضُوا أُولَئِكَ حَبِطَتْ أَعْمَالُهُمْ فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ وَأُولَئِكَ هُمُ الْخَاسِرُونَ (69)

ژباړه: تاسې د هغه کسانو پشان یاست چې ستاسې څخه مخکې وو، هغوی له تاسې څخه په طاقت کې زیات وو، او ډیر وو په مالونو او په اولادونو کې، نو فائده واخسته هغوی په برخه خپله، نو تاسې هم فائده واخسته په برخه خپله لکه چې فائده اخستې وه هغه کسانو چې مخکې ستاسې څخه وو په برخه خپله، او مشغوله شوئ په شان د هغه کسانو چې هغوی مشغوله شوي وو، دغه کسان برباد شویدي عملونه دهغوی په دنیا او آخرت کې او دغه کسان همدوی تاوان والا دي.

تفسیر:

[كَالَّذِينَ مِنْ قَبْلِكُمْ]:

تر اوسه پورې د غائب خطاب شروع و، وس الله عزوجل منافقان مخاطب کوي د مزید تنبیه لپاره، او ورته وایي چې تاسې هم د مخکنیو مشرکانو په څیر یاست. شوکاني فتح القدیر کې وایي، معنا دا ده: أَنْتُمْ مِثْلُ الَّذِينَ مِنْ قَبْلِكُمْ، يا فَعَلْتُمْ مِثْلَ فِعْلِ الَّذِينَ مِنْ قَبْلِكُمْ مِنَ الْأُمَمِ. ژباړه: تاسې د سابق خلکو په شان یاست، یا تاسې د مخکني امتونو په شان کار وکړو.

[فَاسْتَمْتَعُوا بِخَلَاقِهِمْ فَاسْتَمْتَعْتُمْ بِخَلَاقِكُمْ]:

د مشابهت خبر ورکولو څخه وروسته الله عزوجل د مخکنیو کفارو حال بیانوي، او د هغوی سره د تشبیه وجه بیانوي، او ددوی د حال یوشان والی د هغوی سره بیانوي. ځکه سابقه کفار د نبي علیه السلام په زمانه کې موجودو منافقانو او کفارو څخه په قوت کې هم زیات وو، او مالونه او اولادونه یې هم زیات وو.

[فَاسْتَمْتَعُوا] هغوی د دنیاوي خواهشاتو هغه برخې څخه ګټه پورته کړه چې الله عزوجل ورله مقرر کړې وه. [فَاسْتَمْتَعْتُمْ]: تاسې هم خپله هغه برخې څخه ګټه واخیسته چې الله عزوجل درله مقرر کړې وه. [فتح القدیر]

[كَمَا اسْتَمْتَعَ الَّذِينَ مِنْ قَبْلِكُمْ بِخَلَاقِهِمْ]:

تاسې هم داسې فایده ترلاسه کړه لکه سابقه خلکو چې فایده ترلاسه کړې وه. دلته مشابهت د معاصرو کفارو او منافقانو د سابقه کفارو سره په فایدې اخستلو کې ذکر شو. یعني دنیاوي نعمتونه تاسې حاصل کړي دي.

[وَخُضْتُمْ كَالَّذِي خَاضُوا]:

دا علت د مرض دی، چې دا مخکني مشرکان او نني منافقان دوی په خواهشاتو کې ورډننه شو، دین یې هم د خواهشاتو تابع کړو. کوم کار چې ورته آسان ښکاري هماغه ته دین وایي، او نور احکامو څخه انکار کوي، په یوه بهانه او بله بهانه. او دنیا نفع یې خپل نصب العین وګرځوله.

ددې جملې معنا دا شوه: خُضْتُمْ فِي أسباب الدنيا واللهو واللعب وَقِيلَ: فِي أَمْرِ مُحَمَّدٍ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِالتَّكْذِيبِ. ژباړه: تاسې هم ددنیا اسبابو او لهو ولعب کې مصروف شوئ، یا هم دا معنا ده چې د نبي علیه السلام تکذیب کې ورننوتلئ. دوه طریقو سره مشابهت دی. مخکني اقوام مکذبه وو د خواهشاتو څخه خپله برخه واخسته، تاسې هم واخسته، هغوی انبیاؤ پسې مسخرې کولې تاسې هم وکړې. نو ځکه دنیا او آخرت کې اعمال بربادیدو حکم کې هم تاسې هغوی سره مشابه یاست.

او ددې مشابهت څخه مقصود د معاصرو کفارو او منافقانو بدي بیانول دي.

امام ابن جریر د عَبد الله ابْنِ عَبَّاس رضي الله عنهما څخه نقل کړي دي: قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ: مَا أَشْبَهَ اللَّيْلَةَ بِالْبَارِحَةِ، {كَالَّذِينَ مِنْ قَبْلِكُمْ} هَؤُلَاءِ بَنُو إِسْرَائِيلَ، شُبِّهْنَا بِهِمْ، لَا أَعْلَمُ إِلَّا أَنَّهُ قَالَ: "وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ، لَتَتَّبِعُنَّهُمْ حَتَّى لَوْ دَخَلَ الرَّجُلُ مِنْهُمْ جُحر ضَبٍّ لَدَخَلْتُمُوهُ". تفسیر الطبري.

نن شپه څومره د بیګانۍ په شان ده، دا بني اسرائیل یادوي، مونږ د هغوی سره مشابه کړی شوي یو، یقینا نبي علیه السلام فرمایلي: قسم دی په هغه ذات چې زما روح یې په لاس کې دی، تاسې به خامخا هغوی پسې روانیږئ، تر دې که یو کس په هغوی کې د خادمۍ سوري ته ننوتلی وي نو تاسې به هم ورننوځئ.

د صحیح البخاري او مسلم حدیث کې هم راځي:

عَنْ أَبِي سَعِيدٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: «لَتَتَّبِعُنَّ سَنَنَ مَنْ قَبْلَكُمْ شِبْرًا بِشِبْرٍ، وَذِرَاعًا بِذِرَاعٍ، حَتَّى لَوْ سَلَكُوا جُحْرَ ضَبٍّ لَسَلَكْتُمُوهُ»، قُلْنَا يَا رَسُولَ اللَّهِ: اليَهُودَ، وَالنَّصَارَى قَالَ: «فَمَنْ».

ژباړه: تاسې به خامخا د پخوانیو په لار درومئ، لویشت په لویشت او ګز په ګز (به ورپسې ځئ) تر دې چې که هغوی د خادمۍ سوري ته ننوتلي وي نو تاسې به هم ورننوځئ، مونږ ورته وویل: اې د الله رسوله! یهود او نصارى (مو هدف دی). هغه وفرمایل: هو نور څوک یادوم ؟

[حَبِطَتْ أَعْمَالُهُمْ]:

اعمال یې برباد شو، ددې اعمالو څخه څه مراد دی ؟ دې نه مراد هغه اعمال دي چې دوی په ظاهر کې د نیکۍ کوم کارونه کړي دي، او دلته مذکور اعمال مراد ندي، ځکه دغه اعمال خو ګناهونه دي او ګناه اجر خو نه وي چې برباد شي.

[فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ] :

دنیا او آخرت کې بربادیدو معنا دا ده چې هر حال کې برباد دي، او بې فایدې دي، دوی ته کومه ګټه نه رسوي. یا هم دنیا کې بطلان څخه مراد دا دی چې د نیک عمل دنیاوي فایده نه ترلاسه کوي، بلکې دوی چې د کوم عمل په نتیجه کې د پراخۍ فکر کوي د هغه بدل کې ورته فقر په نصیب کیږي، او د عزت په ځای ذلت او د قوت په ځای ورته کمزوري ورپه برخه کیږي.

او آخرت کې بطلان څخه مراد دا دی چې جهنم ته به ځي، او هیڅ ډول نفع به ورته نه رسیږی، په خلاف د نورو مومنانو، چې هغوی ته به ددوی د نیکیو سترې بدلې ورکول کیږي.

[وَأُولَئِكَ هُمُ الْخَاسِرُونَ]:

همدا صفاتو والا خلک په دنیا او آخرت کې د بشپړ تاوان څښتنان دي.

[دې آیت کریمه کې د هغه مشبَه به کفارو څخه شپږ ډلو ذکر کیږي، هغه ډلې چې دې عربانو یې واقعات اوریدلي وو، ځکه دغه خلک عراق، شام او یمن اوسیدونکي وو، او دا ملکونه عربانو ته نزدې و]

أَلَمْ يَأْتِهِمْ نَبَأُ الَّذِينَ مِنْ قَبْلِهِمْ قَوْمِ نُوحٍ وَعَادٍ وَثَمُودَ وَقَوْمِ إِبْرَاهِيمَ وَأَصْحَابِ مَدْيَنَ وَالْمُؤْتَفِكَاتِ أَتَتْهُمْ رُسُلُهُمْ بِالْبَيِّنَاتِ فَمَا كَانَ

اللَّهُ لِيَظْلِمَهُمْ وَلَكِنْ كَانُوا أَنْفُسَهُمْ يَظْلِمُونَ (70)

ژباړه: آيا نه دی راغلی دوی ته خبر د هغه کسانو چې ددوی څخه مخکې وو، قوم د نوح عليه السلام او عاديانو او ثموديانو او قوم د ابراهيم عليه السلام او اوسيدونکي د مدين او اوسيدونکي د چپه کړې شوي کلو، راغلي دي دوی ته رسولان د دوی په ښکاره حکمونو سره، نو نه وو الله تعالی چې ظلم يې کړی وی په دوی باندې مگر وو دوی په خپلو ځانونو ظلم کونکي.

[أَلَمْ يَأْتِهِمْ نَبَأُ]:

مراد ترې منافقان دي، دې منافقانو ته هغه لوی شان والا خبر ندی راغلي، النبأ يې راوړو، ځکه دا هسې وړه خبره خو نده، د لوی شان والا خبره ده، دومره قومونه هلاکيدل سخته خبره ده.

اول قوم د نوح عليه السلام و، چې په اوبو سره غرق شو. دويم: عاديان وو چې په تيزې سيلی سره تباه شو. دريم: ثموديان وو چې په چيغې سره هلاک شول.

څلورم: د ابراهيم عليه السلام قوم و، چې الله عزوجل پرې ماشې مسلط کړل. پنځم: د مدين خلک او د شعيب عليه السلام قوم و، چې زلزله پرې راغله. شپږم: چپه کړی شوي کلي وو، چې دا د لوط عليه السلام د قوم سيمه وه، دوی باندې الله عزوجل د کاڼو باران وکړو. او دوی ته مؤتفکات ځکه وايي چې دا په هغوی باندې سرچپه شو، لاندې طرف يې باندې او باندې يې لاندې شو. ائتفاک د يو شي په څټ اړولو ته وايي.

هر قوم چې د رسول عليه السلام نافرماني وکړه، او کومه گناه او شرک يې کړی و، د هغوی موافق جزاء ورته وټاکل شوه. نو نن هم بايد مونږ تاسې وډار شو، چيرې دا خصلتونه مونږ کې پيدا نشي او ددغه شان سختو عذابونو ښکار نشو.

[فَمَا كَانَ اللَّهُ لِيَظْلِمَهُمْ وَلَكِنْ كَانُوا أَنْفُسَهُمْ يَظْلِمُونَ]:

الله عزوجل پدغه قومونو ظلم نه و کړی بلکې دوی ته يې رسولان ليږلي وو، هغوی خپل قومونه د شرک او د رب العالمين نافرمانۍ څخه وډار کړل، خو دوی کفر وکړو، د نبي خبره يې ونه منله، او بيا په کفر کې دومره مخکې لاړل چې د نبي تکذيب يې وکړو او ښکاره دښمنی صف کې ودريدل، نو الله عزوجل پرې عذابونه راوستل، نو جرم ددغه خلکو و، نو ځکه به يې سزا هم گالي.

[وس دويمه پله د مومنانو ذکر کوي، قرآن دا طريقه ده، چې اضداد بيانوي، ځکه وبضدها تتبين الأشياء قاعده ده، کله چې مونږ شپه وپيژنو نو بيا د هغې ضد يعنې ورځ په حقيقت خه پوهيږو]

وَالْمُؤْمِنُونَ وَالْمُؤْمِنَاتُ بَعْضُهُمْ أَوْلِيَاءُ بَعْضٍ يَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَيَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنْكَرِ وَيُقِيمُونَ الصَّلَاةَ وَيُؤْتُونَ الزَّكَاةَ وَيُطِيعُونَ اللَّهَ وَرَسُولَهُ أُولَئِكَ سَيَرْحَمُهُمُ اللَّهُ إِنَّ اللَّهَ عَزِيزٌ حَكِيمٌ (71)

ژباړه: او مومنان سړي او مومنانې زنانه، بعضې ددوی دوستان د بعضو دي، حکم کوي په نيکی سره او منع کوي د بدۍ څخه او پابندي کوي د مانځه او ورکوي زکات لره او تابعداري کوي د الله تعالی او د رسول صلی الله عليه وسلم د هغه، دغه کسان خامخا رحم کوي په دوی باندې الله تعالی، يقينا الله تعالی زورآور دی حکمتونو والا دی.

تفسير:

[وَالْمُؤْمِنُونَ وَالْمُؤْمِنَاتُ بَعْضُهُمْ أَوْلِيَاءُ بَعْضٍ]:

أَيْ: قُلُوبُهُمْ مُتَّحِدَةٌ فِي التَّوَادُدِ، وَالتَّحَابُبِ، وَالتَّعَاطُفِ بِسَبَبِ مَا جَمَعَهُمْ مِنْ أَمْرِ الدِّينِ، وَضَمَّهُمْ مِنَ الْإِيمَانِ بِاللَّهِ. [فتح القدير]

د مومنانو زړونه په مينه، محبت او شفقت کې سره يو دي، ځکه دوی ددين کار رايوځای کړي دي، او په الله ايمان يو بل سره وصل (جوخت) کړي دي.

هر چې منافقان وو هغوی فقط حکما راجمع وو، او اکثر دنياوي مفاداتو کې مشترک وي، نور د زړه مينه يو بل سره نه لري.

نو دا د مومن او مجاهد لپاره صفت دی، چې مرجف کې مفقود دی.

دې اصل ته د الولاء والبراء عقيده ويل کيږي، د مومن سره د زړه له کومې مينه، محبت او اخلاص او خيرخواهي کول. خو مرجف هميش د اسلام او مسلمانانو خپې وهي، دغه رنگ طالبان هم دي، چې تل يې د مومنانو خلاف بډ کړی خو کفر ته دوه لاسي سلامونه کوي.

[يَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَيَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنْكَرِ وَيُقِيمُونَ الصَّلَاةَ وَيُؤْتُونَ الزَّكَاةَ]:

وس الله عزوجل د مومنانو نور غوره او ځانگړي صفات ذکر کوي.

او دا د منافقانو صفات سره کاملا تضاد لري. [يَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ أَيْ: بِمَا هُوَ مَعْرُوفٌ فِي الشَّرْعِ غَيْرُ مُنْكَرٍ، وَمِنْ ذَلِكَ تَوْحِيدُ اللَّهِ سُبْحَانَهُ، وَتَرْكُ عِبَادَةِ غَيْرِهِ.] مومنان په نيکی امر کوي. او نيکی تعريف مخکې هم تير شو، چې هر هغه کار چې شريعت ورته خه ويلي وي او گناه نه وي، او تر ټولو لوی پکې د الله توحيد او د غير الله عبادت پريښودل دي. [وَيَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنْكَرِ أَيْ: عَمَّا هُوَ مُنْكَرٌ فِي الشرع غير معروف وَمِنْ ذَلِكَ الشركُ باللَّهِ سُبْحَانَهُ، وَتَرْكُ تَوْحِيدِهِ] او دوی به له هر منکر يعنې هر هغه فعل، قول او اعتقاد څخه منع کوي چې شريعت کې ورته بد ويل شوي وي، او خه کار نه وي. تر ټولو لوی منکر په الله شرک کول دي او د هغه توحيد پريښودل دي.

مومن ځانگړی صفت دا دی چې عقيده به يې جوړه وي، کفر بالطاغوت او ايمان بالله باندې به يې زړه ډک وي نو بيا نور خايسته اعمالو ته انسان سوق کيږي. بيا په معروف کې يو مهم عمل د جهاد دی.

او ضحاک داسې معنا کړې ده چې دوی به د توحيد داعيان وي، خپله به يې هم عملي کوي او بل باندې به يې هم عملي کوي. شرک دروازې به بندوي، شرکي نظامونه به د منځه وړي.

دا صفات تاسې نن سبا طالبانو کې وگورئ، آيا دوی کې د ولاء براء (مسلمان دوستي او کفر دښمني) عقيده شته ؟ آيا دوی د بين المللي کفري قوانينو څخه انکار او کفر کړی دی ؟ آيا دوی قرآن حاکم کړی ؟ آيا دوی خپله هم اقدامي جهاد کوي او نور هم ورته تشويقوي ؟ آيا دوی د شرکي مزاراتو مخنيوی کړی ؟ آيا دوی د بت پرسته هندوانو، سيکانو، او روافضو مخنيوی کړی ؟ که جواب منفي وي نو ددوی نظام هيڅکله اسلامي نشي کيدای.

بيا الله عزوجل مونځ او زکات ذکر کړي دي، نو ځکه چې اول الذکر په بدني عباداتو کې مهم عمل دی او ثاني الذکر د مالي عباداتو مهم رکن دی، ددې دواړو په راوړلو يې د بدني او مالي عباداتونو ټول جنس ته اشاره وکړه.

[وَيُطِيعُونَ اللَّهَ وَرَسُولَهُ]:

[وَيُطِيعُونَ اللَّهَ فِي صُنْعِ مَا أَمَرَهُمْ بِفِعْلِهِ أَوْ نَهَاهُمْ عَنْ تَرْكِهِ]. او دوی به د الله عزوجل خبره منې په هغه څه کې چې هغه يې د کولو حکم کړی وي، او په پريښودو د هغه څه کې چې هغه ترې منع کړې وي.

او دا صفت د منافقانو مقابل کې شو، هغوی نسوا الله، رب هير کړی وي او دوی اطاعت کوي.

آيت کريمه کې اول د ولايت ذکر وشو، چې مومنانو سره به ولاء کوي، دويم د کفر بالطاغوت عقيدې ذکر وشو، دريم د نيکو اعمالو ذکر وشو، وس وايي په ټولو افعالو کې به دا مومنان د الله او رسول اطاعت کوي. داسې نه چې کتب عليکم الصيام کې خه تکړه وي، او حديث د نسائي کتب عليکم الحج کې هم تکړه وي، خو کتب عليکم القتال کې بيا صفر وي.

[أُولَئِكَ سَيَرْحَمُهُمُ اللَّهُ إِنَّ اللَّهَ عَزِيزٌ حَكِيمٌ]:

أُولَئِكَ سره اشاره کوي هغه خلکو ته چې دا صفات پکې موجود وي، او سيرحمهم الله کې سين ددغه ژمنې د تاکيد او مبالغې لپاره راوړل شو، چې دا لوظ الله عزوجل خامخا ريښتيا کوي.

الله عزوجل عزيز دی يعنې څوک پرې زورور نشته، او حکمت خاوند دی په خپلو اقوالو او افعالو کې.

[دې آيت کريمه کې الله عزوجل د رحم تفصيل ذکر کوي او منافقانو ته يې د جهنم وعده ورکړې وه نو وس د هغوی مقابل کې مومنانو ته بشارت أخروي ذکر کوي]

وَعَدَ اللَّهُ الْمُؤْمِنِينَ وَالْمُؤْمِنَاتِ جَنَّاتٍ تَجْرِي مِنْ تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ خَالِدِينَ فِيهَا وَمَسَاكِنَ طَيِّبَةً فِي جَنَّاتِ عَدْنٍ وَرِضْوَانٌ مِنَ اللَّهِ أَكْبَرُ ذَلِكَ هُوَ الْفَوْزُ الْعَظِيمُ (72)

ژباړه: وعده کړې ده الله تعالی د مومنانو سړو او مومنانو ښځو سره د جنتونو چې بهيږي به د هغې لاندې ولې، هميشه به وي دوی په هغې کې او په ځايونو مزيدارو، په جنتونو د هميشوالي کې، او رضامنتيا د الله تعالی ډير لوی نعمت دی، دا لويه کاميابي ده.

تفسير:

[وَعَدَ اللَّهُ الْمُؤْمِنِينَ وَالْمُؤْمِنَاتِ]:

جزاء من جنس العمل وي، پختو کې وايي چې څه کړې هغه به

ریبي، دغه مومنانو داسې خایسته عقیده او اعمال درلودل نو ځکه یې په آخرت کې بدله هم خایسته او بې مثاله باغونه او بنګلې شوې.

ځکه حدیث کې رازي: عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «الدُّنْيَا سِجْنُ الْمُؤْمِنِ، وَجَنَّةُ الْكَافِرِ». صحيح مسلم.

ژباړه: دنیا د مومن زندان او د کافر جنت دی.

نن تاسې وګورئ، چې څوک د کفارو سره په دغه عارضي باغونو، سهولیاتو او د فحاشیو ډکو هوټلونو کې د لونګیو او پتکو سره مزې او چرچې کوي نو ته به حق ډېر زر درک کړې، ان شاء الله ؟ او هغه خلکو ته هم وګوره چې کفري نړۍ یې پرمخ خپلې دروازې تړلې دي، تر ټولو سخت تحریمونه او بندیزونه په چا دي، څوک نړیوالو لپاره درد سر دی، له چا څخه داریږي، څوک د خلافت دعوه لري، څوک د نبوي منهج په لار روان دي ؟ نو دا به مونږ تاسې ته څرګنده شي چې طالبان ددنیا عارضي جنت طالبان وو، او د ژوند په سهولیاتو یې د شریعت چیغې هیرې کړې، د سوچه اسلامي نظام شعارونه یې ددوحې او کریملین په مجللو هوټلونو کې د فاحشې زنانه وو سره بنداړونو له امله دماغه ووتل، او ټوله هڅه یې دا ده چې څه رنګ افغانستان هم د اروپایي هیوادونه سره په کفر او فحشاء کې سیال کړي، نعوذ بالله.

بیا دلته الله عزوجل زنانه مستقل ذکر کړي دي، ځکه مومنانو سره دوی هم عقیده او جهاد کې سخته تیروي، کله یې خاوند مسافر وي او کله زخمي کیږي، کله اسیر وي، کله شهید شي او د ټول عمر خفګان وریه برخه شي.

[تَجْرِي مِنْ تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ]:

وَمَعْنَى: أَنَّهَا تَجْرِي تَحْتَ أَشْجَارِهَا وَغُرَفِهَا. یعني دا نهرونه او ولې د جنت ونو او ماڼیو لاندې بهیږي.

[وَمَسَاكِنَ طَيِّبَةً فِي جَنَّاتِ عَدْنٍ وَرِضْوَانٌ مِنَ اللَّهِ أَكْبَرُ]:

وَمَسَاكِنَ طَيِّبَةً أَيْ: مَنَازِلَ يَسْكُنُونَ فِيهَا مِنَ الدرِّ والياقوت. ژباړه: پاک او مزیدار کورونو څخه د یاقوت او ملغلرو هغه کورونه مراد دي چې جنتیان به پکې اوسیږي.

[وَجَنَّاتِ عَدْنٍ يُقَالُ: عَدَنَ بِالْمَكَانِ: إِذَا أَقَامَ بِهِ، ومنه المعدن وقيل: هِيَ أَعْلَى الْجَنَّةِ، وَقِيلَ: أَوْسَطُهَا، وَقِيلَ: قُصُورٌ مِنْ ذَهَبٍ لَا يَدْخُلُهَا إِلَّا نَبِيٌّ، أَوْ صِدِّيقٌ، أَوْ شَهِيدٌ.]

ژباړه: د همیشوالي جنتونه، عدن لفظي معنا یو ځای کې اوسیدو څخه عبارت ده، او معدن هم ددغه مادي څخه دی. او دا هم ویل شوي: چې دا تر ټولو لوړ جنت دی. یا هم منځنۍ (غوره) جنت دی، یا دي نه هدف د سره زرو هغه بنګلې دي چې د نبي، صدیق او شهید پرته به ورته څوک نه داخلیږي.

بیا دلته یې د جنت یو څو صفات بیان کړل:

اول: لاندې نهرونه بهیږي. دویم: همیشه به پکې اوسیږي. دریم: خوندور استوګنځایونه. څلورم: همیشوالي کور. دا چې کله د عَدَن مادي څخه واخستل شي، او دا هم ویل شوي چې دا د جنت اسم عَلَم دی.

[وَالتَّنْكِيرُ فِي رِضْوَانٌ: لِلتَّحْقِيرِ، أَيْ: وَرِضْوَانٌ حَقِيرٌ يَسِيرٌ مِنْ رِضْوَانِ اللَّهِ أَكْبَرُ مِنْ ذَلِكَ كُلِّهِ الَّذِي أَعْطَاهُمُ اللَّهُ إِيَّاهُ] ژباړه: په رضوان لفظ کې تنوین د تنکیر لپاره دی، یعني د الله عزوجل لږه رضامندتیا د هغه ټولو شیانو څخه لویه ده چې الله عزوجل یې ورته ورکوي.

او دا آیت دلیل دی چې د الله رضا سره هیڅ نوعه لوي نعمت نشي برابریدای، که هغه هر ډول جسماني لذت ولري خو د رب العالمین د رضا ادنی مقدار مساوي هم نشي کیدای. [فتح القدیر]

صحیح بُخاري او مُسلِم کې د ابو سعید رضي الله عنه حدیث راغلی چې رسول الله صلى الله علیه وسلم فرمایلي: «إِنَّ اللَّهَ يَقُولُ لِأَهْلِ الْجَنَّةِ: يَا أَهْلَ الْجَنَّةِ، فَيَقُولُونَ: لَبَّيْكَ رَبَّنَا وَسَعْدَيْكَ وَالْخَيْرُ فِي يَدَيْكَ، فَيَقُولُ: هَلْ رَضِيتُمْ؟ فَيَقُولُونَ: رَبَّنَا وَمَا لَنَا لَا نَرْضَى وَقَدْ أَعْطَيْتَنَا مَا لَمْ تُعْطِهِ أَحَدًا مِنْ خَلْقِكَ، فَيَقُولُ: أَلَا أُعْطِيكُمْ أَفْضَلَ مِنْ ذَلِكَ؟ قَالُوا: يَا رَبَّنَا وَأَيُّ شَيْءٍ أَفْضَلُ مِنْ ذَلِكَ؟ قَالَ: أُحِلُّ عَلَيْكُمْ رِضْوَانِي، فَلَا أَسْخَطُ عَلَيْكُمْ بعده أبدا».

ژباړه: الله عزوجل به جنتیانو ته وایي، اې جنتیانو، هغوی به وایي: حاضر یو ربه، خیر ټول ستا په لاس کې دی، الله عزوجل به وفرمایي: آیا تاسې راضي شوئ ؟ هغوی به وایي: اې زمونږ ربه مونږ به ولې نه راضي کیږو، حال دا چې تا مونږ ته هغه نعمتونه راکړي چې هیچا ته دې ندي ورکړي، هغه به وفرمایي: آیا له دې څخه درته غوره درنه کړم ؟ هغوی به ووایي: اې زمونږ ربه! ددې څخه غوره به لا څه وي ؟ هغه به وفرمایي: زه ستاسې لپاره خپله رضامندتیا واجبوم (نازلوم)، نو ددې څخه وروسته به زه هیڅکله په تاسې نه غصه کیږم.

[ذَلِكَ هُوَ الْفَوْزُ الْعَظِيمُ]:

هُوَ الْفَوْزُ الْعَظِيمُ دُونَ كُلِّ فَوْزٍ مِمَّا يَعُدُّهُ النَّاسُ فَوْزًا. ژباړه: داستره بریا ده، پرته له هغه چې خلک یې بریا ګڼي.

او مجاهدین همدې لوي کامیابۍ پسې لګیا دي. ځکه رب چې ورته لوي کامیابي اوولیي نو دا حقیقي کامیابي ده، بندګان خو دنیا لوي کامیابي ګڼي، ځکه په مجاهدینو انتقادات کوي، ساده ګان ورته وایي، وایي دنیا یې ځان ته خرابه کړه، نه کور لري نه در لري، خو حقیقت کې دغه خلک خپله ساده ګان دي، ځکه مجاهدینو ځان لپاره ابدي کورونه جوړ کړل او دوی ځان لپاره عارضي دنیا آبادوي.

[مخکې آیتونو کې تفصیلي احوال د کفارو او منافقانو ذکر شول، وس الله رب العالمین فرمایي دغه خلکو سره جهاد پکار دی، نو امر کوي په جهاد باندې]

يَا أَيُّهَا النَّبِيُّ جَاهِدِ الْكُفَّارَ وَالْمُنَافِقِينَ وَاغْلُظْ عَلَيْهِمْ وَمَأْوَاهُمْ جَهَنَّمُ وَبِئْسَ الْمَصِيرُ (73)

ژباړه: اې نبي علیه السلام وجنګیږه د کافرانو سره او منافقانو سره او سخت شه په مقابله د هغوی کې او ځای ددوی جهنم دی او بد دی ځای د ورتللو.

تفسیر:

[يَا أَيُّهَا النَّبِيُّ جَاهِدِ الْكُفَّارَ وَالْمُنَافِقِينَ]:

دلته نبي علیه السلام ته امر دی، نو دا د هغه ټول امت ته شامل دی. بیا کفارو سره جهاد له قتال څخه عبارت دی او دا به تر هغه کیږي چې هغوی اسلام راوړي، او منافقانو سره به جهاد په حجت قایمولو سره کیږي، تر دې چې هغوی په الله سم ایمان راوړي، او منافقت پریږدي.

حافظ ابن کثیر وایي:

أَمِيرِ الْمُؤْمِنِينَ عَلِيِّ بْنِ أَبِي طَالِبٍ فرمایي: رسول الله صلى الله علیه وسلم څلورو تورو سره راغلی دی، یوه توره د مشرکانو لپاره: {فَإِذَا انْسَلَخَ الْأَشْهُرُ الْحُرُمُ فَاقْتُلُوا الْمُشْرِكِينَ} [التَّوْبَة:5] بله توره د اهل کتاب کفارو لپاره: {قَاتِلُوا الَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَلَا بِالْيَوْمِ الْآخِرِ وَلَا يُحَرِّمُونَ مَا حَرَّمَ اللَّهُ وَرَسُولُهُ وَلَا يَدِينُونَ دِينَ الْحَقِّ مِنَ الَّذِينَ أُوتُوا الْكِتَابَ حَتَّى يُعْطُوا الْجِزْيَةَ عَنْ يَدٍ وَهُمْ صَاغِرُونَ} [التَّوْبَة:29] بله توره د منافقانو لپاره: {جَاهِدِ الْكُفَّارَ وَالْمُنَافِقِينَ} [التَّوْبَة:73، التَّحْرِيم:9] او بله توره د باغیانو لپاره: {فَقَاتِلُوا الَّتِي تَبْغِي حَتَّى تَفِيءَ إِلَى أَمْرِ اللَّهِ} [الْحُجُرَات:9]

نو دا روایت تقاضا کوي چې کله منافقان خپل نفاق ښکاره کړي، بیا به ورسره په توره جنګ کیږي. همدا قول ابن جریر غوره کړی دی. [تفسیر ابن کثیر]

او عبد الله ابْنُ مَسْعُود وایي: {جَاهِدِ الْكُفَّارَ وَالْمُنَافِقِينَ} قَالَ: بِيَدِهِ، [فَإِنْ لَمْ يَسْتَطِعْ فَبِلِسَانِهِ فَإِنْ لَمْ يَسْتَطِعْ فَبِقَلْبِهِ] فَإِنْ لَمْ يَسْتَطِعْ فَلْيَكْفَهِرَّ فِي وَجْهِهِ.

ژباړه: کفارو او منافقانو سره په لاس وجنګیږه، که د لاس وسع دې نه وي په ژبه ورسره جنګ وکړه، که ددې وسع دې نه وي په زړه دې ورسره جنګ وکړه، یعني مخ (تندی) دې ورته ګونجې کړه.

وَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ: أَمَرَهُ اللَّهُ تَعَالَى بِجِهَادِ الْكُفَّارِ بِالسَّيْفِ، وَالْمُنَافِقِينَ بِاللِّسَانِ، وَأَذْهَبَ الرِّفْقَ عَنْهُمْ. وَقَالَ الضَّحَّاكُ: جَاهِدِ الْكُفَّارَ بِالسَّيْفِ، وَاغْلُظْ عَلَى الْمُنَافِقِينَ بِالْكَلَامِ، وَهُوَ مُجَاهَدَتُهُمْ. وَعَنْ مُقَاتِلٍ، وَالرَّبِيعِ مِثْلُهُ. وَقَالَ الْحَسَنُ وَقَتَادَةُ: مُجَاهَدَتُهُمْ إِقَامَةُ الْحُدُودِ عَلَيْهِمْ. وَقَدْ يُقَالُ: إِنَّهُ لَا مُنَافَاةَ بَيْنَ هَذِهِ الْأَقْوَالِ، لِأَنَّهُ تَارَةً يُؤَاخِذُهُمْ بِهَذَا، وَتَارَةً بِهَذَا بِحَسَبِ الْأَحْوَالِ، وَاللَّهُ أَعْلَمُ. [ابن کثیر]

ژباړه: ابن عباس وایي: هغه (نبي علیه السلام) ته الله عزوجل کفارو سره په توره باندې جهاد حکم کړی، او منافقانو سره په ژبه باندې، او دوی څخه یې نرمي لیرې کړې ده. ضحاک وایي: کفارو سره په توره وجنګیږه، او منافقانو ته سختې خبرې وکړه، همدا ددوی پر وړاندې جهاد دی. مقاتل او ربیع هم دغه شان تفسیر کړی. حسن بصري او قتاده وایي: دوی

سره جهاد کول پدوی شرعي حدود قایمول دي. داسې ویل کیدای شي: چې دې ټولو اقوالو کې منافات (تناقض) نشته، ځکه د احوالو متعلق کله په یو حکم سره رانیول کیږي او کله بل سره.

بیا دا منافقان په دوه قسمه دي. یو د دار الاسلام څخه خارج وي، هغوی سره په توره باندې قتال راغلی دی. دویم هغه منافقان چې دار الاسلام کې اوسیږي، که دوی ظاهر کې د خپلو افعالو بدی یې بیانوله، پښیمانتیا یې ښکاره کوله نو بیا به ورسره شریعت مطابق معامله کیږي خو توره به ترې پورته وی، لکه دې منافقانو به قسمونه کول، او که چیرې دوی په خپل کفر او نفاق کلک ولاړ وي، نو بیا یې په توره وهل فرض دي. دا یې دنیاوي حکم شو، او آخرت کې یې ځای جهنم دی.

[اوس دې ایت کریمه کې هم منافقانو ته زجر دی چې د ځان براءت لپاره د دروغو قسمونه کوي]

يَحْلِفُونَ بِاللَّهِ مَا قَالُوا وَلَقَدْ قَالُوا كَلِمَةَ الْكُفْرِ وَكَفَرُوا بَعْدَ إِسْلَامِهِمْ وَهَمُّوا بِمَا لَمْ يَنَالُوا وَمَا نَقَمُوا إِلَّا أَنْ أَغْنَاهُمُ اللَّهُ وَرَسُولُهُ مِنْ فَضْلِهِ فَإِنْ يَتُوبُوا يَكُ خَيْرًا لَهُمْ وَإِنْ يَتَوَلَّوْا يُعَذِّبْهُمُ اللَّهُ عَذَابًا أَلِيمًا فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ وَمَا لَهُمْ فِي الْأَرْضِ مِنْ وَلِيٍّ وَلَا نَصِيرٍ (74)

ژباړه: قسمونه کوي دوی په الله تعالی باندې، چې دوی څه ندي ویلي ستا په اړه، او یقینا ویلي ده دوی خبره د کفر، او کفر یې ښکاره کړی دی پس د اسلام ښکاره کولو دوی نه، او قصد یې کړی دی د هغه کار چې حاصل یې نه کړو، او بد نه ګڼي دوی مګر دا خبره چې مالدار کړل دوی لره الله تعالی او رسول د هغه (په تقسیمولو سره) د فضل د الله تعالی نه، نو که دوی توبه ویستلی وی نو دا به ددوی لپاره غوره وی او که دوی مخ واړوو نو عذاب به ورکړي دوی لره الله تعالی دردناک عذاب، په دنیا او آخرت کې، او نه به وي دوی لره په ټوله ځمکه کې څوک دوست او نه کومکې.

[يَحْلِفُونَ بِاللَّهِ مَا قَالُوا]:

کله چې دا منافقان دې کفارو سره پدې جرمونو کې شریک وبلل شول، نو هغوی قسمونه کول او انکار یې کوو.

[وَلَقَدْ قَالُوا كَلِمَةَ الْكُفْرِ وَكَفَرُوا بَعْدَ إِسْلَامِهِمْ]:

مخکې ذکر شو، چې د نبي علیه السلام سپکاوی او استهزاء کول دي.

[وَهَمُّوا بِمَا لَمْ يَنَالُوا]

دې کې یو څو تفاسیره دي: اول: دې نه مراد د منافقانو لخوا په غزوه تبوک کې د نبي علیه السلام د قتل پلان او اراده ده، چې ورته ونه رسیدل. دویم: دې منافقانو اراده کړې وه چې عبد الله بن أبي په سر باندې تاج کیږدي، او هغه دې ځای باچا وټاکل شي خو دغه کار ته ونه رسیدل. دریم: ددې نه مراد د جُلاس اراده ده چې هغه کس قتل کړي چې د هغه دا خبره یې اوریدلې وه، هغه ویلي و که نبي علیه السلام په حقه وي نو مونږ د خرو څخه هم بدتر یو. خو دغه د قتل هدف ته ونه رسیدو. خو سیرت کې راغلي چې جُلاس بن سوید بن صامت وروسته بیا ښه سړی شو، توبه یې وویستله. [ابن کثیر]

[وَمَا نَقَمُوا إِلَّا أَنْ أَغْنَاهُمُ اللَّهُ وَرَسُولُهُ مِنْ فَضْلِهِ]:

فتح القدیر کې وایي: وَمَا عَابُوا وَأَنْكَرُوا إِلَّا مَا هُوَ حَقِيقٌ بِالْمَدْحِ وَالثَّنَاءِ، وَهُوَ إِغْنَاءُ اللَّهِ لَهُمْ مِنْ فَضْلِهِ. ژباړه: دوی په هغه څه عیب لګوي، بدي یې بیانوي چې هغه د ستاینې وړ دی، چې هغه د الله تعالی لخوا د خپل فضل څخه دوی مالداره کول دي.

په مدینه کې ددې منافقانو ډیر لنډ تنګ ژوند و، د جنګونو پرته یې بل کار نه و، مدینه د مرضونو ځای و چې کله نبي علیه السلام مدینې ته راغلی نو برکتونه او پراخي راغله، مهاجرینو سره الله عزوجل د مالونو پراخي هم راوسته. نو دې منافقانو سره نبي علیه السلام ښه وکړل او دوی یې بدله په بدو سره ورکړه.

الله ورته دا مالونه خپل فضل څخه ورکړل او نبي علیه السلام وربانډې تقسیم کړل.

[فَإِنْ يَتُوبُوا يَكُ خَيْرًا لَهُمْ]:

کچیرې دوی له خپل منافقت څخه توبه وویستله او الله عزوجل ته یې رجوع وکړه نو دا ددوی لپاره ددین او دنیا دواړو لپاره غوره ده. لکه بعضې منافقانو توبه ویستلې وه، مخکې مونږ یادونه وکړه، مخشن بن حمیر او جلاس بن سوید، او ددوی اسلام بیا ډیر ښه و. او دا آیت پدې خبره دلیل دی چې دنیا کې د منافق او کافر توبه هم قبلیږي.

خو علماؤ د زندیق توبه قبلیدو په اړه اختلاف کړی دی، امام مالک وایي چې د هغه توبه نه قبلیږي ځکه د هغه د توبې صدق او کذب نه معلومیږي، هغه هر وخت کې توبه او اسلام ښکاره کوي. زندیق هغه چا ته وایي چې د منافق په څیر خپل کفر پټوي او اسلام ښکاره کوي، خو توپیر یې دا دی کله چې موقع ورته په لاس ورشي نو بیا کفر ښکاره کوي، کفر ته دعوت کوي، خو کله چې توبې دعوت ورکړل شي، دغه وخت کې د خپل کفر څخه انکار وکړي، او وایي چې ما هیڅ ډول کفر ندی کړی نو توبه ولي وباسم.

[وَإِنْ يَتَوَلَّوْا يُعَذِّبْهُمُ اللَّهُ عَذَابًا أَلِيمًا]:

او کچیرې دوی د توبې او ایمان راوړلو څخه مخ واړوو، الله عزوجل به ورته په دنیا کې د قتل او اسارت درد ناک عذاب ورکړي، او په آخرت کې به یې جهنم ته ګزار کړي. او هیڅوک به یې خوشې کونکی یا ملاتړی نه وي.

[دې دوه آیتونو کې د منافقانو نور صفات قبیحه ذکر کیږي، چې الله عزوجل سره لوظ وکړي یا د هغه په نوم نذر وکړي خو بیا یې نه پوره کوي]

وَمِنْهُمْ مَنْ عَاهَدَ اللَّهَ لَئِنْ آتَانَا مِنْ فَضْلِهِ لَنَصَّدَّقَنَّ وَلَنَكُونَنَّ مِنَ الصَّالِحِينَ (75)

ژباړه: او بعضې ددوی څخه هغه څوک دي چې لوظ یې کړی دی الله تعالی سره که رایې کړو مونږ ته د خپل فضل څخه نو خامخا مونږ به صدقې کوو او خامخا د نیک عمل کوونکو څخه به شو.

تفسیر:

[مِنْ فَضْلِهِ]:

فضل څخه مراد مال دی. مال حقیقت کې هم د الله فضل دی خو منافق ته یواځې همدا مال ښکاري نور دیني انعامات ورته فضل نه ښکاري. ځکه دغه خلکو به یواځې د مال غوښتنه کوله.

[لَنَصَّدَّقَنَّ]:

مونږ به صدقې ورکوو، دلته فرضي زکات سره سره نفلي صدقات هم مراد دي. د عمل څخه مخکې به یې باټې وهلې خو د عمل پر وخت به بیا هیڅ هم نه و. لکه طالبانو به د واک څخه مخکې د اسلامي نظام راوستلو چیغې وهلې خو د امریکا لخوا مشروط واک سپارلو څخه وروسته یې اسلامي نظام نفاذ څخه انکار وکړو.

[وَلَنَكُونَنَّ مِنَ الصَّالِحِينَ]:

او دې منافقانو به خپله نیکي او تقوا د مال پورې تړله، چې مونږ الله عزوجل مالداره کړي نو مونږ به بیا د نیکانو، صالحینو، واجبات ادا کونکي او محرماتو څخه ځان ساتونکي بندګان شو.

فَلَمَّا آتَاهُمْ مِنْ فَضْلِهِ بَخِلُوا بِهِ وَتَوَلَّوْا وَهُمْ مُعْرِضُونَ (76)

ژباړه: نو هر کله چې ورکړو دوی ته الله تعالی د خپل فضل څخه (څه مال) نو بخل وکړو دوی په هغې سره او وګرځیدل (د لوظ خپل نه) او دوی مخ اړونکي دي.

تفسیر:

[فَلَمَّا آتَاهُمْ مِنْ فَضْلِهِ بَخِلُوا بِهِ]:

کله چې ورته الله عزوجل له خپل فضل څخه مالونه ورکړل، مالداره شول، بیا یې بخل شروع کړو، ځانونه یې پرې کلک کړل، د خپل لوظ موافق یې هیڅ صدقه نه کوله. خپل قسمونه یې مات کړل. لکه بني اسرائیلو چې خپل نبي ته ویل چې د جهاد د فرضیت دعا وغواړه، چې مونږ جهادونه وکړو، چې کله بیا فرض شو نو بیا په شا شول. نو نن سبا جاهلان کې هم د منافقانو او بني اسرائیلو خوی راغلی دی.

[وَتَوَلَّوْا وَهُمْ مُعْرِضُونَ]:

هغوی د الله د اطاعت څخه مخ واړوو، او د خپلو مالونو څخه صدقې ورکولو څخه واوریدل، او دا ددوی دایمي صفت دی چې مخکې د مالداری هم اعراض کوي او وروسته د مالداری هم مخ اړوي.

[اوس دې آیت کریمه کې د منافقانو د بخل جزا ذکر کیږي]

فَأَعْقَبَهُمْ نِفَاقًا فِي قُلُوبِهِمْ إِلَى يَوْمِ يَلْقَوْنَهُ بِمَا أَخْلَفُوا اللَّهَ مَا وَعَدُوهُ وَبِمَا كَانُوا يَكْذِبُونَ (77)

ژباړه: نو پیدا کړو الله تعالی منافقت په زړونو ددوی کې تر هغه ورځ پورې چې مخامخ به شي دوی د هغه سره، په دې وجه چې خلاف کړی دی دوی د الله نه، د هغې وعدې چې د هغه سره یې کړې ده، او په دې وجه چې دوی دروغ ویل.

تفسیر:

[فَأَعْقَبَهُمْ نِفَاقًا فِي قُلُوبِهِمْ إِلَى يَوْمِ يَلْقَوْنَهُ]:

د دوی په زړونو کې تر قیامته نفاق چا پیدا کړو، دا فاعل څوک دی :

اول: الله عزوجل ددوی په زړونو کې نفاق پیدا کړو، ځکه دوی بخل کړی و، خپلو لوظونو څخه وګرځیدل، نو همیش لپاره یې زړونه د نفاق په مرض اخته شو تر دې چې الله عزوجل سره مخامخ شي. دویم: دلته ضمیر د فاعل نفاق ته راجع دی، دې بخل ددوی په زړونو کې نفاق پوخ کړ تر دې چې قیامت کې ددغه بخل سره مخامخ شي، یعني د بخل جزاء سره مخامخ شي.

[اوس دې آیت کریمه کې هم منافقانو ته ددوی په دوه مخي پالیسي باندې زجر بیانیږي]
أَلَمْ يَعْلَمُوا أَنَّ اللَّهَ يَعْلَمُ سِرَّهُمْ وَنَجْوَاهُمْ وَأَنَّ اللَّهَ عَلَّامُ الْغُيُوبِ (78)
ژباړه: آیا دوی نه پوهیږي چې یقینا الله تعالی پوهیږي په پټو خبرو ددوی او په جرګو ددوی او یقینا الله تعالی ښه پوهیدونکی دی په ټولو غیبونو باندې.

تفسیر:

[أَنَّ اللَّهَ يَعْلَمُ سِرَّهُمْ وَنَجْوَاهُمْ]:

أَيْ: جَمِيعَ مَا يُسِرُّونَهُ مِنَ النِّفَاقِ، وَجَمِيعَ مَا يَتَنَاجَوْنَ بِهِ فِيمَا بَيْنَهُمْ مِنَ الطَّعْنِ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى الله عليه وَسَلَّمَ، وَعَلَى أَصْحَابِهِ، وَعَلَى دِينِ الْإِسْلَامِ. [فتح القدير]

دوی چې کوم نفاق پټوي، په خپلو مجالسو کې په پټه نبي علیه السلام، صحابه وو او اسلام پسې بد رد وایي، پدې ټولو باندې الله عزوجل خبر دی.

د نني عصر مرتد طالبانو لپاره هم دلته زجر بیان شوی، چې منافقانو په څیر د کفارو مجلسونو کې د اسلام خلاف تړونونه کوئ، ددوحې توافق نامې سره پټې ضمیمې هم امضاء کوئ، نو الله عزوجل ګورې ستاسې په ټولو کړونو خبر دی، هیڅرې ترې نشئ پټیدای، او هغه زورور ذات دی، مهلت به درکړي، خو بیا رانیول یې هم ډیر سخت دي.

[وَأَنَّ اللَّهَ عَلَّامُ الْغُيُوبِ]:

دلیل دی پدې خبره چې نبي علیه السلام عالم الغیب نه و، ځکه په پټو خبرو او جرګو ستاسې باندې خبر نه لري.

[دې آیت کریمه کې هم د منافقانو نور بد صفات ذکر دي چې مومنانو حوصله شکني کوي، د عمل جذبه یې خرابوي، مخکې ذکر شو چې د رومیانو قوت او تجربه او ټیکنالوجی څخه یې مسلمانان ډارول او وس د هغوی لخوا جهاد سره مالي مرستې څخه یې خرابوي، ځکه اقتصاد خو د جهاد مهم رکن دی.]

الَّذِينَ يَلْمِزُونَ الْمُطَّوِّعِينَ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ فِي الصَّدَقَاتِ وَالَّذِينَ لَا يَجِدُونَ إِلَّا جُهْدَهُمْ فَيَسْخَرُونَ مِنْهُمْ سَخِرَ اللَّهُ مِنْهُمْ وَلَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ (79)

ژباړه: (دا منافقان) هغه کسان دي چې عیب لګوي په رغبت کونکو د مومنانو څخه په صدقو ورکولو کې او هغه کسان چې نه مونده کوي هغوی مګر مزدوري خپله نو دوی مسخرې کوي هغې پورې، الله تعالی سزا د مسخرو به ورکړي دوی لره، او دوی لره عذاب دی دردناک.

تفسیر:

[الَّذِينَ يَلْمِزُونَ الْمُطَّوِّعِينَ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ فِي الصَّدَقَاتِ]:

منافقانو به د جهاد مخنیوي په پار فکري جګړه کوله، چې د تبلیغاتو او پروپاګند څخه عبارت وه، مومنانو زړونه به یې ماتول، ټوقې به یې کولې. کومو صحابه وو به چې مال زیات راوړو، وایي مړه دا خو ریاکار دی او کومو به چې د لاس مزدوري کوله او لږې غونډې قجورې به یې راوړې نو دوی به ویل پدې یو کیلو قجورو باندې روم فتحه کوي.

نو دغه رنګ صحابه وو باندې طعن کونکي خلک منافقان او زندیقان دي، لکه روافض. او نن سبا مرجفین. لهذا مجاهدین به د خلکو خنداګانو، ټوقو او استهزا ته نه ګوري، بس چې کتاب وسنت باندې سم تللي نو تا پسې به خامخا ټوقې کیږي، په تا به ملنډې وهل کیږي. نبي علیه السلام پسې به د قریشو اوباشانو د مکې په کوڅو، د مکې بازارونو، میلو او حتی بیت الله کې به یې وریپسې ټوقې کولې، ذات پسې به یې هم ټوقې کولې، دین او شعائر الله پسې به یې هم ټوقې کولې، دغه رنګ منافقانو به صحابه وو پورې ټوقې کولې، نو دا هم د فکري جګړې یو مهم اصل دی، باید مونږ تاسې ورته متوجه واوسیږو.

[سَخِرَ اللَّهُ مِنْهُمْ وَلَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ]:

الله عزوجل به ورته دنیا کې هم د ټوقو جزا ورکړي، چې دوی به ذلیله کړي، سپک به یې کړي، اسلامي نظام به غالبه شي او دا منافقان او مرجفین به بیا ګوته په غاښ پاتې شي. ان شاء الله. او د آخرت عذابونه خو بیا دایمي او ابدي دي.

[مخکې د منافقانو زیات شمیر صفات ذکر شو، تقریبا ٦٠ مختلف صفات، عادات، چلونه او د فکري جګړې طریقې یې ذکر شوې، وس دلته الله عزوجل نتیجه بیانوي چې الله عزوجل دوی هیڅ کله نه ښښي، ولو که نبي علیه السلام هم ورله ښښنه وغواړي]
اسْتَغْفِرْ لَهُمْ أَوْ لَا تَسْتَغْفِرْ لَهُمْ إِنْ تَسْتَغْفِرْ لَهُمْ سَبْعِينَ مَرَّةً فَلَنْ يَغْفِرَ اللَّهُ لَهُمْ ذَلِكَ بِأَنَّهُمْ كَفَرُوا بِاللَّهِ وَرَسُولِهِ وَاللَّهُ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الْفَاسِقِينَ (80)
ژباړه: که بخښنه غواړې ته دوی لره، او که نه غواړې بخښنه دوی لره (یو شان ده) که ته بخښنه وغواړې دوی لره اویا ځله نو هیڅرې بخښنه نه کوي الله تعالی دویته، دا په دې وجه چې دوی کفر کړی دی په الله تعالی او په رسول د هغه او الله تعالی توفیق د هدایت نه ورکوي قوم نافرمانو ته.

تفسیر:

[اسْتَغْفِرْ لَهُمْ أَوْ لَا تَسْتَغْفِرْ لَهُمْ إِنْ تَسْتَغْفِرْ لَهُمْ سَبْعِينَ مَرَّةً فَلَنْ يَغْفِرَ اللَّهُ لَهُمْ]:

دا آیت کریمه د منافقانو په اړه نازل شوی، الله عزوجل خپل خوږ نبي علیه السلام ته خبر ورکوي چې دې منافقانو په اړه زه ستا د مبارکې خولې څخه راوتلی استغفار هم نه قبلوم، دوی د ښښنې لایق نه دي، دوی کې د ښښنې صفات نشته، دا هغه خلک دي چې د اسلام په جامه کې یې د اسلام بیخ کندې کړې ده، ټول عمر یې د مسلمانانو صف له بیخه پرې کولو په پار هڅې کړې دي، نن چې مړ شوی دی نو څنګه ورته الله عزوجل ښښنه وکړي.

دا آیت د هغه آیت په څیر دی: [قُلْ أَنْفِقُوا طَوْعاً أَوْ كَرْهاً لَنْ يُتَقَبَّلَ مِنْكُمْ] ته ورته اووایه که تاسې په خوښه یا په زور انفاق وکړئ خو هیڅرې به له تاسې څخه قبول نشي.

دې آیت کریمه کې مقصود دا دی چې منافقانو ته الله عزوجل ښښنه نه کوي، نور دا هدف ندی چې نبي علیه السلام ورله ٧١ کرت ښښنه وغواړي نو بیا به یې الله عزوجل وبښي، لکه دا د اعدادو اصول دي، هدف پکې مبالغه وي. عربانو به د ډیر والي په اړه داسې خبره کوله. معنا دا شوه که نبي علیه السلام ددوی لپاره بیخي زیات استغفار هم وغواړي بیا یې هم الله عزوجل نه ښښي.

بعضې فقهاؤ ویلي دي چې دغه مخصوص عدد قید لګول زیادت هم قبلوي، یعني که نبي علیه السلام ٧١ کرت ښښنه ورله وغواړي نو الله به دا منافقان وبښي. او دلیل پدې مخکې راروان دی، د عبد الله بن أبي د جنازې پر وخت نبي علیه السلام عمر رضي الله عنه ته دا خبره کړې وه.

بیا دا اویا (٧٠) عدد الله عزوجل ولې ذکر کړی دی ؟

علماؤ ددې مختلف جوابونه کړي دي، چا ویلي دي چې دا د اووه (٧) عدد د عزت والا عدد دی. ځکه آسمانونه، ځمکې، بحرونه، سیارې، د انسان اندامونه، د هفتې ورځې وغیره ټول اووه دي. بیا لکه څنګه چې یوه نیکي په لسه ده نو اووه چې لس چنده کړی اوویا ترې جوړیږي. مراد ترې زیادت دی.

یا چا دا ویلي دي چې اوویا (٧٠) عدد یې ځکه ذکر کړی چې نبي علیه السلام خپل کاکا حمزه رضي الله عنه جنازې باندې اوویا تکبیرونه کړي و، اشاره ده دې ته چې که د حمزه رضي الله عنه په شان اوویا تکبیرونه پرې وکړې بیا هم دا منافقان نه بښم.

[ذَلِكَ بِأَنَّهُمْ كَفَرُوا بِاللَّهِ وَرَسُولِهِ وَاللَّهُ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الْفَاسِقِينَ]:
د نه ښښنې علت په الله او رسول دایمي کفر دی. او د توبې او هدایت توفیق ورته الله عزوجل ځکه نه ورکوو، چې دوی سرکشه وو، د الله ددین پولو څخه تجاوز کونکي وو، طلب پکې نه و، خپل ناسم کار یې قصدا سم بولو، په شعوري ډول یې د اسلام خلاف کارونه کول.

او هدایت څخه مراد دلته هدف ته رسول مقصود دي، نور بیان د سمې لارې خو الله عزوجل کتاب او سنت کې د هر چا لپاره په واضحه توګه کړی دی.

نثر اللؤلؤ والمرجان

في سلسلة معرفة الرحيم الرحمان

اتم درس

الحمد لله رب العالمين والصلاة والسلام على رسوله الأمين وعلى أزواجه وأصحابه ومن تبعهم في إحسان إلى يوم الدين أما بعد:

محترمو مسلمانو ورونو او خويندو!

مخکې د عقيدې په ذکر شوي بحث کې مونږ د لوی الله عزوجل په توفيق سره د الله تبارک د عرش په اثبات کې د سليم فطرت او عقل نه هم دلائل ذکر کړل، او دغه ډول مو د معتمدو علماؤ د اسلام نه هغه فتوې هم ذکر کړې چې د هغه چا تکفير يې واجب گڼلو چې هغه د الله تبارک وتعالی له عرش نه انکار کوي.

اوس دې درس کې د عرش نور مبادي مسايل لکه مخلوق والی د عرش، وزن او لوی والی د عرش او د دې متعلق نور مسائل ذکر کوو.

ضوء الشروق

بإثبات الدلائل على أن العرش مخلوق

اول خو بايد د هر مسلمان په زړه، ذهن او دماغو کې دا عقيده وي چې هر هغه شی چې د الله تعالی او د هغه د ذاتي صفاتو نه بغير وي نو هغه مخلوق دی، او عرش هم چونکه د الله په پيدا کړل شويو موجوداتو کې دی نو دا هم مخلوق دی. ځکه دا الله تبارک وتعالی له خپلو مربوباتو څخه گرځولی دی فرمايي: {وهو رب العرش العظيم} او دا خبره د دوه فايدو لپاره کوو:

(۱) ځکه چې بعضې خلک د عرش نه خپله الله مراد کوي، لکه د فلاسفه وو دغه نظريه ده چې عرش خپله خالق او صانع د عالم دی، وگوره [العرش لابن ابی شيبة ص۷۰]

(۲) فايده دا ده چې بعضې انسانان د دې د لوی والي اندازه ووينې کوم چې به وروسته ان شاءالله ذکر شي، نو ممکن زړه کې يې راشي چې دا به مخلوق نه وي، نو د دې وجې نه مونږ لازم گڼو چې د عرش د تعريف نه مخکې دا ذکر کړو، چې عرش دا يو مخلوق دی د الله د مخلوقاتو څخه ځکه دا د الله په کتاب او د رسول الله صلی الله عليه وسلم په احاديثو کې د مربوب په صفت سره ذکر شوی او دا بديهي ده چې هر مربوب هغه مخلوق وي، نو عرش هم مخلوق دی.

محدّث بن أبي شيبه رحمه الله د عرش متعلق د قرآن اياتونه ذکر کوي او بيا فرمايي: ففي هذه الآيات نرى أن الله أخبر عن العرش بما يدل على أنه مخلوق من مخلوقات الله، وذلك بوصفه له بأنه مربوب، ومعلوم أن كل مربوب مخلوق.

ژباړه: پس په دې اياتونو کې مونږ وينو چې بې شکه الله تعالی خبر ورکړی د عرش نه په هغه څه سره چې هغه دليل دی په دې چې بې شکه دغه عرش مخلوق دی د مخلوقاتو د الله نه، او دا ځکه چې د هغه يې دا صفت ذکر کړی چې دا مربوب دی، او دا خبره معلومه ده چې هر مربوب هغه مخلوق وي.

[العرش لابن أبی شيبة ص۵۷].

حافظ بن حجر رحمه الله د {وهو رب العرش العظيم} په شرح کې فرمايي: إشارة إلى أن العرش مربوب، وكل مربوب مخلوق ...وفي إثبات القوائم للعرش دلالة على أنه جسم مركب له أبعاض وأجزاء، والجسم المؤلف محدث مخلوق.

ژباړه: او په دې ايت کې اشاره ده دې ته چې بې شکه عرش دا مربوب دی او هر مربوب هغه مخلوق وي ..او بيا فرمايي: او اثبات د پښو د عرش دلالت کوي په دې چې دا (عرش) يو مرکب جسم دی دا حصې او اجزاء لري او داسې جسم چې مرکب وي نو هغه پيدا او مخلوق وي. [فتح البارى ۱۳/۴۰۵]

عزتمندو! خلاصه دا چې د عرش په مخلوقيت محدث ذهبي رحمه الله د امت د سلفو او أئمه وو اتفاق نقل کړی. [العرش ص۱/۳۰۷]

الوضوح والبيان على أن العرش أثقل الأوزان

سره له دې چې دا بيا په مخلوقاتو کې د اسمانونو او ځمکو او هر څه چې په دې دواړو کې دي د هغې نه غټ او وزمين دی، شيخ الاسلام رحمه الله د دې متعلق د يو حديث په شرح کې فرمايي: فهذا يبين أن زنة العرش أثقل الأوزان.

ژباړه: دا حديث دا وضاحت کوي چې وزن د عرش په ټولو اوزانو کې ډير درونږ وزن دی. [الرسالة العرشيه ص ۸]

علامه ذهبي رحمه الله د عرش د لوي والي متعلق فرمايي: ثالثا العرش أكبر المخلوقات وأعظمها وأثقلها.

إن عرش الرحمن تبارك وتعالى يعتبر أكبر مخلوقات الله وأوسعها وأعظمها على الإطلاق. ژباړه: دريم دا چې عرش دا په ټولو مخلوقاتو کې لوی، غټ او درونږ مخلوق دی، بې شکه د رحمن تبارک وتعالی ذات عرش د اعلی الاطلاق ډير لوی پراخ او غټ مخلوق د الله دی.

بيا وروسته فرمايی:

وعظم العرش وسعة خلقه قد دل عليهما القرآن والسنة، فالله سبحانه وتعالى يقول في محكم التنزيل: {رب العرش العظيم} او لوی والی د عرش او پراخ والی د هغه په دې قران او سنت دواړه دلائل دي، الله سبحانه وتعالی فرمايي: او هغه (الله) رب د لوی عرش دی. [۱/۳۲۷]

نو د عرش د غټ والی متعلق خو ډير روايات راغلي خو يو دوه به ترينه ذکر کړو، اوږد حديث دی، ابو داود او ابن ماجه رحمهماالله په خپلو سننو کې راوړی دی، عباس رضي الله عنه د حديث راوي دی، رسول الله عليه وسلم په کې د عرش لوی والی داسې ذکر کړی فرمايي: (ثم علىظهورهم العرش مابين أسفله وأعلاه مثل ما بين سماء إلى سماء،ثم الله تبارك وتعالى فوق ذلك)

ژباړه: بيا د دې ملايکو په شاگانو عرش دی چې (د دې عرش) پاس او لاندې (يعنې پلن والی) لکه د يو اسمان نه تر د بل اسمانه دومره دی بيا الله تبارک وتعالی د هغې نه پاس دی. [سنن أبي داود رقم الحديث ۴۷۲۳]، [سنن ابن ماجه ۱۹۳]

دا صرف د عرش د پلن والی اندازه ده نور خپله عرش څومره دی راشئ د دې اندازه په دې حديث کې وگورئ، د ابوذر الغفاري رضي الله عنه مشهور حديث دی صحيح ابن حبان راوړی خلاصه دا چې رسول الله صلی الله عليه وسلم هغه ته د الله د کرسۍ او د عرش د لوی والی متعلق فرمايي: يا (أبا ذر ما السماوات السبع مع الكرسي إلا كحلقة ملقاة بأرض فلاة وفضل العرش على الكرسي كفضل الفلاة على الحلقة).

ژباړه: نه دي دغه اوه ۷ واړه اسمانونه په مقابل د کرسۍ (د الله) کې مگر په مقدار د يو بنگړي چې په يو صحرا ځمکه کې غورځول شوي وي او بيا زيات والی (يعنی لوی والی) د عرش په کرسۍ باندې (بيا دومره

دی) لکه څنګه چې دغه صحرا ځمکه په یو بنګرې باندې زیاته وي. [صحیح ابن حبان رقم الحدیث ۳۶۱]

الله اکبر کبیرا، سبحان الله بکرة وأصیلا.

عزتمندو عرش د الله تبارک وتعالی یو مخلوق دی د هغه تعالی د مخلوقاتو څخه خو عظمت او لوی والی یې وګورئ زمونږ رب د دومره لوی مخلوق خالق دی چې د عرش د دې عظیم خالق نه رعب او یره د انسان زړه ته داخلیږي د داسې رب نه حیا پکار ده، د داسې رب نه ویره پکار ده، د داسې رب تعظیم، عبادت او وقار پکار دی. الحمد لله رب العالمین.

بیا دا هم وګورئ چې د دغه عظیم عرش لپاره د دې باروونکي او حمل کوونکي ملائکې هم الله تبارک وتعالی ډیرې غټې پیدا کړي دي.

جابر بن عبد الله د نبي صلي الله عليه وسلم نه نقل کوي چې هغه وفرمایل : (أذن لي أن أحدث عن ملك من ملائكة الله من حملة العرش أن ما بين شحمة أذنه إلى عاتقه مسيرة سبعمائة عام).

ژباړه: ماته (د الله له طرف نه) اجازه وکړې شوه چې زه د عرش باروونکو ملایکو څخه د یوې ملائکې باره کې تاسو ته خبر درکړم او هغه دا چې بې شکه د هغې د غوږ د نرمۍ نه د هغې د غړې پورې د اوه سوه ۷۰۰ کاله مزل دی.

[سنن أبي داود رقم الحديث ۴۷۲۷] نو اوس د دې نه اندازه د عرش معلومه کړئ چې دا ټول دلائل دي په لوی والی د عرش د الله تبارک وتعالی.

بدء الخالق والمعبود
بنشأة اول المخلوق والموجود

اوس طردا للباب د ژور مناسبت په بناء سره پکار ده چې دا هم واضحه کړو چې عرش څه وخت الله پیدا کړی، نو په دې باره کې هم اقوال مختلف دي سره د ذکر کولو د راجح قول نه په دې کې راځو او بتوفیق الله تعالی دغه بحث ذکر کوو.

د أمت علماء په دې کې اختلاف کوونکي دي چې الله متعال اول په مخلوقاتو کې څه شی پیدا کړی.

نو (القول الأول) (۱) یو قول دا دی چې اول الله پیدا کړی نو هغه قلم دی ځکه د عبادة بن الصامت رضی الله عنه حدیث کې راځي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: إن أول ما خلق الله القلم فقال له: اكتب،......

ژباړه: بې شکه اول هغه چې الله (د مخلوقاتو څخه) پیدا کړو هغه قلم وو پس ورته یې امر وکړو چې ولیکه ....[سنن ابی داود رقم الحدیث ۴۷۰۰]، او دا قول د مفسر امام ابو جعفر الطبري او ابن الجوزي ابو عروبه الحراني او د ابو قاسم الطبراني رحمهم الله دی. [تاریخ الطبری ۱/۳۶] [البدایه والنهایه ۱/۸] [توضیح المقاصد وتصحیح القواعد ۱/۳۵۷] [والعرش لابن ابی شیبة ص ۷۲] .

د دوی استدلال دا دی چې دلته رسول الله صلی الله علیه وسلم اول پیدا کیدونکی مخلوق قلم ښودلی دی، بغیر له استثنی نه نو د رسول الله صلی الله علیه وسلم حدیث ته ترجیح ورکول غوره او بهتر دي.

۲ القول الثانی: دویم قول دا دی چې اول چې الله تبارك وتعالی پیدا کړی نو هغه اوبه دي دوی هم دې باب کې بعضې روایات پیش کوي مثلا دا چې د ابو رزین مرفوع روایت دی چې

أن الماء خلق قبل العرش.

ژباړه: بې شکه اوبه د عرش نه هم مخکې پیدا شوي دغه ډول حافظ په فتح الباري کې د سدي په حوالې سره نقل کړی چې هغه په خپل تفسیر کې په ګڼو سندونو سره دا حدیث نقل کړی چې أن الله لم يخلق شيئا مما خلق قبل الماء.

ژباړه: بې شکه الله نه دی پیدا کړی هیڅ شی چې دا یې پیدا کړی وي مخکې له اوبو نه. [فتح الباري ۶/۲۸۹]

د دې قول والا بیا د لومړي قول والا نه دا جواب کوي چې د قلم پیدایش چې لومړی شوی نو د دې مطلب دا دی چې دا لومړی پیدا شوی خو په نسبت سره هغه مخلوقاتو ته چې د اوبو او عرش نه بعد پیدا شوي مطلق أولیة نه دی مراد. [فتح الباری ۶/۲۸۹]

(۳القول الثالث) دریم قول هغه دا دی چې الله له مخلوقاتو څخه لومړی څه پیدا کړي نو هغه تیاره او رڼا ده او دا قول ابن جریر ابن اسحاق ته منسوب کړي. [العرش للذهبی ۱/۳۱۱]

(۴القول الرابع) څلورم دا دی چې لومړی مخلوق چې الله متعال پیدا کړی هغه عرش دی، د دوی دلیل هغه د صحیح مسلم هغه حدیث دی چې په سند سره یې له عمرو بن العاص رضی الله عنه نه مرفوعاً نقل کړی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: (كتب الله مقادير الخلائق قبل أن يخلق السموات والأرض بخمسين ألف سنة، قال: وعرشه على الماء)

ژباړه: الله پنځوس زره کاله مخکې د ټولو مخلوقاتو تقدیرونه ولیکل مخکې د دې نه چې اسمانونه او ځمکې پیدا کړي او ویې فرمایل: چې عرش د الله په اوبو باندې وو [رقم الحدیث ۴۸۰۳] او دا قول د شیخ الاسلام بن تیمیه الحرّاني دی، او دا یې د جمهورو سلفو قول ګڼلی دی. [مجموع الفتاوی۲۱۳/۱۸]

دا د علامه بن القیم رحمه الله قول هم دی، [اجتماع الجیوش الإسلامیة ص ۲۵۳]

د علامه ابن کثیر رحمه الله هم دی [البدایة والنهایة ۱/۹] د علامه بن ابی العز الحنفي رحمه الله هم دی [شرح العقیدة الطحاویة ص۲۵۹]

د علامه ذهبي رحمه الله هم دی [العرش ۱/۳۱۳]

د حافظ ابن حجر رحمه الله میلان هم دی ته ښکاري او دا یې د أبي العلاء الهمداني نه نقل کړی چې دا د جمهورو أهل علمو قول دی [فتح الباري ۶/۲۸۹] د دوی استدلال دا دی دوی فرمایي: چې دغه د عمرو بن العاص حدیث کې تصریح شوې، په دې چې تقدیر د مخلوقاتو وروسته د پیدایش د عرش نه شوی او د عبادة په حدیث کې تصریح په دې ده چې تقدیر د قلم د پیدایش سره فوراً شوی. نو دلیل شو په دې چې قلم وروسته پیدا شوی له عرش نه او کوم چې د دویم قول والا اعتقاد دی، چې اوبه اول پیدا شوي نو علامه ذهبي رحمه الله د هغې نه جوابونه داسې کوي.

وأما القول الثاني (أن الماء أول المخلوقات) واستدلال ابن حجر بحديث أبي رزين (أن الماء خلق قبل العرش) فغير صحيح، لأنه لم يرد في حديث أبي رزين هذا اللفظ، وإنما ورد فيه (ثم خلق عرشه على الماء) وليس في هذا ما يدل على أولية الماء.

ژباړه: او دویم قول والا چې هغوی وایي اوبه اول له مخلوقاتو څخه دي نو د دې لپاره د ابن حجر استدلال د ابو رزین نه چې أن الماء خلق قبل العرش دا صحیح نه دی ځکه چې د ابو رزین په حدیث کې دغه لفظ نه شته بلکې په هغې کې داسې دي چې بیا یې عرش د اوبو له پاسه پیدا کړو نو دا په اول والی د اوبو د پیدایش دلالت نه کوي، او د سدی د روایاتو نه جواب داسې کوي فرمایي:

وأما ما رواه السدي فهو أيضا لا يصلح للاحتجاج لكونه أثرا ولم يثبت عن النبي صلى الله عليه وسلم ما يدل على ذلك.

ژباړه: او هغه کوم (روایت چې دې باره کې سدي په ګڼو سندونو) ذکر کړي نو هغه هم د استدلال لپاره وړ نه دي، ځکه چې یو خو اثر دی او بل د نبي صلي الله علیه وسلم نه داسې څه نه دي ثابت چې په دې دلیل وګرځي.

بیا د دریم قول نه جواب داسې کوي.

وأما القول الثالث: وهو قول ابن إسحاق فهو أيضا غير صحيح، ولعله أخذه من الإسرائيليات كما أخذ غيره من الأمور.

ژباړه: او بهر حال کوم چې دریم قول دی چې هغه د ابن اسحاق دی نو هغه هم صحیح نه دی. او کیدی شي چې دا یې د اسرائیلیاتو نه اخذ کړی وي. لکه څنګه یې چې نور بعضې أمور د هغوی نه أخذ کړي، وګوره [العرش للذهبی ۱/۱۱۳]

رفع الأعذار في ذكر الخلاصة والاختصار

د الله تبارک وتعالی په مخلوقاتو کې د اول مخلوق او موجود په باره کې د اهل علمو دغه پورته ذکر شوی اختلاف سره د دلائلو د هغوی تاسو ولیده چې د دلیل په اعتبار سره هغه څلورم قول راجح معلومیږي، او همدا د جمهور اهل علمو قول دی کوم چې شیخ الاسلام او ابن حجر رحمه الله نقل کړی چې الله تبارک وتعالی عرش اول پیدا کړی دی او دغه زړه ته هم ډیره کوزیږي. او د بعضو نورو احادیثو نه هم دغې طرف ته رجحان ښکاري والله اعلم بالصواب.

لکه حدیث د عمران بن حصین چې هغې کې دي چې "كان الله ولم يكن شيء قبله، وكان عرشه على الماء الله وو او هیڅ شی د ده نه مخکې نه وو او عرش د الله په اوبو باندې وو. [صحیح البخاري رقم الحدیث ۲۹۷۰]

توفيق الرب العظيم
ببدء معرفة العرش الكريم

اوس راځو

د عرش کلمې د تعریف او معنا متعلق چې علماوو څومره وضاحت کړی د الله تبارک وتعالی په خاص توفیق سره هغه ستاسو مخې ته عرض کوو.

(اول) د عرش لغوي معنا

مشهور د لغة امام علامه ابن فارس فرمایي: دغه د (ع) (ر) (ش) ماده دا دلالت کوي په اوچت والی د شی.

[معجم مقاییس اللغة ۴/۲۶۴]
او دغه عرش بیا د عربو په کلام کې په ډیرو معنا ګانو سره راځي.
(۱) عرش د تخت په معنا هم راځي
علامه خلیل نحوی فرمایي: العرش سرير الملك عرش دبادشاه تخت ته وایي. [کتاب العین ۱/۲۴۹] علامه الأزهری رحمه الله فرمایي والعرش في كلام العرب: سرير الملك، يدلك على ذلك سرير ملكة سبأ، سماه الله جل وعز عرشا فقال: {إني وجدت امرأة تملكهم وأوتيت من كل شيء ولها عرش عظيم}
ژباړه: عرش د عربو په ژبه کې د بادشاه تخت ته وایي او رهنمایي به وکړي تاته په دې خبره د هغې بادشاهي د سبأ د قوم چې الله تعالی د هغې تخت ته عرش ویلی دی بس فرمایلي یې دي (هدهد وویل) بې شکه ما مونده کړه یو داسې ښځه چې په دې قوم یې حکومت (مشری او بادشاهي) کوله او ورکړی شوی وو دې ته د هرڅه (ضروري اشیاوو) څخه او د هغې یو لوی عرش(تخت) هم وو [تهذیب اللغه۴/۲۶۴]
(۲)عرش د چت په معنا هم راځي
مشهور علامه خلیل او جوهري فرمایي: عرش البيت: سقفه" د کوټې عرش د هغې چت دی [کتاب العین ۱/۲۹۱] [الصحاح ص ۷۷۲]
مشهور لغوی علامه زبیدي رحمه الله فرمایي: والعرش من البيت سقفه ومنه الحديث "أو كالقنديل المعلق بالعرش يعني السقف.،
یعني عرش د کوټې د چت په معنا هم راځي او همدا معنا په حدیث کې ده (کوم کې چې د شهداوو د ارواحو متعلق راځي) چې قفسونو کې دي د عرش پورې زوړند دي او دلته د عرش نه مراد چت دی او بیا فرمایي: وفي حديث آخر:كنت أسمع قراءة رسول الله صلى الله عليه وسلم على عرشي" أي: سقف بيتي. وبه فسر قوله تعالى: {وهي خاوية على عروشها}
أيصارت على سقوفها
ژباړه: دغه معنا بل حدیث کې هم ده چې هغې کې راوي فرمایي: ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم قراءت په خپل عرش باندې اوریده یعني په چت باندې او همدغه معنا باندې د الله د دې قول تفسیر هم کیږي چې فرمایي: او دغه (کلی) پر مخې پراته وو په خپلو چتونو باندې.
[تاج العروس ۴/۳۲۱]
(۳) د رکن او قوائمو په معنا هم راځي.
علامه زبیدي فرمایي: والعرش ركن الشيء
ژباړه: او عرش د شی رکن (پایې) ته هم وایي. بیا فرمایي: قاله الزجاج والكسائي، او دا خبره زجاج او کسایي کړی ده وبه فسر قوله تعالى: {وهي خاوية على عروشها}
أي وخرت على أركانها.
ژباړه: او په همدې معنا د الله د دې قول تفسیر هم شوی دی چې فرمایي او دغه کلی پر مخې پراته وو، په خپلو عرشونو یعنې راپریوتې وو په خپلو رکنونو باندې. [تاج العروس ۴/۳۲۱]
(۴) د بادشاهي او اقتدار په معنا هم راځي.
علامه أزهری رحمه الله فرمایي: والعرش الملك، يقال: ثل عرشه، أي زال ملكه وعزه.
ژباړه: عرش بادشاهي ته وایي لکه څنګه چې ویل کیږي ختم شو عرش د هغه یعنې ځایل شو. بادشاهي او عزت د هغه، [تهذیب اللغة ۱/۴۱۴] دا وې د عرش لغوي معنا ګانې دغه ډول د دې نه بغیر په نورو معناوو سره هم راځي، خو دلته چې مونږ د کوم عرش نه بحث کوو په هغې دغه اوله معنا دلالت کوي کومه چې د سریر (تخت) په معنا راځي، علامه بیهقي رحمه الله په قران کې د عرش متعلق ایاتونه ذکر کوي او بیا فرمایي: وأقاويل أهل التفسير على أن العرش هو السرير، وأنه جسم مجسم، خلقه الله تعالى وأمرملائكته بحمله وتعبدهم بتعظيمه والطواف به، كما خلق في الأرض بيتا وأمر بني آدم بالطواف به واستقباله في الصلاة. وفي أكثر هذه الآيات دلالة على صحة ما ذهبوا إليه.
ژباړه: او د اهل تفسیر والاوو د اقوالو غرض همدا دی چې عرش دا یو تخت دی او دغه عرش یو جسم دی، الله تعالی پیدا کړی دی، او ملائکو ته یې د هغې د بار کولو او تعبدي امر یې کړی، هغوی ته په احترام کولو د هغې (عرش) او دغه ډول په طواف کولو د هغې نه لکه څنګه یې چې په ځمکه کې کوټه جوړه کړې او انسانانو ته یې د هغې نه د طواف کولو او په لمونځ کې هغه ته د مخ کولو أمرکړی دی او په ډیرو دغه ایاتونو کې دلیل دی په صحت د هغه څه چې دې مفسرینو ورته تلل کړي دي.
[الأسماء والصفات ۲/۲۷۲]، علامه محدث ابن ابی شیبه رحمه الله په هغه چا چې د عرش نه ملك او اقتدار مراد کوي، د هغوی رد کوي او فرمایي: وهذه الآيات تؤكد لنا وجود العرش، وتبطل زعم القائلين بان المراد منه الملك.
ژباړه: او دغه ایاتونه په تاکید سره خبر راکوي مونږ ته د عرش د موجودیت او باطلوي ګمان د هغو (معطله وو) چې هغوی ویوونکي دي د دې چې مراد د عرش نه بادشاهي ده.
[ص ۵۷]

سطر النقاة بحل شبهة النفاة

جهمیه او عام معطله دلته یوه شبهه را مخته کوي او هغه دا چې دوی وایي عرش په عربي ژبه کې په ډیرو معنا ګانو سره راځي نو لهذا دې دومره معناوو څخه په قران کې د ذکر شوي عرش کومه معنا مراد ده د دې تعین نه شته نو لهذا د عرش نه مراد دغه معنا سره عرش مراد کول صحیح نه دي، خو ستاسو دې دې خبرو ته همیشه پام وي چې د کتاب او سنة مخالفین همیشه د محکماتو د منلو نه په دغه ډول لارو سره ځان وباسي کله به وایي چې حدیث کې د ذکر شویو قُلّتینو تعین څکه نه شو کولی چې عربي کې دا په ډیرو معناو سره راځي او کله به وایي استواء ډیرې معنا لري تعین یې ممکن نه دی او کله به دغه شبهې د عرش نه د انکار لپاره مخکې مخکې کوي.
د جهمیه وو د دې شبهې متعلق علامه ابن القیم رحمه الله په الصواعق المرسله کې بهترین جواب کړی فرمایي: وأما قولك للعرش سبعة معان أو نحوها وللاستواء خمسة معان فتلبيس منك وتمويه على الجهال وكذب ظاهر فإنه ليس لعرش الرحمن الذي استوى عليه إلا معنى واحد وإن كان للعرش من حيث الجملة عدة معان فاللام للعهد وقد صار بها العرش معينا وهو عرش الرب جل جلاله الذي هو سرير ملكه الذي اتفقت عليه الرسل وأقرت به الأمم إلا من نابذ الرسل.
ژباړه: دا چې ای جهمیه ؤ ستاسو دا خبره ده چې عرش اوه معنا ۷ لري او استواء پنځه ۵ معنا لري، نو دا تلبیس دی ستا له خوا نه او حق پټول دي له جهالو (بې علمه خلکو) څخه او ښکاره دروغ دي، پس بې شکه نه شته د رحمان ذات د هغه عرش لپاره چې هغه پرې استواء کړی مګر یوه معنا اګر چې عرش فی الجمله ډیرې معنا ګانې لري نو په دې (مذکور عرش) کې لام د عهد لپاره دی نو په دې لام سره دغه عرش معین وګرځیده، او دغه د رب جلّ جلاله عرش دی چې د هغه د بادشاهی تخت دی، هغه چې په هغې پیغمبرانو اتفاق کړی، او أمتونو پرې اقرار کړی، (او انکار نه دی کړی) مګر هغه چا چې د رسولانو مخالفت یې کړی. [الصواعق المرسلة ۱/۱۹۵]

أَلْفَلاحُ وَالرَّشَادُ فِي مَسَائِلِ الْجِهَادِ

اتم درس : صحیح البخاري کتاب الجهاد

الحمد لله رب العالمين والصلاة والسلام على رسوله الأمين وعلى أزواجه و أصحابه ومن تبعهم فى إحسان إلى يوم الدين أما بعد: محترمو عزتمندو مخکې درس کې بتوفیق الله تعالی د کتاب الجهاد متعلق شپاړسم حدیث او د هغې شرحه او فوائد مو ذکر کړل اوس دې درس کې، نهم باب، ۱۷ حدیث شروع کوو.

رقم الباب۹

باب من ينكب فى سبيل الله

باب ثابت دی په باره د فضیلت د هغه چا کې چې زخمي کړی شي په لاره د الله کې.

حصول الأجر والثواب بتشريح كلمات ما فى الباب

د مخکې باب په شان دلته هم لفظ د باب د دوه اعرابو احتمال لري او لفظ د مَنْ دا موصول دی او بنا په یو توجیه سره دا مضاف الیه ده او مضاف هغه مقدر دی چې هغه لفظ د(فضلٌ) دی یعنې (باب فضل من ....) او بل دا دلیل دی په دې چې که هر څوک وي یعنې نر وي که ښځه، آزاد وي او که غلام نو د دې فضیلت مستحق دی. يُنْكَبُ لفظ مضارع مجهوله ده او دا وایي هغه زخم ته چې په کاڼې، لرګي، ازغي و غیره باندې د انسان یو اندام او د بدن بعضې حصې زخمي شي خو ځینې علماء فرمايي چې دا عام مصیبتونو ټولو ته شامل دي. لکه ابن الأثير فرمايي: النكبة مايصيب الانسان من الحوادث. او جوهري فرمايي: النكبة واحدة نكبات الدهر تقول اصابته نكبة.

او په بعضې نسخو د بخاري کې، تنكب د تَفَعَّلَ په وزن د التفعل له باب څخه راغلی او بعضې نسخو کې د سبيل الله نه بعد أو يطعن هم راغلی دی ملخصا من [العمدة ۱۴/۹۷]

مطرالرحمة والسحاب بذكرمناسبة ترجمة الباب مع الكتاب

دا باب د کتاب الجهاد د أبوابو د عدد او شمېر په اعتبار سره نهم (۹) نمبر باب دی. دې باب کې امام بخاري رحمه الله دوه احادیث ذکر کوي، یو د انس بن مالك او بل د جندب بن عبدالله بن سفیان رضی الله عنهما، بیا مناسبت د ترجمة الباب د کتاب الجهاد سره ښکاره دی او هغه فضیلت د جهاد دی چې په دې لاره کې زخمي کېدل او هر تکلیف برداشت کول غوره درجه ده.

حديث ۱۷
رقم الحديث ۲۷۹۹

عن أنس -رضي الله عنه- قال: ”بعث النبي -صلى الله عليه وسلم- أقواما من بني سليم إلى بني عامر في سبعين رجلا فلما قدموا قال لهم خالي: أتقدمكم، فإن أمنوني حتى أبلغهم عن رسول الله -صلى الله عليه وسلم- وإلا كنتم مني قريبا. فتقدم فأمنوه، فبينما يحدثهم عن النبي -صلى الله عليه وسلم- إذ أومؤوا إلى رجل منهم فطعنه فأنفذه، فقال: الله أكبر، فزت ورب الكعبة. ثم مالوا على بقية أصحابه فقتلوهم إلا رجلا أعرج صعد الجبل، قال همام: وأراه آخر معه، فأخبر جبريل - عليه السلام - النبي -صلى الله عليه وسلم- أنهم قد لقوا ربهم فرضي عنهم وأرضاهم؛ فكنا نقرأ أن بلغوا قومنا أن قد لقينا ربنا فرضي عنا وأرضانا، ثم نسخ بعد، فدعا عليهم أربعين صباحا؛ على رعل وذكوان وبني لحيان وبني عصية الذين عصوا الله ورسوله -صلى الله عليه وسلم-“.

ژباړه: د انس رضی الله عنه څخه روایت دی چې نبي صلی الله علیه وسلم څه قومونو ته د بنی سلیم قبیلې څخه چې بنو عامر وو هغې ته اویا کسان واستول. کله چې دوی ورنږدې شول نو زما ماما ورته وویل، چې زه به له تاسو نه ورمخکې شم، که ماته یې تکلیف رانه کړ، ترڅو ورته زه د رسول الله صلی الله علیه وسلم پیغام ورسوم او که اراده یې غلطې وې نو تاسو به له ما سره نږدې يئ. نو دا (زما ماما) ورمخکې شو، هغوی ورته امن ورکړ، نو شروع شو چې له نبي صلی الله علیه وسلم څخه یې ورته خبر ورکولو چې په دغه وخت کې دوی یو سړي ته چې له دوی څخه وو اشاره وکړه، هغه په نیزه باندې (له شا) وواهه نو هغه یې څیرې کړ، زما ماما وویل: کامیاب شوم د کعبې په رب مې دې قسم وي. بیا دوی د هغه په پاتې ملګرو راوګرځېدل، هغوی یې هم قتل کړل. مګر یو ګوډ سړی چې غر ته ختلی وو، او همام (په خپل روایت کی) ویلي چې زما باور دی چې ده سره بل کس هم وو (چې دوی ژوندي پاتې شول). جبریل علیه السلام نبی صلی الله علیه وسلم ته خبر ورکړ چې بې شکه هغوی د خپل رب سره ملاقات وکړ، او هغه له دوی نه راضي شو. او هغوی یې له ځانه راضي کړل. بیا مونږ وو چې دا (آیت) به مو قرائت کولو چې خبر ورکړئ زمونږ قوم ته، چې مونږ د خپل رب سره ملاقات وکړ یقیني هغه له مونږ او مونږ له هغه نه راضي شوو. بیا وروسته دغه آیت منسوخ شو. بیا

نبي صلی الله علیه وسلم (قنوت نازله کې) ځلوېښت ورځې د سحر په مانځه کې په رعل، ذکوان، بنی لحیان او بنی عصیه قبیلو هغه چې د الله او د هغه د رسول نافرماني يې وکړه هغوی ته ښيرا وکړه.

التفکروالمراقبة فی ذکر التطبیق والمناسبة

په دې حدیث کې د امام بخاري رحمه الله استاد حفص بن عمر الحوضي، چې د تعدیل او توثیق په باب کې د ثقة ثبت درجه لري امام بخاری رحمه الله له ده څخه په سند د انس بن مالک رضی الله عنه څخه دغه حدیث نقل کړي، بیا مناسبت د حدیث د باب سره ښکاره دي. په فطعنه فانفذه جمله کې دی او بیا دغه ډول د جبریل راتلل او د هغوی په فضیلت کې قران فضیلت کې قران نازلېدل او د هغوی نه د الله او د الله نه د هغوی رضا کېدل دا ټول دلیل دی. په روڼ مناسبت د حدیث له باب سره چې هغه فضیلت د زخمي کېدو، غوځېدو او دغه ډول د الله په لاره کې د هرې حادثې راتلل د لوی اجر باعث دي. والله اعلم.

إغاثة المغيث بذكر شرح الحديث

(بعث أقواما) دا منصوب بنزع الخافض دي یعنې الی أقوام بنی سلیم (فی سبعین رجلا) له دې نه مراد هغه د قران لوستونکي او د هغې حافظان وو چې په قراوو سره مشهور وو. (خالي) حرام بن ملحان نوم یې وو. (الی رجل منهم) دا کس عامر بن طفیل وو، (فطعنه) دا نیزې وهلو ته وایي او دا اوږد لرګي وي چې په سر کې وسپنه لري. (فانفذه) دا دې ته وایي چې غشی یا نیزه وغیره له یو طرف نه بل طرف ته ووځي. یعنې خیرې شي. (فقال) د دې قائل حرام دی، د انس ماما. (فزتُ ورب الكعبة) یعنې بالشهادة بیا (فزت) د فاز یفوز څخه د متکلم صیغه ده. یعنې زه په دې شهادت سره کامیاب شوم، او د بخاري په نورو روایاتو کې راځي چې حرام رضی الله عنه خپلې وینې بره مخ طرف ته په لپه وشیندلې او دا جمله یې ولوسته، (الا رجلا اعرج) علماوو لیکلي چې د ده نوم کعب بن یزید الانصاري ؤ. او دا په پښه باندې ګوډ، او د بني امیه له قبیلې څخه ؤ. بیا دلته له همام څخه چې د حدیث راوي دی، شک واقع شوی، فرمایي: (فأُراه) یعنې زما ګمان دا دی چې د دې رجل اعرج سره یو بل کس هم ؤ چې شراحو د هغه نوم عمرو بن امیه الضمری ښودلی دی. (فاخبر جبریل) جبریل د وحې سره رسول الله صلی الله علیه وسلم ته د الله په امر د هغه د ملګرو خبر راوړ، چې هغوی شهیدان شول او الله تعالی هغوی ته خپله رضا ورنصیب کړه. او له هغوی راضي شو، چې په حق کې يې بیا د قران دغه آیتونه نازل شول چې بیا وروسته منسوخ شول.

باب اللؤلؤ والمرجان
بثبوة الناسخ والمنسوخ فی القرآن

په دې باب کې غواړم چې په إذن د الله تبارك و تعالی د قران د بعضې آیتونو د منسوخ والي متعلق وضاحت وکړم، ځکه اوس هم داسې خلک شته چې هغوی د شریعت په احکامو کې عموماً لکه یهود او په قران کې خصوصاً لکه مستشرقین او د هغوی هم نظري دغه نسخ د قران او شریعت د بطلان سبب ګڼي والعیاذ بالله. او ځینې وایي چې د دې د منلو څخه د بداء عقیده منځ ته راځي، چې دغه وضاحت به ان شاء الله تعالی په راتلونکو اوه 7 فصلونو کې ذکر کړو. راځو اول فصل ته.

فصل الفسخ والمسخ لمن أنكر النسخ

نو دغه فصل به بإذن الله تبارك و تعالی په شریعت کې د ناسخ او منسوخ د اثبات او د هغې منکرینو ته غاښ ماتونکی او مخ تورونکی جواب وي. راځو او موضوع شروع کوو. نسخ په لغت کې په ډېرو معنا ګانو سره راځي. خو یو دوه به د هغې له جملې څخه ذکر کړو.

(۱) نسخ په معنا د یو شي د بعینه نقلولو او لیکلو په معنا هم راځي. مثلا عرب وایي: (نسخ الكتابَ) یعنی نقل صورته حرفا بحرف، یعنې کتاب يې حرف په حرف نقل کړ. قران کې هم د نسخ دغه معنا ذکر ده، الله تبارک و تعالی فرمایي:

هَٰذَا كِتَٰبُنَا يَنطِقُ عَلَيْكُم بِالْحَقِّ ۚ إِنَّا كُنَّا نَسْتَنسِخُ مَا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ. [سُورَةُ الجَاثِيَة : 29]

ژباړه؛ دا زموږ تیاره کړې عملنامه ده، چې پر تاسې سمه صحیح شاهدي وایي، تاسې چې هر څه کول موږ هغه لیکل."

(۲) نسخ په معنی د رفع او إزالة هم راځي. یعنې اوچتولو او ختمولو ته وایي. مثلا عرب وایي: (نسخت الشمس الظل) لمر سوری ختم کړو، یا دا چې (نسخت الريح اثار البلد) تیزې هوا د ښار نښې ختمې کړې. دغه معنی قران کې هم شته الله تبارك و تعالی فرمایي: {فَيَنسَخُ اللَّهُ مَا يُلْقِي الشَّيْطَٰنُ} [الحج: ۵۲]

شیطان چې هر څه خلل اچوي، الله هغه له منځه وړي

خو چې شریعت کې کله هم نسخ مطلق ذکر شي نو بیا ترېنه د نسخ دغه دویمه معنا مراد وي.

او په اصطلاح د محدثینو کې بیا وایي: (رفع الشارع حكما منه متقدما بحكم منه متأخر) ژباړه: یعنې پورته کول د شارع یو مخکني حکم لره د خپل طرف نه په داسې حکم سره چې وروستنی وي.

وګورئ علوم الحدیث (۲۷۷).

فصل الحِكَم الرواسخ
في احكام النواسخ

نو اوس د الله تبارك و تعالی په توفیق سره په دې فصل کې د منکرینو مختصر جواب کوو.

(۱) هغه دا چې د علماوو د اسلام قاطع او یقیني اجماع ده په دې چې شریعت کې نسخ جایز ده او په دې سره د الله تبارک و تعالی په علم او حکمت کې نقص نه لازمیږي، بلکه دا یې د عین علم او حکمت دلیل او تقاضا او د بنده په حق کې د بې شماره فوائدو سبب او ذریعه ده. هسې یو مثال وګورئ، یو طبیب دی خپل مریض ته په اوړي کې یو قسم او په ژمي کې په بل قسم پرهېز خواړه وغیره باندې امر کوي.

(۲) دویم دا دلیل دی په کامل علم د الله په جزیاتو او کلیاتو، ځکه هغه د انسان او هغه ته د خیر ښودني او هغه لره د شر نه د بچ کولو او ده ته د ګټې او تاوان په ټولو اوقاتو او اوانو خبردار دی چې کوم وقت هم هغه د ده په فایده او خیر تمامیږي بعینه همغه وقت ورته د هغې موافق حکم ورکوي.

(۳) بل دا یو امتحان هم دی چې غالباً رب العالمین په دې سره خپل منونکي او نه منونکي راښکاره کوي،

اګر چې الله د مخکښې نه عالم دی خو د انسان عذر ختمول او په هغې باندی حجت قایمول مقصود دی

(۴) او بل دا د الله تبارک و تعالی د رحم او شفقت دلیل او ثبوت دی چې دویم امر هغه په نسبت سره د اول امر نه آسان او په سهولت وي. مثلا د جهاد په احکامو کې یو مؤمن د لسو مقابله کول، دغه ډول ابتدا کې د روژې کیفیت و غیره داسې نور مسایل چې د دویم امر په وجه یکې بنده له سختئ نه د آسانئ طرف ته وتلی دی.

فصل الحجة البيضاء
في الرد على عقيدة البداء

دا چې د منکرینو دا بهانه او یا دا دلیل نیول چې له دې څخه د الله تبارک و تعالی باره کې د بداء عقیده ثابتیږي نو دا له څو وجوهاتو باطله ده. ځکه د بداء عقیده د دې څخه بلکل نه لازمیږي.

[اوله وجه] دا ده چې د بداء عقیده کې نسبت د جهل او ناپوهۍ الله تبارک و تعالی ته کیږي او الله تبارک و تعالی له دې پاک او منزه دی. ځکه نسخ خپله د الله په کتاب کې ذکر ده. الله تبارک و تعالی په سورة البقره (۱۰۶) نمبر آیت کریمه کې فرمایي: (مَا نَنسَخۡ مِنۡ ءَايَةٍ أَوۡ نُنسِهَا نَأۡتِ بِخَيۡرٍ مِّنۡهَآ أَوۡ مِثۡلِهَآۗ أَلَمۡ تَعۡلَمۡ أَنَّ ٱللَّهَ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ قَدِيرٌ). او دغه ډول بې شماره ثبوتونه نور په دې باندې په قرآن او احادیثو کې موجود دي چې انکار ترینه محض مکابره ضد او عناد دی.

[دویمه وجهه] دا ده چې نسخ وایي تغیر د هغه عبادت ته چې مکلَّف ته پرې امر شوی وي، او بداء په اصل کې بالكلية امر لرې کول دي د هغه څه نه چې امر پرې شوی وي.

[دریمه وجه] هغه دا ده چې نسخ فساد او عبثیت د هغه واجب امر نه راولي کوم چې منسوخ شوی دی. او بداء دا دلیل وي په فساد او عبث والي د هغه واجب امر چې اول وو، او اوس یې په ترک فیصله شوې وي. مثلا یو کس یو کار او عمل مفید او د خیر باعث ګڼي وروسته ورته دغه کار او عمل غیر مفید او ضرري ښکاره شي نو مخکني عمل باندې پښیمانه شي، او هغه کار عبث

وګڼي او دغه معنا تصور کول په حق د الله تبارك وتعالى کې عظيم جرم او د کفر مرادف نظريه او اعتقاد دی. روافض مرتدين قاتلهم الله د الله تبارك و تعالى باره کې د بداء عقيده لري، او بيا بداء دوه معنا لري چې د دواړو معناؤ متعلق روافض خبثاء د الله تبارك و تعالى باره کې دغه اعتقاد لري چې دغه وضاحت مونږ په بل مقام کې تفصيلاً کړی دی چې دا يې محل نه دی، محض طرداللباب ذکر شو.

فصل الحجةالقاضية
في إثبات النسخ في شرائع الماضية

بل په قطعي تواتر سره دغه نسخ په إلهي شريعت کې د آدم عليه السلام نه واخله د محمد صلی الله عليه وسلم تر شريعت پورې په ټولو اديانو کې ثابت ده. مثلا د آدم عليه الصلاة والسلام په شريعت کې د خويندو سره نکاحونه کېدل خو بيا وروسته د موسی عليه السلام په شريعت کې منسوخ شوي. دغه ډول وازګي يا وازدي چې دا هم مخکې مباح وي بيا د موسی عليه السلام په شرع کې حرامي شوي. د خالي ورځی ښکار کول مخکې مباح وو، او د موسی عليه السلام په شرعه کې دغه جواز منسوخ کړی شو. بيا دغه حرمت بېرته د محمد صلی الله عليه وسلم په شريعت کې منسوخ وګرځيد، او آن تر قيامته مباح شول. دغه ډول قرآن کې د نسخ په اثبات باندې علامه نحاس رحمه الله اجماع نقل کړي هغه فرمايي: (أن قوما قالوا: ليس في القرآن ناسخ ولا منسوخ وهؤلاء قوم لا يقرون، لأنهم خالفوا نص الكتاب وإجماع الأمة، قال الله عز وجل: ما ننسخ من آية أو ننسها)

ژباړه: بې شکه يو قوم ويلي دي چې په قرآن کې ناسخ او منسوخ نشته، خو دا هغه خوک دي چې دوی قرآن نه دی لوستلی ځکه دوی د صريح قرآن او سنت او د امت د اجماع خلاف کړی دی. الله عزوجل فرمايي: مونږ نه منسوخ کوو يو آيت او يا يې هېر کوو (له تاخخه) ....الآية

[نواسخ القران لأبی الفرج الجوزی ص ١٦]

فصل الإصابة والرسوخ
فی معرفة أقسام المنسوخ

په قران عظيم کې چې کومه نسخ ده هغه په درې قسمه ده.

(اول) چې رسم الخط او حکم يې دواړه منسوخ شوي وي. دليل په دې قسم نسخ د انس رضی الله عنه دا قول دی چې فرمايي: مونږ وو چې يو سورة به مو قراءت کولو په زمانه د رسول الله صلی الله عليه وسلم کې چې د سورة التوبة سره به مو برابر ګڼلو چې زه له هغې جملې څخه هېڅ ياد نه لرم مګر دغه يو آيت {لو أن لأبن آدم واديين من ذهب لابتغى لهما ثالثا ولو أن له ثالثا لابتغى إليه رابعا ولا يملأ جوف ابن آدم إلا التراب ويتوب الله على من تاب} دغه ډول د ابن مسعود رضی الله عنه قول چې فرمايي: ما باندې رسول الله صلی الله عليه وسلم يو آيت يا يو سورة ولوسته، ما هغه له ياد کړ، او خپل مصحف کې مې وليکو چې د شپې خپلې بسترې ته لاړم تر سحره بل څه ته پانځېدم چې سحر وختي زه خپل مصحف ته لاړم نو مصحف کې دغه پاڼه سپينه ځليدله نو ما د دې خبر رسول الله صلی الله عليه وسلم ته ورکړ، هغه راته وفرمايل: (يا ابن مسعود تلك رفعت البارحة) دغه سورة يا آيت د شپې پورته کړل شوی دی.

[نواسخ القران ص٣٠ لجمال الدين ابی الفرج الجوزی]، [ناسخ القران العزيز لهبة الله الحموی ص ١٩]

(دويم) قسم هغه نسخ ده، چې رسم الخط يې ختم شوی وي، او حکم يې باقي وي دليل په دې باندې لکه د رجم ايت چې هغه دا دی.

الشيخ والشيخة إذا زنيا فارجموهما البتة: [سنن ابن ماجه رقم الحديث ٨٥٣]، اوس د دغه ايت رسم الخط هغه منسوخ دی، قراءت يې نه کېږي خو حکم يې باقي او عمل کول پرې واجب دي.

(دريم) هغه قسم نسخ ده، چې حکم يې منسوخ وي، او رسم الخط يې باقي وي، دليل وربانډې دا دی: الله تبارك وتعالى په سورة البقره ١١٥ نمبر ايت کريمه کې فرمايي: [فأينما تولوا فثم وجه الله] پس هر طرف چې تاسو مخ اړوئ هاغه طرف مخ د الله دی چې دا حکم بيا د سورة البقرة په ١٤٤ نمبر ايت باندې منسوخ چې هغه دا دی [فول وجهك شطر المسجد الحرام] پس وګرځوه مخ خپل دی مسجدالحرام طرف او د دې نور هم ډېر مثالونه موجود دي، بل دا چې نسخ دا په اوامرو او نواهيو کې واقع کېږي په اخبار محضه وو کې نه واقع کېږي، او دا تقريباً اجماعي او د جمهورو علماوو د اسلام قول دی، ځينې علماوو هغه خلق چې د دې نه خلاف په اخبارو کې هم نسخ ته قائل دي، هغوی دې اجماع له ماتونکي نه حسابوي يعنې د هغوی خلاف ته اعتبار نه ورکوي او ځينې علماء تخصيص او دغه ډول استثناء دا هم د نسخ له جملې څخه حسابوي خو د دې بر عکس عموم فقهاء هغه د دې بر عکس موقف لري.

فصل شمّ الحنوط في ذكر الشروط

بيا علماؤ د نسخ لپاره څه شروط ذکر کړي، چې په ناسخ او منسوخ کې يې پوره کول د نسخ د صحت او جواز لپاره ضروري دی.

(اول شرط): هغه حکم چې ناسخ کې موجود وي هغه به منسوخ کې بر عکس وي، يعنې د ناسخ او منسوخ حکمونه به د يو بل سره تناقض لري، او په هيڅ صورت کې به پرې عمل ممکن نه وي، که بالفرض عمل په دواړو ممکن وو، نو بيا يو د بل لپاره ناسخ او منسوخ نه شي ګرځيدلی.

(دويم شرط) حکم د منسوخ دا به د ناسخ د حکم نه مخکې ثابت وي، يعنې منسوخ به مقدم وي او ناسخ به مؤخر وي، او د دې د معرفت بيا دوه وجهې دي (١) دا به د شارع نه نُطقا ثابته وی، مثلاً {الآن خفف الله عنكم وعلم أن فيكم ضعفا} او دغه ډول د الله تبارك وتعالى دا وينا {فتاب عليكم وعفا عنكم فالآن باشروهن}

او بل مثال د نبی صلی الله عليه وسلم: دا قول مبارك چې فرمايي: كنت نهيتكم عن زيارة القبور ألا فزوروها" او

(٢) طريقه هغه د تاريخ له لارې د هغې پېژندنه ده، چې د ناسخ او منسوخ تاريخ وګوری، نو تاته به معلومه شي چې کوم مقدم اوکوم مؤخر دی.

(دريم شرط) دا چې د منسوخ حکم به شرعي وی که چرته تعارف او يا هم د عاداتو له قبيلې څخه وي، نو بيا هم د دې اوچتونکې ته ناسخ نه شي ويل کيدلی، بلکې ديته ابتداء الشرع ويلی شی.

(څلورم شرط) دا چې د ناسخ حکم به هم شرعاً ثابت وي، لکه څنګه چې د منسوخ حکم شرعي وي، په محض قياس او يا هم اجماع باندې نسخ نه ثابتېږي.

(پنځم شرط) استواء الثبوت بين الطريقين يعنې دا چې د ناسخ اثبات به هم په هغه طريقې شوی وي، په کومه طريقه چې منسوخ ثابت شوی وي. داسې نه وي چې منسوخ په قوي او صحيح طريق او سند سره ثابت شوی وي، او ناسخ په ضعيف او کم زوري نو دغه وقت بيا دغه کمزوري او ضعيف حکم د قوی لپاره ناسخ نه شي ګرځيدلی.

[ملخصا از نواسخ القران لأبى الفرج الجوزى ص ١٣٥]

فصل المغيث والصارخ
في معرفة أقسام الناسخ

دې فصل کې په توفيق د الله تبارك وتعالى سره دا خبره ذکر کوو چې د ناسخ هغه قسمونه وپېژنو چې هغې باندې منسوخيت ثابتېږي، او دغه څلور قسمونه دي، چې تفصيل يې په دې ډول دی.

اول (١) نسخ د قران په قران باندې او دا اتفاقي او اجماعي صورت دی چې بعضې د قران په بعض سره منسوخ کېږي.

(يو دليل)

ما ننسخ من آية أو ننسها نأت بخير منها أو مثلها} البقرة ١٠٦

(دويم دليل)

{وإذا بدلنا آية مكان آية} النحل ١٠١

(٢) دويم قسم نسخ السنة بالكتاب يعنې سنة په قران باندې منسوخ کېږي مثلاً: رسول الله صلى الله عليه وسلم د عاشوراء د ورځې د روژې حکم وکړه، خو دغه د فرضيت حکم د قران په دې ايت منسوخ شو چې: شهر رمضان الذى أنزل فيه القرآن ....

(٣) دريم قسم: نسخ السنة بالسنة: يعنې سنت په سنت باندې منسوخ کېږي او د دې هم ډېر مثالونه دی، يو مثال له هغې څخه دا دی نبی صلي الله عليه وسلم فرمايي: ألا إني كنت نهيتكم عن زيارة القبور ألا فزوروها: تر دې ځايه دغه درې صورتونه د ناسخ دا تقريباً د اهل علمو تر منځه اتفاقي صورتونه دي.

(٤) څلورم قسم: دا نسخ د بعض قران په سنة باندې په دې کې بيا اهل علم اختلاف لري، چې قران په سنت منسوخ ګرځي او که نه نو په دی باب کې بيا دوی سنت په دوه قسمه تقسيم کړی يو هغه چې په نقل متواتر سره ثابت وي،

نو امام شافعي، ثوري او په يو قول د امام احمد رحمهم الله د دې نسخ په جواز بيا هم قائل نه دی او دا جايز نه ګڼي، أبو داود السجستاني فرمايي: ما د أحمد بن حنبل رحمه الله نه واوريدل چې فرمايل يې : السنة تفسر القرآن، ولا ينسخ القرآن إلا القرآن: سنة د قران تفسير کولی شي، او قران منسوخ کولی نه شي او دغه ډول امام شافعي: هم فرمايلی: إنما ينسخ الكتاب الكتاب، والسنة ليست ناسخة له : قران باندې قران منسوخ کېږي خو سنت د قران ناسخ نه شي ګرځيدلی .

او دويم قول د امام ابو حنيفه امام مالک او په يو قول کې د امام احمد رحمهم الله دی، هغوی دغه نسخ جايز ګڼي دغه موقف د امام ابن حزم رحمه الله هم دی، دوی هم په دې مدعا باندې يو لړ دلايل لري خو مانعين له هغې څخه دا جواب کوي چې بعضې له دغه دلايلو نه هغه تخصيصات او بعضې تفسير او يا هم بيان د قرآن کريم دی، نو چونکه دواړه طرف دلايل شته نو بعضو اهل علموا د دې په يو جانبانه ترجيح کې توقف کړی دی لکه محمد بن شجاع رحمه الله فرمايلي: الأقوال قد تقابلت فلا أحكم على أحدها بالآخر.

(ژباړه): په دې مسئله کې اقوال د يو بل مقابل کې ذکر شوي لهذا په دې کې د يو په مقابل کې د بل په ترجيح حکم نه شم کولی [الناسخ والمنسوخ ص ٥٣]، خو بيا متأخرين اهل علمو د دې علماوو د دې دواړو قولونو تر منځه فيصله په دې کړې چې اول قول دا صحيح دی علامه جمال الدين ابو الفرج الجوزی رحمه الله دغه اقوال ذکر کوي او فرمايي: والقول الأول هو الصحيح، لأن هذه الأشياء تجري مجرى البيان للقرآن، لا النسخ [ص ١٤٢]، دغه ډول مرعی بن يوسف المقدسي الحنبلي په قلائد المرجان ص ٣١ کې فرمايي:

قلت و دليل المانع قوي وهو الحق إن شاء الله تعالى.

او کوم چې دويم قسم سنت دی چې په نقل الاحاد سره ثابت شي نو په دې هم نسخ د قرآن نه راځي ځکه چې دلته په ناسخ او منسوخ کې د پنځم شرط فقدان راځي او هغه دا ډول چې په اثبات د طُرُقو د دې کې به استواء وي يعنې دواړه به په يقيني او قطعي طور سره ثابت وي نو خبر احاد چې څوک ظني ګڼي د هغوی په نزد په دې سره نسخ د قرآن نه ثابتيږي خو بعض علماو د دې په اثبات هم قول کوي.

اوس دا خبره چې قرآن پاک کې څو اياتونه منسوخ دي نو دې باره کې علماء مختلف رأيې او أقوال لري د علامه سيوطي او ابن العربي رحمهم الله په نزد يوويشت اياتونه منسوخ دي شاه ولی الله رحمه الله په الفوز الکبير ص ٩٣ کې د هغوی دغه موقف ذکر کړی خو بيا له هغې وروسته خپل تحقيق ذکر کوي او فرمايي:قلت: ما حررته لا يتعين النسخ إلا في خمس آيات.

ژباړه: او زه وايم هغه چې ما تحقيق کړی نو نه متعين کيږي منسوخ والی مګر په پنځه اياتونو کې تر دې ځايه دغه بحث د نسخ متعلق ذکر شو.

راځو د حديث د شرحې پاتي باقي برخې ته

(فدعا عليهم) د دعا په صله کې چې (علی) راشي غالبا د دينه مراد بده دعا يعنې ښيرا مقصود وي، خو که چرته قرينه او سياق موجود وو نو بيا به ترينه دعاء خير مقصود وي، لکه درود وغيره...

نو دلته چونکه بني سليم قبيلې غدر او سخت ظلم وکړ نو له دې وجهې نه ورته نبي صلی الله عليه وسلم څلويښت ورځې د سحر په مانځه کې په قنوت کې ښيرا وکړه (علی رعل) په کسرى يعنې زير د (راء) سره چې دا د بطن بني سليم څخه وو (و ذکوان) په زبر د (ذال) سره (وبني لحيان) په زير د (لام) او سکون د (حا) سره (وبنی عصية) په پيش د (ع) او په زبر د (ص) او تشديد د (يا) سره دی (الذين عصو الله ورسوله) اصل په دې جمله کې صفت د دې ټولو قبيلو ذکر دی.

علامه جوهري فرمايلي چې رعل او ذکوان دا دوه قبيلي دي د بني سليم، څخه او عصية دا د بنو سليم د بطن څخه ده [عمدة القاری ٩٨/١٤]، دې قبيلو چونکه غدر او عهد شکني کړې وه له دې وجې نه رسول الله صلی الله عليه وسلم دوی ته ډير په غضب وو.

فوائد الحديث

[١] رسول الله صلی الله عليه وسلم د دين په دعوت او تبليغ کولو کې ډير حريص وه.

[٢] رسول الله صلی الله عليه وسلم سره له دې چې افضل ترين مخلوق د الله دی خو د دې باوجود په پټ خير او شر يې علم نه درلوده.

[٣] صحابه کرام رضوان الله عليهم اجمعين په غيبو نه پوهيدل سره د دې چې امت کې اوچت اولياء دي.

[٤] دښمن باندې د امن يقين کول نه دي پکار.

[٥] دښمن ته په ورتللو کې به امنيتي تدابير اختيارولی شي.

[٦] د الله په لار کې شهادت دا يقيني کاميابی ده.

[٧] د الله په لار کې شهادت د الله د رضاء سبب دی.

[٨] که يو علاقه او منطقه کې مسلمانان مغلوب شي نو دا د کفر د حقانيت او د اسلام د بطلان سبب او وجه نه شي کيدلی.

[٩] د غم او مصيبت خبر ورکول جايز دی ځکه جبريل عليه السلام رسول الله صلی الله عليه وسلم ته وويلو، بيا رسول الله صلی الله عليه وسلم نورو صحابه وو ته د هغوی د قتليدو خبر ورکړی دی.

[١٠] کفارو ته ښيرې او بدي دعا ګانې کول جايز دي.

[١١] د هغوی په قوم او قبيله حتی په نوم باندې تصريح کول هم په ښيراوو کې جايز دي

[١٢] دليل دی په دې چې بعضې اياتونه د قرآن منسوخ شوي دي.

حديث ١٨

(رقم الحديث ٢٨٠٠) عن جندب بن سفيان: أن رسول الله -صلى الله عليه وسلم- كان في بعض المشاهد قد دميت إصبعه فقال: هل أنت إلا إصبع دميت، وفي سبيل الله ما لقيت.

ژباړه: له جندب بن سفيان رضی الله عنه څخه روايت دی.

(هغه فرمايي چې) بې شکه رسول الله صلی الله عليه وسلم وو په بعضو غزاګانو کې چې ګوته يې زخمي شوه پس ويې فرمايل نه يې ته مګر يوه ګوته يې چې زخمي شوی او د الله په لار کې دا هغه څه دي چې ستا ورسره ملاقات وشو.

التفكر والمراقبة فى ذكر التطبيق المناسبة

په دې حديث کې د امام بخاري رحمه الله استاذ هغه موسی بن اسماعيل دی، چې المنقري لقب لري چې د تعديل او توثيق په باب کې د ثقة ثبت په صفت موصوف دی. له هغه څخه دغه روايت په سند سره له جندب بن سفيان رضي الله عنه څخه ذکر کوي بيا

مناسبت د حديث د ترجمة الباب سره ښکاره دی د (قد دميت أصبعه) او د(الا اصبع دميت) په الفاظو کې چې مراد ترينه هغه فضيلت د زخم دی په لاره د الله کې او همدې کلمو سره دا حديث د مخکې ذکر شوي حديث سره هم روښانه مناسبت لري چې هغه فضيلة النکب فی سبيل الله دی.

إغاثة المغيث بذكرشرح الحديث

(فی بعض المشاهد) مشاهد جمع د مشهد ته مکان الاستشهاد يعنې د شهادت ځای ته وايي او مراد ترينه جهاد او غزا ده بيا ويل شوي چې دا د احد غزوة وه والله اعلم (قد دميت اصبعه) دميت په فتحې يعنې زبر د دال سره زخمې کيدو ته وايي چې وينې ترينه راووځي(فقال) نو ګوتې ته يې وفرمايل (هل انت ...) دلته هل په معنا د ما نافيه دی يعنې(ما أنت الا أصبع...) بيا دغه (دميت) دا صفت د (اصبع) دی او اصبع چونکه مؤنث ده نو ځکه يې صفت تأنيث راوړ خو کله کله مذکر هم ذکر کيږي او د أصبع باره کې علماء فرمايي چې دې کې لس لغات ويل جايز دي، په همزه کې هم درې حرکات او په با کې هم درې حرکات او لسم يې أصبوع دی [ملخصا من العمدة ١٤/ ٩٩] بيا په دغه خطاب کې علماء فرمايي يا خو دا خطاب على سبيل الاستعارة دی او يا دا معجزه ده خطاب حقيقة دې ګوتې ته، [قسطلانى ٥/ ٤٣]، يعنې ته نه يې مګر يوه عامه ګوته يې خو فکر مه کوه ته چې د الله لار کې دڅه سره مخ شوې چې هغه رضا د الله ده نو دا ستا لپاره لوی فضيلت دی .

شفاء الأمراض بدفع الشبهةالإعتراض

بعضې ملحدين د دې حديث نه لاره نيسي طعن ته په قران باندې او هغه په دې ډول چې وايي قران نفي کوي، له دې نه چې نبي صلی الله عليه وسلم دې شاعر وي او دلته حديث کې د دې جملې نه چې (هل انت إلا إصبع دميت في

سبيل الله ما لقيت) نه معلوميږي چې نبي صلى الله عليه وسلم شاعر وو علماوو د دې اعتراض ځو جوابه كړي دي.

(يو جواب) دا شعر نه دى بلكه رجز دى او د مشهور نحوي او لغوي امام اخفش دا مذهب دى، چې رجز شعر نه دى.

(دويم جواب) دا اتفاقي كلام دى چې موزون او برابر واقع شوى، نيت او اراده ورته نده شوي. [قسطلانی ۵/۴۳]

(دريم جواب) په ناڅاپي او نادر طريقې چې كله هم داسې څه وزنونه برابر شي نو د هغې په صاحب د شاعر اطلاق نه كيږي بلكې شاعر هغه دى چې هغه شعرونه نشيد كوي، د ښځو اوصاف ذكر كوي مدحې او مذمتونه كوي او په اساليبو او اجناسو كې لاس وهنه كوي، او حال دا چې نبي كريم صلى الله عليه وسلم، الله تبارك وتعالى له دې صفت څخه پاك كړى دى او د هغه منزله او مرتبه يې له دې څخه محفوظ كړي ده. نو حاصل دا چې هغه څه چې د نبي صلى الله عليه وسلم څخه نفى كړى شوي دي، هغه د شاعرۍ صنعت دى نه نور څه :[عمدة/۱۴ ۱۰۰]

او دې لپاره مونږ دا مثال هم ذكر كولى شو چې دا به (څلورم جواب) شمارلى شي، او هغه دا چې كله يو أمّي انسان اتفاقى كله يوه خبره وكړي، او هغه د شريعت سره موافقه وي يا يوه خبره وكړي او هغه د طب موافقه وي، نو په دې سره دغه أمّي نه د عالم او نه د طبيب په صفت موصوف ګرځي. نو كه د نبي صلى الله عليه وسلم يو قول موزون واقع كيږي نو څنګه به ده ته په دې سره د شاعر صفت وركولى شي او حال دا چې قران كې الله تبارك وتعالى دغه صفت د هغه څخه نفى كړى او دا يې د هغه سره لايق نه دى ګرځولى.

(پنځم جواب) بل عجيبه دا ده چې دا قران د صحابه وو رضوان الله عليهم اجمعين په حضوركې نازل شوى او دغه حديث هم د ګڼو صحابه وو په حضور كې ويل شوى او اوريدل شوى دى خو هغوى چرته هم دا د قران او حديث تر منځه د تضاد او مخالفت لپاره دليل نه دى نيولى، او نن بعضې د دين دشمنان دغه او د دې په شان بعضې روايتونه په قران باندې د طعن لپاره دلايل ګرځوي نو چې صحابه ۇ سره له دې چې اهل اللغة واللسان وو او دغه ډول وينا د رسول الله صلى الله عليه وسلم يې شعر نه دى ګرځولى او نه يې د قران مخالفت ګڼلى نو دا صريح دليل او قاطع جواب دى چې دا شعر نه دى. او رسول الله صلى الله عليه وسلم شاعر نه ۇ او څنګه به وي چې الله تبارك وتعالى په سورة يس ۶۹ نمبرايت كريمه كى فرمايي: وَمَا عَلَّمۡنَـٰهُ ٱلشِّعۡرَ وَمَا يَنۢبَغِى لَهُۥٓ إِنۡ هُوَ إِلَّا ذِكۡرٌ وَقُرۡءَانٌ مُّبِينٌ .

ژباړه: او مونږ نه دى ښودلى ده ته شعرګويي او نه مناسب (لايق) دى دا له ده سره، نه دى دا (چې مونږ ده ته وركړى) مګر ياداښت او قران ښكاره.

فوائد الحديث

[۱] دليل دى په دې چې جهاد افضل عمل دى وروسته د ايمان لرلو نه.

[۲] رسول الله صلى الله عليه وسلم به په خپله غزاګانو كې برخه اخيستله.

[۳] د الله په لار كې كه بغير د دشمن نه هم زخم واقع شي نو بيا هم فضيلت لري، او باعث د اجر دى ځكه بل روايت كې د حديث تفسير دى چې نبي صلى الله عليه وسلم روان وو چې په كاڼې يې ګوته زخمې شوه.

۱۰باب من يجرح في سبيل الله عزوجل.

باب ثابت دى په فضيلت د هغه چا چې زخمي شي په لاره د الله عزوجل كې.

حصول الأجر والثواب بتشريح كلمات ما فی الباب

باب يا خو منون دى خبر دى د مبتداء محذوفي او هغه كلمه د (هذا) ده او يا باب معرفه مضاف دى او مضاف اليه يې محذوف دى چې هغه د (فضل)كلمه ده يعني باب فضل من يجرح في سبيل الله عزوجل) مَنْ موصوله دى عام دى په مراد كې نو كه دغه زخم والا هر سوک وي هغه ته دغه فضيلت شامل دى، يجرح دا د مجهول صيغه ده.

مطرالرحمة والسحاب بذكرمناسبة ترجمة الباب مع الكتاب

دا باب د كتاب الجهاد د أبوابو د عدد او شمير په اعتبار سره لسم ۱۰ نمبر باب دى، بخاري رحمه الله په دې كې يو حديث د ابوهريره رضي الله عنه نه ذكر كوي بيا مناسبت د ترجمة الباب د كتاب الجهاد سره ښكاره او معلوم دى چې هغه د (يكلم) او د (في سبيل الله) كلمې او ألفاظ دي.

شفاء الأمراض بدفع الشبهةالإعتراض

مخكې باب كې همدغه معنا ذكر شوه نو بيا په دې لفظ سره د بل باب د تړلو څه فائده ده ايا دا تكرار او يا هم له تصنيفي اصولو خلاف نه دى؟

جواب دا دى چې مخكې باب كې يې د النكبة په معنا سره باب تړلى وو او دې باب كې يې د الجرح فى سبيل الله په فضيلة باب تړلى نو لكه څنګه چې الفاظ جدا دي دغه ډول د دې معنا هم جدا ده.

او دا خبره په تير باب كې مونږ د جوهري او ابن الأثير په حوالې سره ذكر كړى وه چې نكبة عام ده زخم، ټكور، پريشاني او هر مصيبت او افت ته شامله ده، او جرح خاص ده صرف زخم ترينه مراد دى نو د دې مناسبت په وجه غالبا امام بخاري رحمه الله دا باب مستقل ذكر كړو اګر چې دا معنا مخكې باب كې ضمناً هم ذكر ده نو دا او د دې پشان د باريكو نكتو او فقهي دقايقو ته په اشارو او په هغې باندې عبور لرلو د وجې نه علماء دا فرمايي: چې فقه البخاري فى تراجمه بل دا چې غالبا امام بخاري رحمه الله د هر حديث د هر لفظ نه بيل بيل استنباط كوي او د هغې لپاره ترجمة الباب وضع كوي همدا وجه ده چې تاسو به يو حديث وينئ چې بار بار يې مختلفو ابوابو كې ذكر كوي. والله أعلم.



لوستل يې مه هيروئ!

دا په زړه پورې، ګټور او مالوماتي كتاب خو ورځې وړاندې له العزائم خپرندويه ادارې څخه نشر شوى كه مو نه وي لوستى ويې ولولئ او هم يې تر نورو ورسوئ ددې كتاب فارسي او انګليسي ژباړه به ډير ژر له العزائم خپرندويه ادارې له لورې خپره شي په دې هيله چې ترلاسه يې كړئ

د انس رضی الله عنه حڅه روایت دی ، چې
رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل:
دری صفتونه چې په چاکې وي هغه د
ایمان خوند ومومند

١ چې شي الله او دهغه رسول ډیر خوخ دته
د هر څه نه

٢ نه خوښوي یو سړي لره مګر د الله لپاره

٣ او دا چې بده وګڼي چی بیرته کافر شي
وروسته ددی نه چې الله نجات ورکړی ، او
داسې یې بد وګني لکه اور ته چې غورځول
کیږي

رواه البخاري (١٦)

مؤسسة العزائم الإعلامية

سِيرَةُ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَعَلَى آلِهِ وَسَلَّمَ

سيرت اووم درس

بسم الله الرحمن الرحيم

الحمد لله رب العالمين والصلاة والسلام على سيد الأنبياء والمرسلين وعلى آله وصحبه أجمعين، أما بعد: محترمو مسلمانانو ورونو، تیر درس کې د نبي علیه السلام د رضاعت بیان وشو، وس د الله په توفیق د ابتدايي ژوند یو څو نور احوال یې ذکر کوو. ان شاء الله.

د نبي عليه السلام د شق الصدر (سینه څیرلو) معجزه:

د وړوکوالي راهیسې د نبي علیه السلام څخه داسې نادره او خارق العادت کارونه ښکاره کیدل، چې دې ته ارهاصات النبوة ویل کیږي، څه بیان به یې وروسته هم راشي، ان شاء الله. خو یوه عجیبه واقعه د نبي علیه السلام د سینې مبارکې څیرل او آپریشن کول و، چې جبریل علیه السلام لخوا ترسره شو، دا معجزه دوه ځل رامنځ ته شوې وه، لمړی ځل چې نبي علیه السلام په بنو سعد کې د رضاعت مودې څخه وروسته د تربیت او روزنې په حال کې و، او عمر یې دغه وخت څلور کاله و. [ابن سعد الطبقات ج ١/ ص ١١٢ او دلائل النبوة د أبو نعیم أصبهاني ص ٤٩]

د لمړي ځل د نبي علیه السلام د سینې څیرلو واقعه به د خادم الرسول أنس بن مالک رضي الله عنه څخه واورو:

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَتَاهُ جِبْرِيلُ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ يَلْعَبُ مَعَ الْغِلْمَانِ، فَأَخَذَهُ فَصَرَعَهُ، فَشَقَّ عَنْ قَلْبِهِ، فَاسْتَخْرَجَ الْقَلْبَ، فَاسْتَخْرَجَ مِنْهُ عَلَقَةً، فَقَالَ: هَذَا حَظُّ الشَّيْطَانِ مِنْكَ، ثُمَّ غَسَلَهُ فِي طَسْتٍ مِنْ ذَهَبٍ بِمَاءِ زَمْزَمَ، ثُمَّ لَأَمَهُ، ثُمَّ أَعَادَهُ فِي مَكَانِهِ، وَجَاءَ الْغِلْمَانُ يَسْعَوْنَ إِلَى أُمِّهِ - يَعْنِي ظِئْرَهُ - فَقَالُوا: إِنَّ مُحَمَّدًا قَدْ قُتِلَ، فَاسْتَقْبَلُوهُ وَهُوَ مُنْتَقِعُ اللَّوْنِ "، قَالَ أَنَسٌ: «وَقَدْ كُنْتُ أَرَى أَثَرَ ذَلِكَ الْمِخْيَطِ فِي صَدْرِهِ». أخرجه مسلم.

ژباړه: جبریل علیه السلام نبي علیه السلام ته راغی چې هغه ماشومانو سره یې لوبې کولې، نو دا یې راونیوو او په ځمکه یې څملاوه، سینه یې ورڅیرې کړه، زړه یې ترې راوویست، یوه ټوټه غوښه یې ورنه لیرې کړه، او ویې ویل: دا ستا په وجود کې د شیطان برخه ده، بیا یې د سرو زرو په یوه طشت کې د زمزم په اوبو ومینځه، بیا یې بیرته سره یو ځای کړ او په خپل ځای کې یې ورکیښودو. ماشومان په منډو منډو دده رضاعي مور ته راغلل او ورته ویې ویل: چې محمد (صلی الله علیه وسلم) ووژل شو. د کور خلک یې پسې راووتل او محمد (صلی الله علیه وسلم) یې پداسې حال کې مخې ته راغی چې مبارک رنګ یې الوتی و. انس رضي الله عنه وفرمایل: ما د هغه په سینه کې د ګنډلو نښې وروسته هم لیدلې.

دا واقعه چې رامنځ ته شوه، نو د حلیمې خاوند وېرار شو، او دواړو دا پریکړه وکړه، چې دا ماشوم به خپلې مور او نیکه ته روغ وسپارو، هسې نه چې څه مصیبت او مشکل ورته ورسیږي او مونږ به یې مسؤولین ګڼل کیږو، نو دوی سره ددې چې محمد رسول الله علیه السلام سره یې بې کچه مینه درلوده، خو زړه نا زړه یې مور ته وروګرځاوو. واقدي د عبد الله بن عباس رضي الله عنهما څخه نقل کړي چې دغه وخت د نبي علیه السلام عمر پنځه کاله و او نورو بیا لیکلي چې څلور کلن و. [أبو نعیم الأصبهاني ج ١/ ص ١١٨]

سیرت د ابن هشام دومره خبره هم لیکلې ده، چې کله یې نبي علیه السلام خپلې مور آمنه ته راوړو، نو هغې ترې تپوس وکړو چې ولې دې دومره زر راوړو، تا خو ویل چې مونږ سره یې پریږده؟ حلیمې ورته حال نه ویلو تر دې چې آمنې بي بي هغه مجبوره کړه، آخر هم حلیمې بي بي ورته ټوله کیسه تېره کړه، چې دغه شان دوه کسان راغلي و، او ستا د زوی سینه یې وڅیرله، آمنې ورته وویل: آیا ته زما په زوی د شیطان [پیري] څخه ډاریږې؟ هغې ورته وویل: هو، آمنې ورته وویل زما په زوی د شیطان څخه مه ډاریږه، دا د لوړ شان خاوند دی. کله چې دا زما په خېټه و نو ما زما د جسم څخه رڼا وتلې وه چې د شام د بصرى سیمې بنګلې پرې روښانه شوې. بس دا زما بچی ما سره پریږده او ته په خیر لاړه شه. [سیرة ابن هشام ج ١/ ص ١٦٥]

نو پدغه طریقې سره د نبي علیه السلام د زړه وینځل او صفا کول د نبوت زمینه سازي وه، هماغه اثر و چې نبي علیه السلام د شرونو څخه وژغورل شو، او یوه ورځ یې هم کوم بت ته سر ټیټ نه کړ، د عبادت په پار یې ورته سجده ونه کړه، سره ددې چې ټوله کورنۍ او ټولنه کې یې شرک اوج ته رسیدلی و. او د ځمکې په سر دا لمړی آپریشن و، ددې نه وروسته طبیبانو دا وپیژندل چې ژوندي انسان خیټه څیرل هم ممکن دي، هغوی سوچونه شروع کړل او نتیجه کې یې د آپریشن ابتکار وکړو. په اسلامي شریعت کې د هر عمل اصل شته، ولو که هغه هر څومره پرمختللی کار ولی نه وي؟ خو کتاب سنت کې به یې خامخا یو اصل وي، نو کوم خلک چې کتاب او سنت نیمګړې ګڼي نو ددوی دعوه باطل ده.

د مشفقې مور په غیږ کې:

کله چې حلیمې بي بي نبي علیه السلام خپلې مور ته وروسپارو نو فقط یو کال یا دوه کاله یې د خپلې مهربانې مور په غیږ کې تیر کړل، مور ته یې هم زیات ګران و، ځکه پلار یې وفات و، دا یتیم و، همدا یو زوی یې و، په ځوانۍ کې کونډه شوې وه، نو ټوله توجه یې همدې ګلالي زوی ته وه.

سیرت د ابن هشام لیکلي دي چې کله نبي علیه السلام شپږ کلن شو، نو دده مور آمنه بي بي چې خپل خاوند د عبد الله فراق په لمبو کې سوځیده، اراده وکړه چې زه د خپل خاوند قبر ته لاړه شم، [لکه دا معمول وي چې داسې زنانه چې زړه یې ډیر غمجن وي نو قبر ته ورتګ باندې خپله تسلي کوي. خو کله کله د تسلۍ په ځای یې غم نور هم ډیریږي] نو آمنې بي بي نیت وکړ چې د وفا په دود د خپل میړه د قبر زیارت وکړي، نو د یثرب په لور یې حرکت وکړ، او تقریبا پنځه سوه کیلومتره لار یې ووهله. پدې سفر کې ورسره خپل یتیم زوی محمد (صلی الله علیه وسلم)، خادمه ام أیمن او سرپرست عبد المطلب هم ملګري وو. آمنه بي بي هلته یوه میاشت تیره کړه، بنو عدي بنو نجار یې ماماخیل و، د هغوی سره یې وخت تیر کړو. خو کله چې بیرته مکې ته راستنیده نو مریضه شوه، په لاره کې یې تکلیف زیات شو، بالآخره د مکې او مدینې ترمنځ ابواء نومې سیمه کې یې روح ملک الموت ته وسپارو.

[سیرة ابن هشام ج ١ / ص ١٦٨]

[تنبیه: دا احوال امام ابن اسحاق د عبد الله بن أبي بکر بن محمد بن عمرو بن حزم څخه اوریدلي دي او مرسل روایات دي.]

نو هغه معصوم کوچنی چې د ژوند شپږ بهارونه یې لا تیر نه و، چې خزان بله چپه پرې راغله، د پلار څخه وروسته یې د مور د شفقت سیورۍ هم له سره لیرې شو. او د ژوند اوږده مزل تر څنګ په دشتو او غرونو کې تر مکې پورې مزل یې هم بې موره پیل وکړ، مکې ته پداسې حال کې ورننوت چې پلار

يې د مدينې په خاوره او مور يې د أبواء په سيمه کې ترشا پريښوده. د ژوند کومه ترخه خاطره وه چې دغه ماشوم باندې نه وه تيره شوې.

[صلى الله عليه وسلم]

نبي عليه السلام ته هم د انساني انس او محبت له امله خپله مور سخته ګرانه وه، حديث د مسلم کې راځي:

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: زَارَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَبْرَ أُمِّهِ، فَبَكَى وَأَبْكَى مَنْ حَوْلَهُ، فَقَالَ: «اسْتَأْذَنْتُ رَبِّي فِي أَنْ أَسْتَغْفِرَ لَهَا فَلَمْ يُؤْذَنْ لِي، وَاسْتَأْذَنْتُهُ فِي أَنْ أَزُورَ قَبْرَهَا فَأُذِنَ لِي، فَزُورُوا الْقُبُورَ فَإِنَّهَا تُذَكِّرُ الْمَوْتَ» صحيح مسلم.

ژباړه: ابو هريره رضي الله عنه وايي نبي عليه السلام د خپلې مور د قبر زيارت وکړو، خپله يې هم وژړل او شاوخوا خلک يې هم وژړول، بيا يې وفرمايل: ما د خپل رب څخه اجازت وغوښت چې خپلې مور لپاره بښنه وغواړم خو هغه ماته اجازت رانه کړو، او ما بيا د هغې د قبر زيارت کولو اجازت وغوښت نو اجازت راته راکړل شو، نو تاسې قبرونو ته ورځئ ځکه دا مرګ رايادوي.

بل روايت کې هم راغلي دي:

عَنِ ابْنِ بُرَيْدَةَ، عَنْ أَبِيهِ قَالَ: كُنَّا مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَنَزَلَ بِنَا وَنَحْنُ مَعَهُ قَرِيبٌ مِنْ أَلْفِ رَاكِبٍ فَصَلَّى رَكْعَتَيْنِ، ثُمَّ أَقْبَلَ عَلَيْنَا بِوَجْهِهِ وَعَيْنَاهُ تَذْرِفَانِ فَقَامَ إِلَيْهِ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ فَفَدَاهُ بِالْأَبِ وَالْأُمِّ يَقُولُ: يَا رَسُولَ اللهِ مَا لَكَ؟ قَالَ: " إِنِّي سَأَلْتُ رَبِّي فِي اسْتِغْفَارٍ لِأُمِّي، فَلَمْ يَأْذَنْ لِي، فَدَمَعَتْ عَيْنَايَ رَحْمَةً لَهَا مِنَ النَّارِ. مسند أحمد وإسناده صحيح على شرط الشيخين.

ژباړه: بريده رضي الله عنه وايي: مونږ د نبي عليه السلام سره و، نو مونږ دمه وکړه او مونږ تقريبا زر شهسواران و، هغه دوه رکعته لمونځ وکړ، بيا يې مونږ ته مخ راوګرځاوو، او له سترګو يې اوښکې رواني وې، نو عمر بن خطاب ورته ورپاسېدو، ورته ويې ويل: زما مور پلار دې له تا قربان شي، اې د الله رسوله، ولې څه وشو ؟ هغه وفرمايل: ما د خپل رب څخه د مور د بښنې (اجازت) وغوښت، نو اجازت يې رانه کړ، نو د هغې په اوور (سوځيدو) حالت باندې ترحم له امله زما له سترګو اوښکې توي شوې.

او مخکې مونږ وضاحت کړی و، چې د نبي عليه اللسام مور پلار دواړه مشرکان وو. د شرک په عقيده وفات شوي وو.

د مهربانه نيکه تر سيوري لاندې:

کله چې د نبي عليه السلام مور هم وفات شوه، نو نيکه پرې هم پام کاوو، ځکه د نبي عليه السلام پلار عبد الله ورته زيات ګران و، د محبوب زوي بچی يې و، او تازه د مور غم سره مخ و، نه يې بل ورور و، نه يې خور وه، د تنهايي او فراق سره مخ و، د ژوند سفر ورته يواځې په غاړه و، او بله دا وه چې محمد رسول الله صلى الله عليه وسلم خو کوم عام ماشوم نه و، داسې صفات او ځانګړتياوې يې درلودې چې خپل خو پريږده د پردو خلکو توجه او مينه يې هم ځان ته جلب کوله. نو د خپل نيکه مينه خو ورسره بيخي له حده زياته وه. لکه حديث کې راغلي دی:

عَنْ كِنْدِيرِ بْنِ سَعِيدٍ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: حَجَجْتُ فِي الْجَاهِلِيَّةِ، فَإِذَا أَنَا بِرَجُلٍ يَطُوفُ بِالْبَيْتِ وَهُوَ يَرْجُزُ، وَهُوَ يَقُولُ: رَبِّ رُدَّ إِلَيَّ رَاكِبِي مُحَمَّدًا رُدَّهُ رَبِّ إِلَيَّ، وَاصْطَنِعْ عِنْدِي يَدًا ، قُلْتُ: مَنْ هَذَا؟ قَالُوا: «هَذَا عَبْدُ الْمُطَّلِبِ بْنُ هَاشِمٍ، ذَهَبَتْ إِبِلٌ لَهُ فَأَرْسَلَ ابْنَهُ فِي طَلَبِهَا فَاحْتَبَسَ عَلَيْهِ، وَلَمْ يُرْسِلْهُ قَطُّ فِي حَاجَةٍ إِلَّا جَاءَ بِهَا» ، قَالَ: «فَمَا بَرِحْتُ أَنْ جَاءَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَجَاءَ بِالْإِبِلِ مَعَهُ» ، فَقَالَ: يَا بُنَيَّ، لَقَدْ حَزِنْتُ عَلَيْكَ حُزْنًا لَا يُفَارِقُنِي أَبَدًا.

کندير بن سعيد رضي الله عنه له خپل پلار څخه روايت کوي: ما په جاهليت کې حج کړی و، نو ما يو کس وليد چې بيت الله څخه طواف کوي او دا اشعار وايي:

اې ربه! ماته زما سورلی له محمد [عليه السلام] سره راوګرځوې، اې ربه! ماته يې راوګرځوه، او ما سره احسان وکړه. ما تپوس وکړو، دا څوک دی ؟ هغوی وويل: دا عبد المطلب بن هاشم دی، دده اوښ چيرته تللی و، دې وريسې خپل زوی (لمسی) وليږو خو هغه حصار شو، حال دا چې هغه يې هر کار پسې ليږلی دی نو هغه کار شوی دی. وايي: زما هلته وم تر دې چې نبي عليه السلام د اوښ سره راغی، هغه وويل: اې بچيه! زه خو تا پسې زيات خفه وم، چې غم دې له ما هيڅ نه ليرې کېدو.

[أخرجه الطبراني في الكبير: 5524، والبيهقي في دلائل النبوة: 2/ 20 – 21 وابن سعد في الطبقات: 1/ 111، والحاكم في المستدرك: 2/ 603، 604، وابن أبي حاتم في الجرح والتعديل: 2/ 3 / 173، وصححه الحاكم، ووافقه الذهبي. وقال الهيثمي في "المجمع: 8/ 224: رواه أبو يعلى، والطبراني، وإسناده حسن.]

دغه رنګ سيرت ابن هشام [ج ١/ ص ١٦٨] کې بغير له کوم سنده د امام المغازي ابن اسحاق څخه نقل کړي دي:

د کعبې تر سيوري لاندې به عبد المطلب ته ځای برابريده، زامن به يې شاوخوا کيناستل، ترڅو هغه به راغی، هيڅوک به هم ده ته د احترام او تقدير له امله دده په ځای نه کيناستل، خو رسول الله صلى الله عليه وسلم به چې لا تر اوسه ځوان شوی هم نه و، راته او د خپل نيکه په ځای به کيناست، ترونو به يې منع کاوه، اجازه به يې نه ورکوله چې هلته کيني، خو عبد المطلب به چې کله وليدل نو ورته ويل به يې: زما زوی پريږدئ قسم په الله چې د لوړ شان خاوند دی. کله به محمد [صلى الله عليه وسلم] له خپل نيکه سره ناست و، نيکه به يې ورته په سر او شا د مينې لاس تيراوه، او په کړو وړو [حرکتونو] به يې ډير خوشحاليده.

تقريبا دوه کاله د نبي عليه السلام پالنه خپل نيکه عبد المطلب وکړه او بيا ترې د مهربانه نيکه سيورى هم پورته شو، واقدي وايي چې دغه وخت د عبد المطلب عمر ٨٢ کاله و، او د خپل لمسی [محمد صلى الله عليه وسلم] په اړه يې ابو طالب ته وصيت وکړو. [طبقات ابن سعد] ١/ ص ١١٩ – ١٧٧ او واقدي متروک (پرېښودلی شوی) راوي دی]

د نبي عليه السلام عمر دغه وخت اته کاله و. [ابن إسحاق: السير والمغازي 65 - 66 بسند منقطع والبيهقي: دلائل النبوة 2/ 21 - 22 والسيرة النبوية للذهبي 25 - 26 بإسناد ضعيف جدًا إلى ابن عباس]

نبي عليه السلام خپل نيکه پسې سخت خفه و، طبعا داسې ماشوم چې مور پلار يې نه وي او نيکه سره زيات عادت وي، نو لمسي ته دا نيکه د خپل پلار په څير ګران وي، او د مينې يواځنی سرچينه يې وي. او مختلف روايات دې په اړه راغلي دي، چې نبي عليه السلام د خپل نيکه د کټ شاته ولاړ و، او ژړل يې. خو دغه روايات سندا کمزوري دی. [طبقات ابن سعد 1/ 112 – 113 ومستدرك الحاكم 2/ 603 – 604 وصحح الرواية ووافقه الذهبي، لكن في الإسناد عباس بن عبد الرحمن مولى بني هاشم مستور الحال]

د مشفق کاکا په پالنه کې:

ابو طالب ته خپل پلار عبد المطلب د محمد رسول الله عليه السلام په اړه خصوصي وصيت کړی و، ځکه دا د نبي عليه السلام پلار عبد الله سکنی ورور و، نو هغه هم د وصيت مطابق د نبي عليه السلام روزنه او پالنه شروع کړه. د خپل بچو په شان مينه به يې ورته ورکوله. ابو طالب هغه انسان و چې هيڅکله د نبي عليه السلام له خدمت څخه ستړی نشو، تر مرګه يې په ميړانه د خپل وراره څخه دفاع وکړه، په هيڅ قيمت يې قوم ته سر ټيټ نه کړ، د نبي عليه السلام په سر يې د قريشو سره دښمني شوه، بند او اسارت يې هم تير کړ، خو متاسفانه چې دا کارونه يې د الله عزوجل د رضا په پار نه و، مقصود يې د رب اطاعت او د جنت سعادت نه و بلکې قبايلي او خانداني غيرت له امله يې دا کارونه ترسره کول، دين ورته مهم نه و، د رب لحاظ ورته مهم نه و، بلکې خپلولي ورته مهمه وه، نو ځکه ورته رب العالمين اسلام ورنصيب نه کړ، دا اسلام ډير مهم او اعلی نعمت دی، هر چاته يې رب نه ورنصيب کوي، کله کله يو کس شل کاله، ديرش کاله او پنځوس کاله هم مسلمان وي، ددين خدمتونه هم وکړي، جهادونه او هجرتونه هم وکړي خو ددين او د توحيد لايق نه وي الله عزوجل يې ترې محروم کړي، او مرتد شي. معاذ الله.

ابو طالب سره چې نبي عليه السلام ژوند پيل کړ، نو لږ وخت کې يې د نبي عليه السلام برکات وليدل، ځکه ډير نزدې ورسره پاتې شو، او کله چې انسان چا سره نزدې نه وي پاتې شوې نو په پوره خوي او عاداتو باندې يې خبر نه وي، لکه حليمه سعديه سره چې کله نبي عليه السلام پاتې شو نو هغې يې حقيقت وپيژنده، خپله مور بي بي آمنه يې په عظمت شان پوهه وه، او وس ابو طالب په خپلو سترګو د نبي عليه السلام خيرونه وليدل.

ابن سعد ذکر کړي چې کله به نبي عليه السلام د ابو طالب خاندان سره د خوراک دسترخوان ته کيناستو نو ډوډۍ به زياتيدله، تر دې چې ټول به ماړه شول. [ځکه قريش

غریب خلک و، خصوصا ابو طالب خو هیڅ نه لرل نو دومره زیات خواره یې نه درلودل بلکې په نیمه ګیډه خوراک به یې کاوو او کله به چې نبي علیه السلام موجود و نو ټول به خه سم پرې ماړه کیدل] تحقیق: دا روایتونه د واقدي په سند سره نقل دي چې هغه متروک راوي دی، تاریخ دمشق (السیرة) لابن عساکر 1/ 71 - 72 والخصائص الکبری للسیوطي 1/ 83.

د نبي علیه السلام له رویه باران غوښتل:

کله چې ابو طالب د نبي علیه السلام برکات ولیدل نو دومره ترې متاثره شو چې هغه په واسطه یې د باران دعا غوښتله. او دا د مشرکانو عادت و چې یو چا کې به یې خه صفت ولیدو نو بیا به یې رب ته هغه واسطه کاوو. حافظ ذهبي په تاریخ الاسلام [ج ١/ ص ٥٣] کې سند سره ذکر کړي دي:

جلهمه بن عرفطه وایي: زه مکې ته راغلم، دغه وخت خلک له وچکالۍ او قحطۍ سره لاس او ګریوان وو، قریشو ابو طالب ته وویل: سیمه وچکالۍ وهلې، خلک قحطۍ ځپلي، راځه د باران دعا وکړه، نو ابو طالب له یوه داسې هلک سره راووت چې مخ یې لکه د لمر په شان ځلیده، تا به ویل همدا اوس له لمر نه تورې وریځې ایسته شوې او رون، روښانه لمر راښکاره شوی دی. د هلک شاوخوا نور هلکان هم وو، ابو طالب راونیو او د هغه مبارکه شا یې د کعبې شریفې سره ولګوله، هلک یې ګوته نیولې وه، د باران دعا یې وکړه، پدې وخت کې په آسمان کې د وریځې یوه ټوټه هم نه لیدل کیده، خو ورو ورو له یوې او بلې خوا نه وریځې راپیدا شوې، سره ټینګې شوې او داسې باران وشو چې سیمه اوبو په سر واخیسته، ټول وطن خړوب او شاداب شو. ابو طالب همدې پیښې ته په اشارې سره د رسول الله صلی الله علیه وسلم داسې ستاینه کوي:

[وَأَبْيَض يُسْتَسْقَى الغَمَامُ بِوَجْهِهِ ... ثِمَالُ اليَتَامَى عِصْمَةٌ لِلْأَرَامِلِ]

هغه سپین (ښکلی) دی، دده له رویه د باران سوال کیږي، هغه د یتیمانو د پناه ځای او د کونډو ساتونکی دی. تحقیق: أبان بن الولید [المعیطي] مجهول دی او جلهمة بن عرفطة ترجمه او احوال د تخریج په کتابونو کې پیدا نشول.

امام بخاري هم د عبد الله بن عمر رضي الله عنهما څخه معلق روایت ذکر کړی، چې خلکو د نبي علیه السلام څخه د باران مطالبه وکړه، نبي علیه السلام دعا وکړه او الله عزوجل باران وکړو، نو هغه ته د ابو طالب دا شعر ورپه زړه شو. خو دا روایت هم معلق دی، او معلق روایت د امام بخاري په شرطونو پوره ندی، ولو که په صیغه د جزم سره دی، خو امام صیب شرط لګولی دی: المُسنَد، نو ځکه دا معلق حجت نشي کیدای.

مسئله د توسل:

د ابو طالب لخوا د نبي علیه السلام په ذات باندې وسیله نیول ذکر شو نو دې نه هم بعضې مبتدعینو د نیکانو او صالحینو په ذواتو باندې د توسل په جواز استدلال کړی دی، سره ددې چې دغه اثر کې دوه خبرې دي:

اول: دا سندا صحیح ندی ثابت.

دویم: که ثابت هم شي، د یو مشرک عمل دی او شریعت کې ورته هیڅ اعتبار نشته.

اړینه ده چې تر ټولو مخکې د نبي علیه السلام په ذات باندې د توسل نیولو معنا وپیژندل شي، هغه دا چې یو انسان خپل رب څخه دعا کوي، خو د دعا په مینځ کې د نبي علیه السلام ذات هم د دعا د قبولوالي لپاره ذکر کړي، نو وایي : یا الله زه له تا څخه د نبي علیه السلام په حق باندې سوال کوم یا د هغه په جاه (منزله او مرتبه) باندې سوال کوم یا داسې نور.

دا مسئله چون تفصیلي ده نو خلاصه یې دا ده چې کوم روایات د نبي علیه السلام ذات وسیله نیولو په اړه راغلي یا خو ضعیف دي او یا هلته د نبي علیه السلام په دعا باندې توسل شوی، د نبي علیه السلام ذات الله عزوجل ته ندی وسیله شوی چې د هغه د ذات له امله زمونږ حاجت پوره کړه. او د ژوندي صالح انسان دعا باندې توسل په اتفاق د امت سره مشروع وسیله ده. پدې خبره د صحابه وو اجماع ده، چې نبي علیه السلام په ذات باندې توسل نیول جایز ندي، راځئ یو فیصله کن دلیل سره دا مسئله روښانه کړو:

عَنِ أَنَسٍ قَالَ: كَانُوا إِذَا قَحَطُوا عَلَى عَهْدِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اسْتَسْقَوْا بِالنَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَيَسْتَسْقِي لَهُمْ فَيُسْقَوْنَ فَلَمَّا كَانَ بَعْدَ وَفَاةِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي إِمَارَةِ عُمَرَ قَحَطُوا فَخَرَجَ عُمَرُ بِالْعَبَّاسِ يَسْتَسْقِي بِهِ فَقَالَ:اللَّهُمَّ إِنَّا كُنَّا إِذَا قَحَطْنَا عَلَى عَهْدِ نَبِيِّكَ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَاسْتَسْقُينَا بِهِ فَسَقَيْتَنَا وَأَنَا نَتَوَسَّلُ إِلَيْكَ الْيَوْمَ بِعَمِّ نَبِيِّكَ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَاسْقِنَا قَالَ: فسقوا. [صحيح ابن حبان ج ٧ / ص ١١٠، إسناده صحيح على شرط البخاري.]

ژباړه: انس رضي الله عنه وایي کله به چې د نبي علیه السلام په زمانه کې په صحابه وو وچکالي راغله نو هغوی به په نبي علیه السلام سره د باران سوال کوو، نو نبي علیه السلام به باران طلب کوو او باران به پرې وشو، کله چې د نبي علیه السلام وفات څخه وروسته د عمر رضي الله عنه خلافت کې وچکالي راغله نو عمر رضي الله عنه عباس رضي الله عنه راوویستلو، او ویې ویل: اې الله کله به چې ستا د نبي په دور کې وچکالي راغله نو مونږ به د هغه (دعا) سره باران غوښتلو او تا به په مونږ باران کولو او نن مونږ تا ته د نبي علیه السلام د تره عباس (دعا) وسیله کوو نو مونږ باندې باران وکړې، هغه وایي نو هغوی باندې باران وشو.

د عمر رضي الله عنه دا عمل په صحیح البخاري کې هم روایت دی.

طريقه د استدلال: کچیرې صحابه وو د نبي علیه السلام په ذات باندې وسیله نیوله نو عباس رضي الله عنه ته څه حاجت و خو صحابه وو به نبي علیه السلام ذات وسیله ګرځولی و، هغه قبر کې موجود و نو بل انسان ته څه حاجت و، خو معلومه دا شوه چې ټولو صحابه وو په اجماع سره دا عقیده درلوده چې د یو چا په ذات سره توسل نه کیږي، بلکې د ژوندي انسان په دعا سره وسیله نیول کیږي. نو ځکه یې عباس رضي الله عنه راوویستلو او هغه باندې یې دعا وکړه. بیا چې کله عباس رضي الله عنه وفات شو نو ابو زرعه دمشقي په صحیح سند سره په تاریخ دمشق (ص ٦٠٢) کې نقل کړي دي: معاویه رضي الله عنه د امارت دور کې په دمشق باندې وچکالي راغله، نو معاویه رضي الله عنه یزید بن الأسود استسقاء لپاره راوویستلو.

نو دا د صحابه وو معمول و چې نیکان او صالحین به یې باران غوختلو لپاره راویستل او له هغوی څخه به یې دعا طلب کوله.

د دې معنا دا نده چې د الله په وړاندې د نبي علیه السلام قدر او مرتبه نشته، نه بلکې هغه د مقام محمود خاوند دی، هغه خو د آدم علیه السلام د ټولو زامنو څخه غوره دی او د ټولو سردار دی (أنا سيد ولد آدم يوم القيمة ولا فخر) رواه البخاري. خو دعا کې وسیله نیول یو عبادت دی، نو اصل په عباداتو کې توقیف دی، د ځان څخه به نوې طریقې نشي جوړولې، چې توسل دومره لوي خیر وای نو سلفو به نیولی وای. نو مشروع توسل په درې ډوله دی:

اول: د الله عزوجل په نومونو او صفتونو توسل.

دویم: په خپلو نیکو اعمالو توسل.

دریم: د نیک سړي په دعا توسل، داسې کس چې ژوندی وي.

ددې پرته د چا په ذات، مرتبه او چاه باندې توسل نیول بدعت دی، لکه ددې زمانې جاهلان بعضې خلکو ته د الله عزوجل نازولي وایي او د هغوی په ذواتو سره توسل نیسي نو دا کار ناجایز دی.

د شام په سفر کې د بحیرا راهب ځرګندونې:

کله چې نبي علیه السلام د نهو کالو شو، یا لس یا دولس کلن شو، [ابن سيد الناس: عيون الأثر 40] نو ابو طالب د تجارت په سلسله کې شام ته روان شو، ځکه قریش تجاران وو، شام ته به یې سفرونه کول او یو څه به یې ګټل، بیا به د هغه پیسو تر ختمیدو پورې مکه کې وزګار ناست وو، نو د قریشو قافله تلله، ابو طالب هم روان شو، نبي علیه السلام ته خپل کاکا هم ډیر ګران و، نو کاکا جدایي ورته د زغم وړ نه وه، او مطالبه یې ترې وکړه چې دغه اوږد سفر کې درسره زه هم ملتیا کوم، ما په مکه کې مه پریږده، ته چې دلته نه یې نو زما ژوند ګرانیږي، ابو طالب باندې هم خپل یتیم وراره له حده ګران و، نو هغه کوشش وکړ چې دلته پاتې شي، ځکه دا اوږده مزلونه دي، د ماشومانو د وسع کار ندی، خو د خپل وراره د اصرار له کبله یې د هغه مطالبه ومنله. او هغه یې ځان سره شام ته روان کړ. د بصری نومې سیمې ته ورسیدل، چې دا په شام کې د حوران د منطقې یو ښار و، دا ښار هغه وخت په عربي جزیره کې د رومي مستعمرو مرکز و، دلته یو راهب (بزرګ) اوسیدو، چې نوم یې جرجیس، یا جرجس، یا سرجیس او یا سرجس و. [الزرقاني: شرح المواهب اللدنية 1/ 194 والسهيلي: الروض الأنف 1/ 118 والمسعودي: مروج الذهب 2/ 75 ودائرة المعارف الإسلامية 2/ 397]

امام ترمذي او امام حاکم په خپلو کتابونو کې دا حدیث ذکر کړی دی، چې خلاصه یې داسې ده:

کله چې د قریشو دا کاروان د بزرګ عبادتخانې ته ورورسید، نو راووت، سره ددې چې مخکې به هم قریش پدې لاره تلل خو دا بزرګ ورته کله هم نه و راوتلای، نو بزرګ راغی تر دې چې د رسول الله علیه السلام لاس مبارک یې ونیوو، او ویې ویل: دا د کائناتو سردار دی، دا د کائناتو پالونکي رب لخوا رسول دی، الله به یې د عالمونو لپآره رحمت ګرځوي. د قریشو مشرانو ترې وپوښتل: ته څنګه پوهه شوې؟ هغه ورته وویل: تاسې چې دې غونډۍ څخه راکیوتئ نو ټولو ونو او کاڼو سجده وکړه، او دا شیان د نبي پرته بل چا ته سجده نه کوي، او زه دا د هغه مهر له مخې هم پیژنم چې د اوږې د لاندې کرپیدونکي هډوکي باندې د مڼې په شکل کیښودل شوی دی. بیا یې ددوی میلمستیا وکړه، کله چې هغه ډوډۍ راوړه نو نبي علیه السلام د اوښانو سره و، نو هغه وویل: چې دا راوغواړئ، نبي علیه السلام چې راغی نو په سر یې د وریځو یوې ټوټې سیوری کړی و، کله چې د خپل قوم خواته راورسید، نو د ونې لاندې سیوری خلکو نیولی و، نو لمر ته کیناست، خو د ونې سیوری هغه ته وروړاندې شو، نو هغه وویل: وګورئ، د ونې سیوری وربانډې راټیټ شو، بیا هغه بزرګ قریشو ته قسم ورکړو چې دا روم ته مه بوځئ، ځکه که رومیانو ددې صفاتو څخه وپیژندو نو قتل به یې کړي. ناڅاپه دغه بزرګ چې کتلې نو اووه کسان د روم څخه راروان وو، دا ورته مخې ته ورغی او پوښتنه یې ترېنه وکړه، څنګه راغلي یاست؟ هغو ورته وویل: مونږ ته خبر راکړل شوی دی چې آخري نبي پدې میاشت کې راوتونکی دی، نو هرې لارې ته خلک لیږل شوي دي، او مونږ په دغه هدف دې لارې ته رالیږل شوي یو. بزرګ ورته وویل: تاسې دداسې کار په اړه فکر وکړئ چې الله عزوجل یې د تکمیلولو اراده کړي وي، آیا څوک به یې رد کړي؟ هغو وویل: نه، نو بیا یې هغه سره بیعت وکړ او هغه سره اوسیدل. هغه بزرګ قریشو ته وویل چې تاسې کې د نبي علیه السلام ولي (سرپرست) څوک دی؟ هغوی ورته ابو طالب په



ګوته کړ نو هغه بزرګ ابو طالب ته قسمونه ورکول تر دې چې ابو طالب هغه (نبي عليه السلام) بيرته مکې ته ستون کړ. او ابو بکر رضي الله عنه ورسره بلال هم وليږو.

تعليق:

دې حديث متن کې دا آخري جمله ادراج شکاري، پدې باندې ابن سيد الناس، حافظ ذهبي، حافظ ابن القيم او حافظ ابن حجر وغيره ردونه کړي دي. ځکه ابو بکر رضي الله عنه د نبي عليه السلام څخه دوه نيم کاله کشر و، او بلال خو بيا بيخي کشر و، بلکې دغه وخت لا بيخي پيدا هم نه و، نو دغه قافله کې ابو بکر او د بلال رضي الله عنهما ذکر د راويانو خطا ده. اما سند باندې يې حافظ ذهبي کلک انتقاد کړی او ويلي يې دي، چې دا حديث موضوعي دی او بعضې حصه يې باطله ده، او د سند او متن په بطلان يې اکثر وجوهات عقلي ويلي دي، خو بيا هم نورو علماؤ دغه آخري جملې پرته ورته حسن ويلي دي. والله أعلم.

د ګډو بيزو څرول:

نبي عليه السلام د ابو طالب سره اوسيدو او مونږ مخکې يادونه وکړه، چې ابو طالب اقتصادي وضع څه نه وه، د پلار څخه ورته ميراث کې هم څه نه و پاتې، نو نبي عليه السلام هم د مکې د نورو ماشومانو په څير د ګډو او بيزو څرولو ته اړ شوی و.

لږې ځل يې د ماشومتوب پر مهال بنو سعد کې رضاعي مور کره څرولي دي، لکه مخکې ذکر يې وشو. او وروسته يې د ابو طالب د کفالت پرمهال څرولي دي.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «مَا بَعَثَ اللَّهُ نَبِيًّا إِلَّا رَعَى الغَنَمَ»، فَقَالَ أَصْحَابُهُ: وَأَنْتَ؟ فَقَالَ: «نَعَمْ، كُنْتُ أَرْعَاهَا عَلَى قَرَارِيطَ لِأَهْلِ مَكَّةَ» صحيح البخاري.

ژباړه: ابو هريره رضي الله عنه وايي چې نبي عليه السلام وفرمايل: الله عزوجل هيڅ يو نبي نده راليږلی مګر هغه ګډې بيزې څرولي دي. صحابه وو ورته وويل: او تاسي هم ؟ هغه وفرمايل: هو، ما د لږو پيسو په بدل کې د مکې خلکو ګډې او بيزې څرولي.

او بل روايت کې هم راځي:

أَخْبَرَنِي جَابِرُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ، قَالَ: كُنَّا مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمَرِّ الظَّهْرَانِ نَجْنِي الكَبَاثَ، فَقَالَ: «عَلَيْكُمْ بِالأَسْوَدِ مِنْهُ فَإِنَّهُ أَيْطَبُ» فَقَالَ: أَكُنْتَ تَرْعَى الغَنَمَ؟ قَالَ: «نَعَمْ، وَهَلْ مِنْ نَبِيٍّ إِلَّا رَعَاهَا». صحيح البخاري.

ژباړه: جابر بن عبد الله وايي: مونږ د رسول الله عليه وسلم سره په مر الظهران سيمه کې وو، ماڼې مو کولې، نبي عليه السلام وفرمايل: دا توري وشکوئ ځکه دا ډيرې خوږې وي. هغه وويل: آيا تاسي هم ګډې بيزې څرولي ؟ نبي عليه السلام وفرمايل: هو، او ټولو انبياؤ څرولي دي.

پدې ګډو او بيزو څرولو کې ډير حکمتونه دي، خو تر ټولو مهم دا علماؤ ذکر کړی چې دې سره قائد ته د اداري او مديريت څه تجربه ترلاسه کيږي، ځکه ګډې او بيزې ډير وراني کوي، نو د هغوئ اداره کول دا ګران کار دی، چې هغه سره انسان بلد شي نو بيا د انسانو اداره کول هم ورته آسان شي. بله فايده يې دا ده چې عاجزي انسان کې پيدا کوي. لکه د اوښانو ساتونکی د اوښانو په شان متکبره وي او د ګډو بيزو ساتونکی خوې هم د دوی په شان عاجز وي.

د حرب الفجار (ګناه جګړې) ته حاضريدل:

کله چې نبي عليه السلام تنکی ځوان و، تقريبا ۱۵ کلن شو، نو د فجار جګړه ونښته، پدې جګړه کې قريش او کنانه يوې خواته او قيس عيلان بلې خواته وو. د قريشو او کنانه مشري د حرب بن أميه په غاړه وه ځکه هغه له ټولو مشر او د شرف خاوند و. د ورځې په لومړي سر کې قيس په کنانه باندې برلاسي وو، خو د ورځې نيمايي برخه کې د جنګ حالت بدل شو، او بريا د کنانه په برخه شوه.

دې جګړې ته ځکه حرب الفجار وايي چې پدې سره د حرم شريف او د عزتمندو حرامو مياشتو حرمت تر پښو لاندې شوی و. رسول الله عليه السلام هم دې جګړه کې ګډون درلود او خپلو ترونو ته يې غشي برابرول.

تعليق:

واقدي چې متروک راوي دی او امام ابن اسحاق دواړو دا روايت پرته له کوم سند څخه ذکر کړی، لهذا د نبي عليه السلام دې جنګ ته حاضري ثابته نده.

حِلْفُ الْفُضُول (غوره ترون):

د حرب الفجار څخه وروسته د ذي القعده په مياشت کې چې د حرم له مياشتو څخه ده، حلف الفضول (د فضول ترون) ترسره شو. ددې کار اهتمام د قريشو ځينو کورنيو لکه بنو هاشم، بنو المطلب، اسد بن عبد العزى، زهره بن کلاب، او تيم بن مره کړی و. ټول د عبد الله بن جدعان تميمي په کور کې سره راغونډ شول، چې دا د قريشو يو مشر سړی و، او داسې عهد او ترون يې وکړ چې په مکه کې به له هر مظلوم سره ولاړ وي، د هر مظلوم مرسته به کوي، هغه ددې ځای اوسيدونکی وي او که د بل ځای وي، او تر هغه به د مظلوم خوا نه پريږدي، ترڅو يې له ظالم نه ورته خپل حق نه وي اخيستی.

نبي عليه السلام هم دې ترون ته حاضر شوی و او د نبوت څخه وروسته به يې ويل:

عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ عَوْفٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: " شَهِدْتُ حِلْفَ الْمُطَيَّبِينَ مَعَ عُمُومَتِي وَأَنَا غُلَامٌ، فَمَا أُحِبُّ أَنَّ لِي حُمْرَ النَّعَمِ، وَأَنِّي أَنْكُثُهُ " مسند أحمد.

ژباړه: عبد الرحمن بن عوف وايي چې نبي عليه السلام فرمايلي دي: زه د مطيبين ترون ته د خپلو ترونو سره حاضر شوی وم، او هغه وخت زه هلکی وم، نو زه دا نه خوښوم چې دغه ترون د ماتولو په عوض دې زما لپاره سره اوښان وي.

دې ترون ته حلف المطيبين هم وايي، علامه سندي وايي: چې دغه قبايلو په مسجد حرام کې قسمونه وکړل، چې مونږ به د مظلوم کومک کوو، صله رحمي به پالو، بيا بنو عبدمناف د اوبو ډک يو لوښی (لګن) يې راوويستلو او ټولو پکې لاسونه ښکته کړل، نو ځکه ورته حلف المطيبين وايي، بيا علماء وايي چې حلف المطيبين د قصي د مړيني پرمهال د بنو عبد الدار او بنو عبدمناف ترمنځ د منصبونو ويش پرمهال تنازع څخه وروسته رامنځ ته شوی و، خو همدغه قبايلو حلف الفضول هم کړی و، نو ځکه دې ترون ته حلف المطيبين هم وايي.

دې ترون ته نبي عليه السلام ځکه حاضر شوی و چې دا د انصاف او عدل ترلاسه کولو، مظلوم څخه دفاع او حق دار ته خپل حق ورکولو ترون وه، او داسې د خير کارونو ته هميش صالحين بندګان حاضريږي.

د صليبيانو وژل د اسلامي دولت لومړيتوب دی

د اسلامي دولت د تأسيس له لومړۍ ورځې د دغه دولت له پاک منهج او سپېڅلي عقيدې څخه د نړۍ په لر او بر کې د الله تعالی د دين دښمنان په ويره کې و، ځکه د الله تعالی د دين دښمنانو په ځانګړي ډول صليبي او يهودي هيوادونو دا درک کړې وه، که چيرې دا دولت په خپلو پښو ودريږي، نو يوه ورځ به هرو مرو زموږ د کورونو دروازې ټکوي، سرې به مو وژني، ماشومان به مو غلامان او ښځې به مو وينځې وي. صليبي نړۍ د اسلامي دولت له پاک منهج څخه دا درک کړې وه، چې

دوی يواځيني هغه خلک دي چې له نړۍ د صليب راج ختمول غواړي، نو يې د دغه دولت د مخنيوي لپاره هر رنګه حربې وکارولې، علماء سوء او مرتد اخوانيان يې وهڅول تر څو د دغه دولت په خلاف فکري جګړه مخ ته يوسي، د دوی اصلي بڼه عامو مسلمانانو ته غلطه معرفي کړي، د اسلام په اساسي مفاهيمو کې تحريف وکړي او د دوی له لارې يې دا کوښښ وکړ چې د اسلامي دولت په سپېڅلي عقيده او پاک نبوي منهج ګوزار وکړي او ضربه ته ورسوي، يا لږ تر لږه عامو

مسلمانانو ته دا صفا او روڼه تګلاره ناسمه وښايي.

له بل لوري په پوځي برخه کې هم غلي نه وو ناست، بلکې له هر لوري يې حشر وکړ او د اسلامي دولت په ټولو ولاياتو کې يې د مؤمنانو خلاف پوځي جګړه کوله او کوي يې، دوی په دغه جګړه کې د خپلو ګټو د لاس ته راوړلو لپاره له هيڅ ډول وحشت دريغ نه کوي، ډرون، جيټ، چورلکې او نورې ډول ډول الوتکې ، کيمياوي زهريله بمونه د دې لپاره کاروي تر څو پرې هر هغه ځمکه بمبار کړي

چې د اسلامي دولت تر واک لاندې وي او حقیقي اسلام هلته موجود وي، د سپېڅلي شریعت واکمني وي، د توحید عطروړینه فضا وي او د هر ډول کفر، شرک او ارتداد ټغر ټول وي، دا هغه څه دي چې صلیبي نړۍ یې نه شي زغملی او د خپل کفري دین سیکولریزم د نفاذ په لاره کې بیا دوی ته د هر وحشت او ظلم کولو جواز وي او د مخنیوي هیڅ ډول قانون ورته مطرح نه وي.

دا چې صلیبي نړۍ په پوره ډول په زړه خوړلې ده چې د اسلامي دولت جګړه په اصل کې له دوی سره ده، د دوی وینو ته تږې دي او د دوی وژل ورته له هر څه لومړیتوب لري، نو د فکري او پوځي جګړې تر څنګ یې د اسلامي نړۍ په خاوره خپل لاسپوڅي طواغیت مقرر کړل او دلته یې ځینې د جهاد بدنامونکې جنګېدونکې ډلې ، ټپلې یې په لاس کې ونیولې او له هغوی یې خپل اربکیان او ملېشه جوړ کړل، تر څو په عام ډګر کې د اسلامي دولت سره طاغوتي حکومتونه او د هغوی مرتد پوځونه او په ځانګړیو سیمو او حالاتو کې دغه د جهاد په نوم جنګېدونکې ملېشې د امریکا او صلیبي نړۍ پرځای نیابتي جګړه وکړي او د صلیبي ټلوالې جګړه دوی پرمخ یوسي.

صلیبي نړۍ د ملېشو د روزلو او جنګولو پروژه په ټولو هغو سیمو کې تطبیق کړه چې د اسلامي دولت مجاهدین په کې موجود دي، خو د مرتدو طواغیتو واک ته رسول او د هغوی ملاتړ کول یې بیا په ټوله اسلامي نړۍ کې وکړل، صلیبي نړۍ که له یو پلوه په جګړه ایږدو سیمو کې د اسلامي دولت پر ضد جګړه کې میلیاردونه ډالر مصرفوي، خو له بل پلوه بېرته همدغه پیسې د هغه طواغیتو څخه د باج په څېر اخلي چې هلته نسبتاً جګړه نشته چې ښه مثال یې سعودي، قطر، امارات، ترکیه او نور هیوادونه دي.

دغه ملېشې او مرتد طواغیت په عراق، شام، مصر، نایجیریا، خراسان او نورو سیمو کې د امریکا او صلیبي جګړې نیابتي جګړه مخ ته وړي او د اسلامي دولت مجاهدین نه پرېږدي چې لاس یې د صلیبي ټلوالې ګریوان ته ورسېږي، هغوی راوپرځوي او د شر او فساد جرړې له بیخه وباسي.

که له یو لوري صلیبي نړۍ د ځان ژغورلو په هدف بېلابېل پلانونه په کار اچوي او بېلا بېلې پروژې تطبیقوي خو له بل لوري د اسلامي دولت مجاهدینو او مشرانو ته بیا د دغه صلیبي ټلوالې او صلیبي نړۍ راپرځول او د صلیبي لښکرو وژل تر هر څه لومړیتوب لري او په دې لاره کې خپل ټول وس او توان په کار اچوي.

اسلامي دولت که پرون په الفلوجه، الأنبار او موصل کې د صلیبي ټلوالې غوښې او هډونه شیندل او د هغوی جسدونه یې په بازارونو کې راځړېدول تر څو د ټولې صلیبي نړۍ لپاره عبرت وګرځي، نن هم د اسلامي دولت مجاهدین هیڅ هغه موقع له لاسه نه ورکوي چې د صلیب د درنده ګانو غوښې او هډونه په کې شیندل کېږي او یا یې مردار جسدونه په بارودو سوځول کېږي.

تاسې ولیدل چې په خراسان کې نږدې یو کال وړاندې د استشهاد د قافلې یو اتل شهسوار ورور "عبدالرحمن لوګري" -تقبله الله- په کابل کې د صلیبي وحشي سرتیرو د ساتنې په موخه د مرتدو طالب ملېشو له سختو امنیتي کمربندونو تېر شو او ځان یې د صلیبي وحشي عسکرو منځ ته ورساوه او خپل بارودي واسکټ ته یې چاودنه ورکړه، چې د لسګونه مرتدو طالب ملېشو، لسګونه جاسوسانو او د پوځي قطعاتو د مرتدو سرتیرو

ترڅنګ په کې 32 صلیبي درنده ګانو ته مرګ ژوبله واوښته، یاده پېښه د صلیبي نړۍ لپاره دومره دردونکې وه چې آن صلیبي لوی طاغوت یې په ژړا کړ او د اسلامي دولت مجاهدینو ثابته کړه چې د صلیبیانو وژل ورته تر هر څه لومړیتوب لري، که نه استشهادي اتل کولای شول چې صلیبي وحشیانو ته په ورغلي لاره د هغوی د ساتنې په موخه د مرتدو طالب ملېشو له لوري د جوړو شویو امنیتي کمربندونو له ډلې په یو امنیتي کمربند استشهادي برید ترسره کړي؛ خو نه دا چې د صلیبي وحشیانو وژل اسلامي دولت ته لومړیتوب لري نو ځان یې هلته ورساوه او لسګونه وحشي صلیبیان یې د جهنم کندې ته ټیل وهل.

د صلیبي کرایه شویو ملېشو او د طاغوتي حکومتونو د پوځونو له لوري د صلیبي وحشیانو سخته ساتنه روانه ده او نه پرېږدي چې مؤمنان له صلیبیانو د کړیو وحشتونو غچ واخلي، په دغه کړنه کې بیا د طالبانو مرتدې د صلیبي نړۍ د امن ساتونکې او کرایه شوې ملېشې له نورو ټولو صلیبي نړۍ ته وفادارې دي، دوی د صلیبیانو د ساتلو په موخه خپل سرونه وشیندل او په صلیبي نړۍ کې د امن د راتګ په موخه یې د یو څو ډالرو او چوکیو په بدل کې د مؤمنانو د وژلو، نیولو، شکنجه کولو او شړلو ټېر وواهه.

او په ډېره سپین سترګی یې صلیبي ټلوالې ته دا ومنله چې نور د مؤمنانو پرځای په اسلامي نړۍ حاکم طواغیت او د صلیبي نړۍ طواغیت زمونږ دوستان دي او که دغه دوستانو ته څوک په بده سترګه وګوري مونږ به ورسره جګړه کوو؛ اګر که مؤمنان او حقیقي مسلمانان ولې نه وي.

خو دوی لکه پرون چې خپل امریکایي او بریتانوي باداران ونه شو ژغورلی او د الله تعالی په ځانګړي مدد استشهادي ورور د کابل په هوایي ډګر کې د خپل بارودي کمربند په واسطه د دوی غوښې او هډونه وشیندل، دادی نن یو بل اتل د دوی خوبونه په سیند لاهو کړل او د دوی بادارانو ته یې ځان ورساوه او د هغوی غوښې یې وشیندلې.

دادی څو ورځې وړاندې د استشهاد د قافلې یو بل اتل مهاجر ورور "وقاص الوزیرستاني" -تقبله الله- وتوانېد د کابل ښار په زړه کې ځان د روسیې سفارت هغه دروازې ته ورسوي چې روسي صلیبي دیپلوماتانو په کې خپلو وګړو او ځینې جاسوسانو ته ویزې ورکولې، دا چې ساحه د مرتدینو په اصطلاح د امنیت له پلوه ډېره خوندي ده، نو په همدې موخه د روسي صلیبیانو د ساتنې په موخه په زیات شمېر د طالبانو مرتدې ملېشې هم د روسي دیپلوماتانو ترڅنګ وې، استشهادي ورور د صلیبیانو او مرتدینو په منځ کې خپل بارودي کمربند ته چاودنه ورکړه، چې د زیات شمېر مرتدو طالب ملېشو او جواسیسو په ګډون په کې دوه تنه روسي صلیبي لوړ پوړي دیپلوماتان چې یو یې د سفارت نایب او بل یې هم غټ چارواکی و ووژل شول او یو شمېر نور ټپیان شول.

د روسیې د بهرنیو چارو وزارت په کابل کې د پروني چاودني له امله د دې هیواد د سفارت د دوو وژل شویو کارکوونکو نومونه خپاره کړل.
د دې وزارت په وینا په پروني چاودنه کې د روسیې د سفارت دویم سکرتر «میخایل شخ» او د چارو کارپوه «کوژویت ادیګزي سرګیویچ» وژل شوي دي.
pic.twitter.com/X6ghLUFYzD
Translate Tweet
6:37 pm · 06 Sep 22 · Twitter for iPhone

یاد برید چې په ټولیزه توګه یې ۲۵ مرتدینو او صلیبیانو ته مرګ ژوبله واړوله خورا ځانګړی برید و، د نړۍ په لر او بر کې یې پراخ غبرګون درلود، مرتدو طالب ملېشو هم د بادار په وژل کېدو خواشیني وښوده، متقي خپل روسي سیال سره د روسانو په وژنه د زړه له تله د خفګان اظهار او غمرازي وکړه او دا ژمنې یې سره تازه کړې چې روسان به د اسلامي دولت په مقابله کې د طالب ملېشو پوره ملاتړ کوي او دا بریدونه به د دوی ورورۍ او دوستۍ هیڅکله زیانمنه نه کړي .
د یادونې وړ ده چې د تېر په څېر د امریکایي صلیبي وحشیانو په دفاع کې د مرتدو وژل شویو طالب ملېشو، د درمسال په دفاع کې د وژل شویو طالب ملېشو او دادی د روسي صلیبیانو په دفاع کې د وژل شویو مرتدو طالب ملېشو حکم د دغو صلیبیانو او مشرکینو له حکم څخه کم نه دی او دا ټول د امریکایي صلیبي سرتېرو د دفاع شهیدان، د درمسال شهیدان او د روسي صلیبي سرتېرو د دفاع شهیدان نه بلکې مرردان دي او ان شاءالله حشر به یې له هغوی سره وي، ځکه د مؤمنانو پر ضد د صلیبي نړۍ سره دوستي کوي، حال دا چې الله تعالی فرمايي: {يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ لَا تَتَّخِذُوا۟ ٱلْيَهُودَ وَٱلنَّصَٰرَىٰٓ أَوْلِيَآءَ ۘ بَعْضُهُمْ أَوْلِيَآءُ بَعْضٍ ۚ وَمَن يَتَوَلَّهُم مِّنكُمْ فَإِنَّهُۥ مِنْهُمْ ۗ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يَهْدِى ٱلْقَوْمَ ٱلظَّٰلِمِينَ} [المائدة: ٥١].
ژباړه: ای مؤمنانو! یهودیان او نصرانیان خپل ملګري مه نیسئ، دوی په خپلو منځو کې سره ملګري دي. او که ستاسې څخه څوک هغوی خپل ملګري نیسي، نو بیا هغه هم په هماغو کښې شمېرل کېږي. په دې کې شک نشته چې الله ظالمان له خپلې لارښوونې څخه بې برخې کوي.
نو د یهودو او نصاراوو سره دوستي کول سړی له ایمانه خلاصوي او یهودي یا نصراني یې ګرځوي؛ نو تري دفاع کول او د صلیبي وحشي سرتېرو لپاره قرباني ورکول خو دېره لویه خبره ده.
بل آیت کې الله عزوجل فرمايي: {يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ لَا تَتَّخِذُوٓا۟ ءَابَآءَكُمْ وَإِخْوَٰنَكُمْ أَوْلِيَآءَ إِنِ ٱسْتَحَبُّوا۟ ٱلْكُفْرَ عَلَى ٱلْإِيمَٰنِ ۚ وَمَن يَتَوَلَّهُم مِّنكُمْ فَأُو۟لَٰٓئِكَ هُمُ ٱلظَّٰلِمُونَ} [التوبة: ٢٣].
ژباړه: ای مومنانو! خپل پلرونه او وروڼه هم خپل دوستان مه نیسئ، که چیري هغوی پر ایمان باندې کفر ته ترجیح ورکړي. ستاسې څخه چې څوک هغوی په دوستۍ ونیسي، همغوی به ظالمان وي.
دلته وګورئ چې د پلار او ورور له دوستۍ څخه منع راغلې ده، خو د نړۍ د استخباراتو له نچور څخه جوړو شویو مرتدو طالب ملېشو بیا د چین د ایغور مسلمانانو پرځای د چین ملحد دولت ته ترجیح ورکړه.



سرګي لاوروف
مولوي امیر خان متقي
د روسیې فدراتیف د بهرنیو چارو وزیر
دااا د بهرنیو چارو وزیر

د شام د مظلومو مسلمانانو پرځای یې د روسیې او KGB استخباراتي شبکې ته ترجیح ورکړه.

په پاکستان کې د معصومو بندیو خویندو پرځای یې ISI او د پاکستان مرتد حکومت ته ترجیح ورکړه.

د ایران د بې وسه اهل سنتو پرځای یې د روافضو اخوندي نظام ته ترجیح ورکړه چې شپه او ورځ صحابه او د مؤمنانو مور رضوان الله تعالی علیهم ښکنځي؛ترجیح ورکړه.

د هند او کشمیر د مظلومو او کمزورو مسلمانانو پرځای یې هندي استخباراتو (RAW) او د غوا د ځامنو حکومت ته ترجیح ورکړه .

او په ټوله کې یې د اسلامي نړۍ، اسلامي امت او اسلام پرځای؛ ملګرو ملتونو، امنیت شورا، امریکا، CIA او FBI ته ترجیح ورکړه، خو بیا هم دا په سپینه جامه کې شیطانان مسلمانان، مجاهدین او مؤمنان دي!
عجیبه ده ډیره عجیبه !
له دې احمقانو عقلونو چرته کېده کړې ، د حربي روسانو په دفاع کې یې د هغوی سره یو ځای شریکې وینې بهیدلي خو دوی ته بیا هم شهیدان ښکاري ، نه پوهیږو چې اې ایس اې په طالب ملیشو څه خوړلي ؟

کلا و حاشا!!!
داسې خلک هیڅکله مسلمانان نه شي کیدای، چې د مؤمنانو پرځای د صلیبیانو او یهودو سره دوستي کوي، د هغوی ګټې پالي او د هغوی د خوشالولو او راضي کولو لپاره مسلمانان وژني، بندیانوي او سختې شکنجې ورکوي.
په روسي صلیبیانو برید ټولو هغه صلیبیانو ته د خطر زنګ دی چې د خراسان دننه او یا بیرون دي، دوی دې په دې پوهه شي چې د صلیبي ټلوالې راپرځول او د صلیبي وحشي سرتیرو او نورو صلیبیانو له تیغه تیرول زمونږ لومړیتوب دی، او دغه مرتد طواغیت او نورې ملېشې چې نن د صلیبي ټلوالې پر ځای د اسلامي دولت پر ضد نیابتي جګړه پرمخ وړي، دا به د صلیب بچیان د اسلامي دولت ونه شي ژغورلای او د صلیب د بچیو سره یوځای به دغه شان د صلیب د پرکټیو پوزې په خاورو خړوي، بإذن الله.
اوس نو طالب ملیشو ته فقط درواغ او باټې وهل ورپاتې دي او لله الحمد په دغه مکرونو یې هم نور څوک نه خطا کیږي او نه یې نور دا فریب چلیږي ، او دادی طالب ملیشې هم رو په رو د غرور له خره راکیوزي او دې حقیقت ته قانع کیږي چې د دوی په خلاف د اسلامي دولت لیکې دومره پیاوړې او منسجمې دي چې دوی د مهار کولو وس نه لري او په دې برخه له دوی څخه متنفره دوه سپږمو ته راغلي ولس څخه د امنیت په برخه کې د مرستې خواستونه کوي ، او څنګه به د اسلامي دولت د خرپ ترپ د زمرو خونړیو بریدونو زور نه مني چې په کراتو ، کراتو په دې تړاو د دوی په خولو کې د غرور ډکې څرګندونې لا ختمې نه وي چې د اسلامي دولت زمرو په خوله یو مظبوط سوک ورکړی وي .
بیا یې نو تر ډیره خولې له وینو ډکې وي او کږې خولې ګرځوي .

دوی اوس ددې توانایي نه لري چې په دوی د شویو بریدونو تلفات پټ کړي او یا یې کم رنګه وښایي اوس نو ددې خاورې هر بوټی او کاڼې د دوی دښمن دی ، اوس نو ورځ تر بلې د دوی دا بویناکه او ګنده څېره راڅرګندیږي او د ولسونو نفرت ورسره اوج ته رسیدلی ، دوی که هر څومره د ازادۍ د لمانځنې په تمثلي نمایشونو وړاندې کولو کوشش کوي چې د خلکو سترګو کې خاورې واچوي خو د اسلامي دولت مجاهدین یې په علاج پوهیږي او د دوی ددغه مکرجنو او دروغجنو څیرو څخه یې تل پردې لرې کړي او دوی یې باذن الله ذلیله کړي ، څو ورځې وړاندې چې دوی د همدا راز سمبولیکو مراسمو څخه د راستنیدو په حال کې و او په ډیر غرور یې د خپلې باداري امریکا څخه د ازادۍ سندرې زمزمه کولې په داسې حال کې چې ټول ولس د دوی په دې لوبو پسې خاندي او رشخندوي یې ، په همدې مهال یې درې ستر موټرونه چې په کې په لسګونو طالب ملیشې انتقالولې ، د اسلامي دولت د موټر بم ګذار ته برابر شول ،طالب مرتدینو ډیر کوشش وکړ چې د دوی د ۳۰۳ ډک موټر په شمول د نورو ورته موټرو څخه پورته کیدونکې لمبې او لوګي له خلکو پټ کړي او په ساعتونو ساعتونو د امبولانسونو چلیدل څوک ونه ویني او د خپلو لسګونو وژل شویو او ژوبل شویو احمقانو مرګ ژوبله په دوه تنه تعبیر کړي خو ونه توانیدل ، د دوی د جسدونو انتقال او د دوی د موټرونو څخه د لمبو وتل او ختل خلکو په خپلو سترګو ولیدل .

اوس نو تر ډیره طالب ښځونک ویاند د اسلامي دولت د نابودۍ ببولالې بس کړي فقط نورو درواغو ته یې کش ورکړی ، خو هغه د پښتو یو متل دی وایي : ډمه خه ګډیږه چې خه شرمیږي . دوۍ چې څومره هم دروغ وایي همغومره شرمیږي .

کال وړاندې یې دخپلو بادارو امریکایانو وژل د عوامو په وژنه تعبیر کړه ، خو وروسته یې چې بادارنو د خپلو وژلو شویو مردارانو جسدونه ښودل نو طالب ویاند لکه باران وهلې پیشو په کومه سوړه سر ننویستی و ، او بیا ورته د همدغه زخم څخه د وراوختي درد له کبله د خپل مشر بادار بایدن ژړا نه ښکاریده ، همداسې یې د روسې په سفارت د برید د تلفاتو د پټولو ډیره هڅه وکړه او ویل یې چې فقط یو ملکي وګړې په کې وژل شوې خو چې روسي بادارانو یې د خپلو وژل شویو له ډلې د فقط دوه تنه مردارانو عکسونه رسنیز کړل نو طالب ویاند بیا چرته په کومه سوړه ننوتی و .

په هر صورت طالب ملیشې دې په خلاصو غوږونو واوري چې زموږ او ستاسې تر منځ جګړه ډیر خونړي پړاو ته داخلیدونکې ده او دا هغه مهال دی چې موږ به مو په ډلو ، ډلو وژنو خو ستاسې لاسونه به موږ ته نه رارسیږي ، تاسې که د خپلو وژل شویو ملیشو د مړو کتارونه له خلکو پټوئ خو د دې وژلو شویو د کورنیو درد نه شئ کمولای او نه یې ځای ډکولای شئ .

نو انتظار کوئ دا لا د پټې سر دی پټی وروسته سوره ور دی .

⚠ بیرنی پاملرنه!

کتــــل یــې مــه هیــروئ!

ویډیویي خپرونه

صفر 1444 هـ

مؤسسة العزائم الإعلامية

کرکټ: د فکري جګړې وسیله او وسله

کفارو د فکري جګړې په لړ کې د اسلامي امت د ځوان نسل فکرونه داسې تسخیر کړل چې اوس ورته خپل ارزښتونه پردي او پردي کفري ارزښتونه ورته خپل ښکاري ، کفارو او په ځانګړې ډول غرب په دې وروستیو کې د فکري جګړې د مختلفو وسایلو په مټ زموږ ځوان نسل داسې وروزه چې بیرته لارې ته راوړل یې خورا زیات کار غواړي ، ددې فکري جګړې ښکار یوازې ځوان کهول نه دی ، بلکې دا فکري جګړه اوس هم په دومره هنر روانه ده چې ډیرې د پاخه عمر او ان د اسلامي علومو ډاکتران او متخصصین هم پرته له دې چې دا درک کړي چې دوی هم ددې جګړې ښکار دي لګیا دي ، هغه معیارونه ، شعارونه او ارزښتونه پالي چې هغه اسلامي نه ، بلکې کفري دي او فکر کوي چې دوی اسلام ته په خدمت لګیا دي ، یا خو داسې خلک په شعوري توګه ددې جګړې ښکار دي او یا هم خپل دې تنزل او د کفارو چوپړ ته د وخت د ضرورت او حکمت نوم ورکوي ، د کفارو له لوري د فکري جګړې د وسایلو څخه خو یې ځینې دومره بوختونکي په زړه پورې ، عادي او مروج شوې وي ، چې ډیر پوهه خلک یې هم په طلسم کې راغلي او که ددې هر څه په زیانونو پوهیږي خو د ټولنې د عکس العمل او غبرګون له ډاره غږ نه پورته کوي .

تاسې پوهیږئ چې نظامي جګړه دومره موثره او زیانمونکي نه ده لکه څومره زیان او تخریب چې فکري جګړې اړولی او لا یې هم زیان ورځ تربلې زیاتیږي ، اوس هم د اعلام ، تعلیم ، صحت ، هنر او ادب او تفریح په برخو کې د اسلامي امت د بچو د فکرونو د تسخیر ساتلو لپاره همغسې کار او زیار روان دی .

غواړم چې په دې لنډه مقاله کې د کفارو له لورې فکري تسخیر په هدف د طرحه شویو تفریحي پروګرامونو له ډلې یې یوازې د لوبو په برخه کې د کرکټ په معنوي زیانونو لنډه خبره وکړم .

ډیری خلک کرکټ ته فقط د ورزش او د یوې بوختونکې لوبې په نظر ګوري او په دې یا نه پوهیږي او یایې پرې سترګې پټې کړې وي چې دا ورزش نه بلکې د فکري یرغل یوه وسیله او د ګڼو سکولر اساساتو د پاللو او ساتلو سرچینه ده ، دا لوبه ددې او دې ته ورته نورو ګڼو اهدافو د پاللو په هدف د انګریزي استعمار له لورې په ۱۷۴۴ کال کې رامنځ ته شوه ، چې اوس تقریبا د نړۍ په ډیری تقریباً سلو هیوادونو کې ترسره کیږي او د icc په نوم یوه نړیواله شورا ددې لپاره قوانین جوړوي او وخت په وخت ددې لوبې کفارو ته په معنوي لاس ته راوړونو خپل منظم بحثونه لري او ورځ تربلې یې په وده او پرمختګ کې هلې ځلې کوي .

د اسلام مبارک دین د بدني اعداد او ورزش لپاره خپل حدود ټاکلي ، کرکټ ورزش نه بلکې یوه حربه ، توطیه او فکري جګړه ده .

اسلام د ورزش مخالفت نه کوي بلکې خپل بدن ته د ورزش له طریقه قوت او تربیت ورکول د خه صحت جوړیدو لپاره وي او په دې هدف وي چې د خپل بدن قوت به د الله عزوجل د دین د قیام په لاره کې په خدمت مصرفوم .

د هرات مشهور حافظ ابو یعقوب القرَّاب خپل کتاب (فضائل الرمي في سبیل الله ص ٥٥) کې نقل کړی:

عن مَكْحُول الدِّمَشْقِيّ، أَنَّ عُمَرَ بْنَ الْخَطَّاب، كَتَبَ إِلَى أَهْلِ الشَّام: «أَنْ عَلِّمُوا أَوْلَادَكُمُ السِّبَاحَةَ وَالرَّمْيَ وَالْفُرُوسِيَّةَ».

ژباړه: عمر بن خطاب رضي الله عنه د شام خلکو ته دا حکم لیکلی و: تاسې خپلو اولادونو ته لامبل، نښه ویشتل او د اس سورلۍ ورزده کړئ.

دغه شان صحیح البخاري کې نبي علیه السلام فرمایلي دي: ارموا بني إسماعیل، فإن أباكم كان رامیاً.

ژباړه: اې د اسماعیل اولاده، تاسې غشي وولئ، ځکه ستاسې پلار هم غشی ویشتونکی و.

او صحیح مسلم کې هم د عقبه

بن عامر په روایت سره د نبي علیه السلام دا قول نقل دی: وأعدوا لهم ما استطعتم من قوة، ألا إن القوة الرمي، ألا إن القوة الرمي، ألا إن القوة الرمي.

تاسې تر خپلې وسې ډیر زیات طاقت برابر کړئ، خبر شئ قوت غشي ویشتل دی، خبر شئ قوت غشي ویشتل دی، خبر شئ قوت غشي ویشتل دی.

او صحیح البخاري او مسلم بل روایت کې نبي علیه السلام د اس سورلۍ ته داسې ترغیب ورکړی: «الخَيْلُ مَعْقُودٌ فِي نَوَاصِيهَا الخَيْرُ إِلَى يَوْمِ القِيَامَةِ»

ژباړه: د اسونو تندیو کې تر قیامته خیر پروت دی.

بل حدیث کې ورسره دا الفاظ هم ورزیات شوي : [الأَجْرُ وَالمَغْنَمُ]. دغه خیر اجر او غنیمت دی.

یانې د غشو ویشتل ، لامبو زده کول او په اس سپرلي کول دا هم ورزش او بدني تدریب دی خو ددې هدف لپاره دي چې د جهاد په ډګرونو کې د کفارو د خه سرکوبولو لپاره په دې برخو کې مهارت ترلاسه شي ، اوس نو د غشو ویشتل د اسلحې د وړوکي قسم څخه راوخله تر غټو او نور ډول ،ډول مختلفو اسلحو پورې ددې تربیت او زده کړه په دې نیت په کار ده چې د جهاد په لاره کې به یې د اسلام د دښمنانو په خلاف استعمالوم ، ، د اسونو د سوارلۍ ترځنګ د هر ډول عرادو او وسایطو په تخنیکي برخه ځان پوهول او د چلولو او زغلولو چل زده کول هم مهم دي ، همدا راز لامبو هم دړواخلئ ، دا هم مهارت دی هم تربیت دی او هم ورزش او تفریح ده ، همدا راز خپل بدن په جسماني لحاظ پیاوړی کول په کار دي ، بوکسینګ ، فري فایټ ، بادي بلډنګ او نور د بدن د قوت تدریبونه او د چالاکۍ او چستوالي مهارتونه په همدې بنیاد حاصلول ضرور دي چې ستا بدن قوت او سختوالی ومومي او ته په ډیره خه طریقه د اسلام د دښمنانومقابله وکړې ، دا هم ورزش دی په همدې برخو کې د اسلام د اصولو په چوکاټ کې خپلمنځۍ سیالۍ او مسابقې برابرول ، د ځوانانو تشویقول او هڅول تر ټولو مهم دي اسلام ددغه راز لوبو او ورزش هیڅکله مخالف نه دی نو په همدې

اساس لوبې په دوه قسمه دي :

اول قسم : هغه لوبې چې د انسان قوتونو کې اضافه راولي او مجاهد سره په جهاد کې هم کومک کوي، برابره خبره ده که هغه د لاس قوت ته وده ورکوي او که د پښو او بدن نورو غړو ته قوت ورکوي ، لکه لامبل (سباحة)، نښه ویشتل، یا د اس سورلي، وغیره. چې د انسان نیت پکې برابر وي، دا هم جهاد دی.

دلیل پرې مشهور حدیث دی چې نبي علیه السلام د غشو ویشتو باندې ترغیب ورکړی.

"ارْمُوا بَنِي إِسْمَاعِيلَ فَإِنَّ أَبَاكُمْ كَانَ رَامِيًا " صحيح البخاري

او دا نورې لوبې هم پدې قیاس دي.

دویم قسم : هغه لوبې چې جهاد کې انسان سره کومک نه کوي نو دا هم په دوه قسمه دي:

اول هغه لوبې چې شریعت کې ترې منعه راغلې وي نو دا خو بالاتفاق حرام دي.

دویم هغه چې شریعت کې نه پرې امر وي او نه ترې منعه راغلې وي، نو دا هم په دوه ډوله دي:

اول : هغه لوبې چې په حرامو مشتملې وي لکه تصویران، یا موسیقي پکې وي، زنانه و سره اختلاط په کې وي، د کفارو سره مشابهت او د هغوئ سره په محبت بنا وي، یا هغه لوبې چې د اختلاف باعث ګرځي نو دا هم منع او حرام دي، ځکه ذریعه د حرامو حرام وي.

دویم : هغه لوبې چې څه حرام کارونو باندې مشتمل نه وي لکه والیبال، فټ بال وغیره نو دا په لاندې شرطونو جائز دي:

اول شرط : جواري به پکې نه وي.

دویم شرط : د الله د ذکر او اطاعت نه به انسان نه غافله کوي.

دریم شرط: بیخي زیات وخت به نه ورکوي چې همدې ته کار ووایي.

څلورم شرط: مسلمانانو ته به پکې هیڅ ډول ضرر نه وي.

پنځم شرط : د سیکولریزم د ترویج وسیله به نه وي.

اوس نو همدې او ځینې نورو شرایطو ته په کتلو تاسې لوبې کتـه ګوري کړئ چې کرکټ په کومو لوبو او کوم ډول ورزش کې راځي ، که د دې لوبې نه، بلکې حربې په زیانونو تفصلي بحث وکړو نو دا به د مجلې ددې برخې له برداشته بهر وي خو هڅه به وکړو چې د کرکټ په معنوي زیانونو او ددې لوبې څخه د کفارو په هدفونو لنډ شان بحث وکړو .

١: کرکټ د اسلامي امت د ځوان کهول فکرونه او ذهنونه مکمل مصروف ساتلي :

تاسې ګورئ چې د هر مجلس او د هر سفر او حضر موضوع همدا کرکټ ګرځیدلی ده ، د اسلامي امت ځوانان په نور څه فکر کولو ته وخت نه لري ، او نه پریښودل کیږي چې اسلامي امت ته په ورپیښو ستونزو سوچ او فکر وکړي ، په حل لارو یې کار وکړي ، په دې برخه کې د ځوانانو مسولیتونه وپیژني او نور ډیر څه .... نه بلکې د دوی ټوله سرګرمي مصروفیت ، مسولیت او مکلفیت همدا کرکټ ګرځیدلی او بس .

٢: له دې لارې د فحشا او اخلاقي فساد ترویج :

تاسې ګورئ چې د کرکټ په لوبغالو کې ځوانان او پیغلې د لوبو پرمهال په کوم حالات کې وي ، دوئ په څه ډول د خپلې حیا او ارزښتونو جنازې وباسي ، د نیمه بربنډو انجونو په منځ کې لنډه غر او لوفر ځوانان د کوم هدف لپاره د یو بل سره اختلاط او اړیکي پالي ، د کرکټ د لوبغاړو او د نامحرمه انجونو ترمنځ د روابطو او یو بل سره د مینې او محبت د اظهار بیلګې خو له شماره وتلي ، دا هر څه بیا په تلویزونونو ښودل کیږي او بیا ورته په شریکه د یوې کورنۍ زنانه ماشومان لوی او واړه ناست وي ، د ډیرې مستورې کورنۍ زنانه به هم د لوبغاړو لوڅې پنډۍ وینې خو کومه د شرم او عار خبره به ورته نه ښکاري او نارینه به یې په لوبغالي کې د نامحرمه انجونو لوڅې متې وینې خو کومه د ګنا خبره به ورته نه ښکاري او راتلونکې نسل یې هم د همدې فحشا څخه په رنګ اخستو د اخلاقي مفاسدو ښکار شي په دې اړه ګڼ قراني او نبوي ارشادات او وعیدات موجود دي .

٣: کرکټ د وخت او پیسو ضایع ده :

تاسې ګورئ چې دغه حربه په څومره مهارت د خلکو وختونه او مالونه لوټوي ، په مختلفو شکلونو په میلونونو کسان خپل کارونه پریږدي او په ورځو ، ورځو د همدې حربي په طلسم کې راګیر وي ، په مختلفو شکلونو خپلې پیسې مصرفوي او په دغه لوبو کې یا برخه اخلي او یا یې د لیدو په پار د خپلو مالونو تباهي هم کوي ، د وخت په ارزښت او همدا راز په بیځایه او بیهوده شیانو خپل وختونه او مالونه ضایع کولو په اړه هم ګڼ قراني او نبوي وعیدات او ارشادات موجود دي .

۴: د طاعت او عبادت څخه غفلت :

ددغه حربې په طلسم کې راګیرو ځوانانو باندې دا لوبه داسې جادو کوي چې ددې لوبې په ننداره مصروفو خلکو ته نه د لمانځه وختونه یاد وي نه یې تلاوت او نور عبادت ته فکر وي فقط :چغې، شپیلي، چکې او یو شور او هل هله یې مشغله وي .

تاسې ګورئ څوک چې په لوبغالي کې ددې لوبې په ننداره مصروف وي نه ورسره د لمانځه او اوداسه غم وي او نه هم د نورو عباداتو په پابندۍ ځان مکلف ګڼي ، ځینې وخت که په لوبه کې د نورو لاملونو له مخې کوم ځنډ راشي نو بیا یې ډیر کم لوبغاړي او یا مینه وال زر زر بې اودسه د چرګانو په څېر ټونګې ووهي ټوله توجو یې لوبه کې وي فقط د لمانځه یو تمثیل وکړي نور خلاص ..

او که یې څوک په تلویزونونو کې په ننداره بوخت وي د هغوئ هم همدا حال وي .

۵: د کفارو او مسلمانانو تر منځ فرق او د برترۍ حس له منځه وړل او کفارو سره دوستي او موالات کول او د دوئ ترمنځ محبت او صمیمت رامنځ ته کول ددې حربې له عمده اهدافو څخه دي .

ډیرۍ ځوانان ددې لوبې په نشه دومره مست او سرشاره شي ، چې د خپلې خوښې یو کافر او مرتد لوبغاړی ورته اولګو او د محبت یو سمبول شي ، کفارو سره غاړې ورکول ، ورسره خنداوې او مجلسونه کول ، د هغوئ په بریا او ګټه خوشالي کول ، د کفارو د تشویق او هڅونې په هدف ډول ، ډول حرکتونه کول ، یو بل ته میلمستیاوې کول

، د یو بل نه ځاریدل او قربانیدل ، دا فرق له منځه تلل چې دا حربي کفار دي او د اسلامي امت د نابودۍ او بربادۍ عاملین دي ، خو مسلمانان ځوانان به له کفارو او مرتدینو سره د ورونو او خوږو دوستانو په څېر چلند کوي .
کفارو ، مشرکینو او مرتدینو سره ددغه راز محبت او موالاتو په اړه ګڼ قراني او نبوي وعیدات موجود دي .

٦: مفسدینو ته د جعلي اتلانو په شکل تبارز ورکول :

د اسلامي امت ځوان نسل اوس نه خپل موجوده رښتیني اتلان پیژني او نه د خپل اسلامي تاریخ تېر اتلان پیژني ، دوۍ ته د اتلولیو معیار او ډګر هم بدل ورمعرفي شوی .
کفارو سره د قتال او جهاد میدانونه اوس د کرکټ په لوبغالو بدل شوي ، پخوا که به د اسلام بچو په تورو او نیزو د کفارو مقابله کوله او د الله دین به یی پرې حاکماوه اوسني ځوانان لګیا دي او فکر کوي چې له کوم هیواد څخه دې کرکټ وګاټه نو دا یوه ستره فتحه اوسوبه ده ، بیا نو جشنونه وي ، د خوښۍ ډزې او نورې ناروا نمانځنې وي .
د دوی په فکر ګټه او بایلات اوس تر کرکټه محدود دی بس چې د کرکټ لوبه دې وګټله نو ته فاتح هم یې او اتل هم یې.
د اسلامي امت د ځوان نسل فکر دومره تسخیر شوی چې په دې اړه کله هم فکرمند شوی نه دي چې اسلامي خاوره اشغال ده ، په ټوله نړۍ د الله د قانون په ځای دیموکراسي ، وطنیت او جمهوریت حاکم دې او د ځوانانو مسولیت دادې چې د محکومې اسلامي خاورې د اذادۍ او په ټوله نړۍ د الله د نظام د قیام په اړه جهاد او نوره هر اړخیزه مبارزه وکړي.
زموږ د تاریخ اتلان خالد بن ولید ، سعد بن ابي وقاص ، ابو عبیده بن جراح ، طارق بن زید ... او نور دي
زموږ اوسني اتلان هغه څوک دي چې په ټوله نړۍ کې د ټولې نړۍ د کفارو ، مشرکینو او مرتدینو په خلاف یي جګړه پیل کړې ، د وطنیت په لومو کې راګیر او د طاغوتي هیوادونو نیابتي جنګیالي او د کفارو د ګټو ساتونکي اسلام بدنامونکي طالب مرتدین نه دي بلکې د اسلامي خلافت مجاهدین زموږ اتلان دي چې د ټولې اسلامي خاورې د ازادۍ او پرې د یو حقیقي شرعي نظام د قیام په هدف د ټولې نړۍ سره لاس او ګریوان دي او په ډېرو سختو حالاتو او شرایطو کې خپل مسیر او کار نه دی پریښې .
نه ، بلکې د اوسني ځوان نسل اتلان د کرکټ د لوبې ګټونکي مفسد لوبغاړي دي .
بس ټول فکر یي د کرکټ په ګټه او بایلات کې رامنحصر شوی.
د کفارو کوشش همدا دی چې په دیني ، سیاسي ، فرهنګي ، فکري او اجتماعي ډګرونو کې فاسد او د غرب په فکر روزل شوی او پالل شوی بوتل ورته د یو ماډل او اتل په حیث معرفي کړي ، دا پریوتي ، پست ، لاو بالي او لنډغر مفسدین به ورته کله د فلمي لوبغاړو په شکل اتلان ورمعرفي کوي کله د سندرغاړو او کله د کرکټ د لوبغاړو په شکل کفار به همدې خلکو ته کمپاین کوي ، داسې خلک به د خپلو پلانونو په اساس د لوبو په میدانونو کې ګټوندویه کوي او بیا به یې په خپله میدیا کې څه ډېر ځلوي او د اسلامي امت ځوانانو ته به یې د یو اتل ، ماډل او الګو په حیث معرفي کوي بیا به نو ځوانان د همدغه لنډه غر د جامې ، څیرې ، فکر ، ناستې ولاړې او د بل هر هغه حرکت چې غرب ورښودلې دا ټول به یي نه یوازې تقلید کوي بلکې همدغه بوتل به دې ځوانانو ته د هر ډګر اتل ښکاري ، چې بیا په مدار ، مدار همدغه جعلي اتلان او کاغذي پړانګان د کفارو له لوري د سیاست په ډګر کې د قایدینو حیثیت غوره کړي ، لومړی غرب دغه راز خلکو ته پراخه تشهیر او حیثیت ورکړي بیا یي د دیموکراتیکو لارو واک ته کاندید او د یو یرغمل شوي هیواد ولسمشر یي کړي ژوندې مثال یي عمران خان و چې په څه طریقه وځلول شو ، څنګه کاندید شو او څه ډول واک ته ورسید .

٧: د قومیت او وطنیت ګمراه فکر او عقیده پالل، ساتل او ورته وده ورکول :

چې دا یي تر ټولو خطرناک زیان او تاوان دی ، د اشغال شوې اسلامي خاورې په سینه د کفارو له لوري راښکل شوې جغرافیوي کرښې چې اوس یي په بین المللي سطحه په مختلفو شکلونو دوامداره پاتې کیدل د دوۍ لومړیتوب دی ، یوازې په فزیکي شکل د هیوادونو د ویش په مانا نه دي بلکې ددې ترشا ډېر اعتقادي مسایل او ګڼ معنوي مفاهیم پراته دي ، د وطنیت د کفري عقیدې په مختلفو اړخونو موږ د خراسان غږ مجلې په تېرو ګڼو کې رڼا اچولې او اوس پرې تفصلي بحث ددې مقالې له برداشته وځي خو دومره به ووایم چې په اسلام کې د دوستۍ او دښمنۍ معیار ایمان دی خو په سیکولر اساساتو کې د دوستۍ او دښمنۍ معیار وطن دی ، د اسلام له مخې نه بلکې د وطن له مخې ټولو انسانانو ته د هغوۍ هر ډول حقوق ټاکل کیږي .
یو سیکولر وطن دی چې حدود او کرښې یي انګریزانو ټاکلي او بین الملل په رسمیت منلي ،یو اسلامي وطن دې چې یو وخت یي یو دیوال له اندلسه یا جنوبي فرانسه تیریده تر جنوبي افریقا پورې غځیدلی و بل دیوال یي بیا د جنوبي افریقا له تبجنو دښتو د اندونیزیا تر سرسبزه سواحلو خپور و همدا راز یي بل دیوال په شرقي ترکستان راتیر شوی و چې په ځان کې د چیچین او داغستان په شمول د جماهیر شوروي په نوم یرغمل شوې خاوره رانغاړله ....دا پراخه اسلامي خاوره زموږ وطن دی ، د مسلمان وطن اوس هم اشغال دې .
دا خاوره اوس ټوله اشغال ده ، ددې زمکې د مالکیت دعوه اوس بین الملل کوي ځکه همدې کفارو ویشلې او دا کرښې اوس هم دوی پالي او ساتي .
نو لنډه دا چې د مسلمانانوهیواد او وطن یوازې د افغانستان یا پاکستان یا سعودي او نورو په کرښو کې رامحدوده خاوره نه ده بلکې د ټولو مسلمانانو هیواد ټوله اشغال شوې اسلامي خاوره ده ، د ټولې اسلامي خاورې ټولو اوسیدونکو لپاره یو ډول حقوق دي چې د اسلام په اصولو ورکول شوي ، نه دا چې که د افغانستان کافر و هغه به د وطن د شراکت له امله ستا ورور وي او که د پاکستان یا بل هیواد مسلمان و هغه به ستا دشمن وي ، که د نړۍ په هره برخه کې په مسلمانانو د کفارو له لورې هر وحشتونه کیږي تا پورې اړه نه لري ځکه ستا له ملکه بهر دي.
نو د همدغه وطنیت او قومیت د نارو د ژوندي ساتلو لپاره او د اسلامي امت تر منځ د نفرت خپرولو او ویشلو لپاره کرکټ ډېره موثره وسیله ده ، تاسې ګورئ کله چې د دوه تش په نوم اسلامي هیوادونو لوبه شي (تش په نوم اسلامي هیوادونه ورته ځکه وایو چې که عوام یي مسلمانان دي خو حاکم نظامونه پرې اسلامي نه دي) نو ددې دواړو هیوادونو مسلمانان د خپل وطن په نوم ځان وژني هغه وطن چې پولې یې ورته انګریزانو تعین کړي ددې ټولې خاورې مالک الله دی که بین الملل دی ؟
چې اوس به بین الملل موږ ته د وطنونو پولي تعینوي یانې د خاورې مالک له الله پرته بل څوک ګڼل دا بیا یو بیل بحث دې .
په هر صورت دغه وخت چې کله د کرکټ لوبه وي ، ځوانان یي د ګټې او بایلات په شیبو کې کوم انحرافات دي چې نه یي ترسره کوي ؟
د وطنیت او قومیت مینه یي لا رګونو او زړونو کې په چپو شي ، دوۍ فکر کوي دا هر څه تصادفي دي ، داسې نه ده بلکې دا یوه طرحه شوې دسیسه ده چې د اسلامي امت ځوانان دا ځان سره تسلیم کړي چې موږ ټول اسلامي امت یو موټی او یو ملت نه یو بلکې په افغاني ، پاکستاني ، ازبکستاني ، تاجکستاني نورو او نورو ویشل شوې یو .
هو !
همدا د یووالي تصور ، ددغه وطن په نامه د وطنیت اعتقادي پولو د نړولو تصور د لومړۍ قبلې اقصی د ازادۍ په شمول د ټولې اسلامي خاورې د ازادۍ تصور دا ټول فکر او احساس د اسلامي امت په ځوانانو کې همدې کرکټ ورووژه .
اوس نو پاکستاني مسلمان د افغاني مسلمان دښمن دی او افغانی د پاکستاني مسلمان دښمن دی اوس

نـو پـه دوی د حاکمـو دیموکراسـیو او د دوی د مفسـدو قایدینـو د کفـري سیاسـتونو پـه پایلـه کـې د یـو هیـواد مسـلمانان د بـل هیـواد دښـمنان دي او پـه دې دښـمنۍ کـې دومـره افـراط کـوي چـې افغانـي ځـوان یـې د پاکسـتاني لـه ضـده مـشرک هنـدو پـه غیـر کـې نیـسي پـه مـخ یـې ښـکلوي او پاکسـتانی ځـوان یـې بیـا د افغانـي لـه ضـده نـوري داسـې کفـري کرنـې کـوي چـې پـه هیـڅ ډول د توجیـه وړ نـه دي .

د قومیـت د بویناکـو نـارو یـو شـور او غلبلـه جـوړه وي ، تـه بـه داسـې فکـر کـوې چـې د اسـلامي امـت ځوانـان ټـول کفـري ملـت تـه ماتـې ورکـړه او پـه ټولـه نـړۍ د اسـلام د حاکمیـت راج شـو .

افسوس !

مونږ چرته وو او چرته راورسیدو ؟

د کرکټ د زیانونـو پـه بیلګـو او مثالونـو کـه نـوري خبـري کـوو نـو دا مقالـه بـه پـه یـو کتـاب او رسـاله واوړي ، او نـو دا مشـت د خـروار د نمونـې پـه توګـه ومنـځ همدومـره بـه کافي وي.

اوس راځـو دې تـه چـې ولـې بـه کرکـټ دومـره رشـد او پرمختـګ نـه کـوي ، ولـې بـه یـې ورځ تربلـې مینه وال نـه زیاتیـږي چـې علـماء د سره د اوږدو ږیـرو او غټـو پټکیـو د رسـول اللـه صـل اللـه علیـه وسـلم پـه ممبر ناسـت دي ،پـه ځـای ددې چـې ددې حربـې پـه سـیاسي او برغلیـز اړخ خبـري وکـړي حقایـق خلکـو تـه واضـح کـړي ، دوی لګیـا دي دخپـل سـکولر وطـن د کرکـټ د ګټلـو لپـاره پـه دلـه آیـز شـکل دعاګانـې کـوي ، ځوانـان خـو لا پریـږده چـې د وطنیـت د ګمـراه عقیـدې پـه بنیـاد پـه داسـې موقعـه پـه خپلـو خریلـو مخونـو د سـکولر وطنونو بیرغونـه

جـوړوي بلکـې ملایـان یـې د کرکـټ د سـیالیو پـه وختونـو کـې د وطنیت د فکـر د خـه ژونـدي سـاتلو لپـاره سره لـه اوږدو ږیـرو او غټـو پګړیـو دا شرمونکـي کرنـې تـرسره کـوي . څکـه بـه نـو ځوانـان بیـا پـه داسـې موقعـو لـه خولـې داسـې کفـري الفـاظ وبـاسي چـې سړي پـه یـو دوه کـې حـیران کـړي.

ملایـان ، ملـکان ، ځوانـان ټـول پـه دوکانونـو حجـرو او کورونـو کـې سره راټـول او یـو ځـای د کرکټ پـه ننداره بوخـت وي .

او دوی بـه ولـې نـه تشـویقیږي چـې د امریکا لـه لـوري پـرې د شریعـت پـه نامـه د حاکمـې طالبـي دیموکراسـۍ مـشران یـې د کرکـټ د ودې او پرمختـګ لپـاره پـه مـلي او بیـن المللـي کچـه د کفـارو لـه لـوري ورکـول شـوي پلانونـه تطبیقـوي .

عجیبه ده !

اشـغال ختـم نـه دی بلکـې اشـغال خپلـه بڼـه بدلـه کـړې ، مخکـې د اشـغال ټوپـک د جمهوریـت د عسـکر پـه اوږه ایخـې و اوس نـو د اشـغال ټوپـک د طالـب پـه اوږه ایخـی دی ، مخکـې د دیموکراتیکـو ارزښـتونو او سـیکولر اساسـاتو د تطبیـق او پالنـې ماموریـت د جمهوریـت چارواکـو مـخ تـه وړ اوس یـې طالـب چارواکـې مـخ تـه وړي .

د فکـري جګـړې د وسـیلې او وسـلې پـه حیـث د کرکـټ څخـه چـې کفـارو کومـه ګټـه واخسـته هغـه یـې د فکـري جګـړې پـه لـړ کـې لـه بلـې یـوې وسـیلې څخـه هـم نـه ده اخیسـتې ، دلتـه نـو ووړ او زوړ ټـول لګیا دي پـه شـعوري او غـیر شـعوري توګـه د غـرب ګټـې پـالې او اهدافـو تـه یـې تحقـق ورکـوي ، کـه هغـه چارواکـې دي کـه د مذهبـي ګوندونـو پـه نامـه د دیموکراسـۍ د ترویـج او تطبیـق د ګنده پـروژې نـور غـړي او منسـوبین دي ،که ملایـان دي او کـه نـوري بلاګانـې دي ، ټـول پـه یـوه خولـه د اسـلامي امـت د تباهـۍ لپـاره نـارې وهـي.



د قومیـت او وطنیـت دا نـارې او بغـارې کـه دېـرې خلـک غـیر شـعوري وهـي خـو ډېـرو خلکـو تـه بیـا پـه شـعوري توګـه دا ماموریـت سـپارل شـوی او ددې مـزدوری پـه بـدل کـې ورتـه د ډالـرو کڅـوړې راروانـې دي .

د غـرب د فکـري یرغـل تـبر تـه همـدې احمقانـو لاسـتي وراچولي .

دا چـې پـه دې برخـه کـې د اسـلامي امـت د ځوانانـو مسـولیتونه څـه دي ؟ ددغـه فکـري یرغـل مقابلـې پـه څـه ډول شـوني ده ؟

دکفـارو لـه لـوري بـه ددې پیل شـوي فکـري جګـړې دا وسـیلې او اسـلحې څنګـه بیـکاره کـوو؟ پـه دې اړه بـه ددې مقالـې پـه دویمـه برخـه کـې د خراسـان غـږ مجلـې پـه راتلونکـي ګڼـه کـې بحـث وشي ان شـاء اللـه .



د شهیدانو پلار

افتاب الدین عمري

تقبله الله تعالی

" تاسې هسې د کور مجاهدین یاستئ ، یوه شپه جنګ کوئ او نور مو بیا در ،درک ورک شي ، تاسې هره شپه په دې خبیثانو همدا د بیګاني جنګ په شان جنګ وکړئ تاسې بیا وګورئ چې دا ګیدړان دا ساحې څنګه پرېږدي .

دا پورته له یو ډول غیرت ورکونکي پیغور څخه ډکې خبرې ، دې اتیا کلن سپین ږیري غازي خپل زوی ته په هغه شپه وکړې کله یې چې زوی د سپمي د نورو مجاهدینو سره یو ځای د خپلې والسوالی په ودانۍ همغه د امریکایي اشغال په لومړیو کې سخته جګړه وکړه .

هو ! د شهیدانو دې پلار صبر ، حوصلې او استقامت ته سړی حیران شي ، دا زوړ زمری او هیبتي سړی د زامنو او لمسو په شمول د خپلې کورنۍ د اته ویشت شهیدانو پلار ، نیکه ، ماما او کاکا دی .

ددې غیرتي او میړني مجاهد په چرګۍ د رالویو شویو زلمو څخه همدا هیله کیدای شي چې یو پر بل پسې د جهاد لیکې ګرمې وساتي او نسلونه ، نسلونه یې خپل مسیر پرینږدي

دې غر او نر سړي خپلو بچو او لمسو ته په زانګو کې د میړانې او غیرت درسونه ورکړي ، خپل بچي یې د ستر خالد او سعد بن ابي وقاص په شمول د اسلام د سترو غازیانو د سوبو په کیسو ویده کړي .

د دوی په کورنۍ کې تل د زخمي ، بندي او شهید نومونه ، لفظونه او دې ترشا پراته ارزښتونه یادیږي ، پالل کیږي او ساتل کیږي .

ځکه نو ددې کورنۍ هر بچی چې رالویږي نو د جهاد د کاروان سره مل کیږي ، ددې کورنۍ باغیرته او باعفته میرمنې هم د جهاد د کراوونو د ګاللو سره روږدې دي ، دوی که له یوې لوري د خپلو مجاهدینو ورونو ، خاوندانو ، بچو او د دوی د ملګرو خدمتونه کړي ، په نیمو شپو یې ورته خوراکونه تیار کړي ، د سختو ستړیاوو او ولږو باوجود یې د خپلې خولې مړۍ ورسره نیمه کړې ، په شپو ، شپو یې ورسره د غرونو او رغونو مزلونه کړي ، هر قسم ناداري او بېوسي یې تېره کړې ،د هجرت د سختو اغزنو لارو په هر ګوټ پیر کې د خپلو میرنیو نارینه و ملاګانې ورتړلې ،خو بل لور ته ددې میړنی سړي په کورنۍ کې داسې غیرتي لورانې هم روزل شوې چې مستقیماً یې د کفارو سره د مسلحې جګړې په لړ کې خپلو میرنیو خاوندانو سره یو ځای سنګر ساتلی .

ددې کورنۍ بچی ، بچی مجاهد او غازي دی .

د افتاب الدین بابا کورنۍ د خراسان ولایت چپرهار منطقې د ډاګو د لوی کلي اوسیدونکي ده ، عمري بابا به څنګه خپل بچي د جهاد په روحیه نه روزل چې خپله یې هم د روسانو په وړاندې د جهاد سنګرونه ګرم ساتلي و ، عمري بابا د روسانو په خلاف هم سخت وجنګید، د جهاد لیکو سره یې هر اړخیزې مرستې وکړې ، بې کوره او بې دره شو ، په دې لاره کې یې هر قسم کړاوونه وګالل خو حوصلې یې ماتې نه شوې ، بلکې له همغه وخته یې خپل بچي او لمسي د الله د نظام د حاکمیت په هدف د جهاد سنګرونو ته هڅول ، چې د جانداد په نامه یو زوی یې په همغه مهال د روسانو په مقابله کې په شهادت ورسید، د جانداد میرانه او شجاعت دده اتلولي او غیرت د هغه وخت په مجاهدینو کې خورا زیات مشهور و، عمري بابا په یو سپیڅلي احساس او پاک نیت د روسانو په خلاف مبارزه وکړه ، هغه بیا بیل بحث دی چې د افغان ولس له منځه د همدغه سپیڅلو غازیانو او شهیدانو په وینو تجارت وشو او د دوی اوښکې او وینې خرڅې شوې ، نه کوم شرعي نظام حاکم شو او نه یې هم دغه قرباني شویو کورنیو د خپلو قربانیو نوره کومه ثمره وکتله چې لاملونه یې زیات دي .

کله چې روسان مات او د شرعي نظام د راتګ ارمان میرات شو، دغه وخت عمري بابا نور نو ضعیفه شوی و ، خو مایوسه شوی نه و ، د یو نړیوال شرعي نظام د قیام په هدف یې خپلو بچو او لمسو ته تربیت ورکاوه ، همغه و چې د روسانو له ماتې وروسته د همدې سیاسي لوبو په پایله کې امریکا په افغانستان یرغل وکړ، عمري بابا یو ځل بیا خپلو بچو ته د جهاد لار وروښوده ، او ورته یې کړه چې بچو ! پورته شئ اوس نو د امریکایي درنده ګانو په خلاف جهاد فرض دی ، همغه و چې د امریکایي اشغال له لومړیو څخه یې بچو د چپرهار په شمول ګڼې سیمې د امریکا په مشرۍ نړیوالو کفارو او د دوی مرتدو غلامانو ته سور تنور وګرځولې ، دا ځل د عمري بابا بچي د جهاد په مقاصدو پوهه و ، دوی پوهیدل چې د دوی مبارزه د وطنیت په دآیره او د آی ایس آی په سلطه کې ده ،خو د امارت په لیکو کې د یو ازاد نړیوال خلافت په تمه خپله مبارزه جاري وساتله ، خو دا هر څه ورته روښانه ځرګند و چې که چرته د دوی جهادي مبارزه د وطني جګړې او د آی ایس آی له سلطې ونه وځي نو انجام به یې داسې شي لکه څنګه چې د دوی د پلار عمري بابا او نورو مشرانو د قربانیو او وینو شو ، چې د روسانو په خلاف یې د مقاومت ثمره آی ایس آی واخسته ، د عمري بابا بچو یادي سیمې له همغه پیله سنګر ، سنګر او کمین ،کمین ګرځولي وې ، او عمري بابا به وخت په وخت دا ډاډ ورکاوه چې ستاسې قرباني به الله نه ضایع کوي او الله عزوجل به یو نړیوال سپیڅلی اسلامي خلافت قایم کړي چې جهاد به د طاغوتي هیوادونو د نیابتي او سیاسي جګړو تر سیوري لاندې نه وي ، بلکې د وطنیت دا جغرافیوي او معنوي کرښې به ونړوي او په درسته نړۍ کې به د درستې نړۍ له کفارو ، مرتدینو ، مشرکینو او طواغیتو سره په جګړه کې بشکیل شي ، چې تاسې به هم بیا للـه الحمد د همدې کاروان لارویان یاست .

د عمري بابا ارمان الله پوره کړ او دده په ژوند الله عزوجل په همداسې سپیڅلو مجاهدینو د اسلامي خلافت پیرزوینه وکړه .

دلته به یوه یادونه وکړم چې د امارت په نوم ملیشې همغسې په نیابتي جګړه مارو واوختې او اوس د نړیوالو کفارو د امن ساتنې ضمانتونه کوي ، آی ایس آی یو ځل بیا په دوحه کې د ولسونو په قربانیو معامله وکړه ، خو د عمري بابا د کورنۍ د سپیڅلو مجاهدینو په څېر داسې په زرګونو کورنیو باندې الله عزوجل دا احسان وکړ چې د اسلامي خلافت لیکو سره یو ځای شول ، دعمري بابا او د داسې نورو په زرګونو کورنیو خلافت سره بیعت د امارت په دې ادعا هم دروند ګذار دی او غلطه یې ثابتوي چې ګوندي تیر شل کاله خو فقط دوی د امریکایانو او نورو کفارو په خلاف جهاد کړې او اسلامي خلافت مجاهدین په خراسان کې اوس راپیدا شول ، خو دا خبیثان دا رون حقیقت هیڅکله له خلکو نه شي پټولی چې د اسلامي دولت مجاهدین څه له اسمانه نه دی راکیوتي بلکې هغه سپیڅلي مجاهدین چې په درسته نړۍ د یو شرعي نظام د قیام ارمانجن و او د امریکایي اشغال له پیله له مجبورۍ د امارت په صف کې خپله مبارزه پیل کړې وه ، نو ټول همغه پاک خلک د خلافت لیکو ته راغلل او هغه کسان چې جنګ یې د وطنیت په ګمراه عقیده د آی ایس آی تر مهار لاندې چوکۍ ته د رسیدو په هدف جاري ساتلی و نو هغوی هم هغه دی، دې هدف ته ورسیدل امریکا پرې خپل شرایط ومنل او د کابل واک یې وروسپاره ، خو دومره به وواېو هغه د حافظ سعید خان تقبله الله خبره دا جهاد د امارت نوم نه دی کړی ، بلکې جهاد چې چا ددې نامه لاندې کاوه هغوی یو سپیڅلي ارمان درلود چې هغه د امارت د سیوري لاندې نه پوره کیده، بلکې هغه ارمان ته د خلافت د بیرغ لاندې مجاهدین رسیدونکي دي ان شاء الله ، نو ددغه ټولو مشرانو هغه وړاندوینې په ځای شوې، شکونه یې په یقین بدل شول مخلصینو ته الله عزوجل خلافت ورکړ او نور ګمراهان د امارت په صف کې دادی د اوسني ارتداد او پلیتیو په خم کې ولوېدل .

له الله عزوجل څخه یې نور هم ذلیله غواړو .

خبره راڅخه بل خوا لاړه راځو او د عمري بابا د کورنۍ د هغه وخت کیسه کوو چې ۲۰۰۳ کال و او په ټول افغانستان د امریکایي کفارو په مشرۍ د نړۍ د ټولو کفارو او طواغیتو د وحشت او دیموکراسۍ شادر خپور و .

د عمري بابا مشر زوی یې راته کیسه کوي وایي : داسې وخت و چې د کفارو په وړاندې چا مسلح قیام څه چې د خولې د چوله کولو جرآت هم نه درلود، دغه وخت د عمري بابا د عمر په لحاظ ډېر و او زیات ضعیف شوی و ، د مسلحې مبارزې له زوره پریوتی و، خو زړه یې ژوندی و ، نور ورونه مې واړه و ، زه یې مشر زوی وم ، په ځای ددې چې د نورو پلارانو په څېر یې مزدورۍ او د پیسو ګټلو ته هڅولي وای ، نو تل به یې راته د جهاد ترغیب راکوه ، همغه و چې په ډېر سخت غربت کې یې راته د جهاد وسایل ما او زما ملګرو ته برابر کړل ، وسلوالو مبارزه مو پیل کړه ، چرته کمین او چرته ماین او چرته

نور غلچکي.. بریدونه مو په پوره شوق شروع کړل او عمري بابا به چې زموږ په خپلو پیسو اخستې زموږ په لاسونو کې د ماشینداړو او پیکاو له میلونو څخه د مرتدینو په لور د وتونکو مردکو شور اوریده نو له خوشالۍ به جامو کې نه ځایده، تل به یې راته لارښوونې کولې او مشورې به یې راسره شریکولې، هر عملیات ته به چې وتلو نو تر شا به یې راپسې د دعا لاسونه لپه کړل.

په دې جریان کې زه بندي شوم، پلار به مې تل د حوصلې او غیرت څخه ډک پیغامونه رالیږل، اخر یې هم خپله یوه ټوټه زمکه وپلورله، قاضیانو ته یې پیسې ورکړې او زه یې له اوه میاشتې زندان څخه وروسته را ازاد کړم، کله چې را خلاص شوم، نو عمري بابا راته داسې ونه ویل چې بچیه نور یې بس کړه، بلکې لا زیات یې تشویق کړم او نوره زمینه سازي یې راته وکړه، ورځ تربلې مو په سیمه کې نفوذ پراخیده او جهادي فعالیتونو مو رنګ راوړ.

یوه ورځ له مختلفو سیمو ګڼ مجاهدین راټول شول او غوښتل مو چې بیګاته د چپرهار په ولسوالۍ برید ترسره کړو، پلار مې راته ډېرې مشورې راکړې ټول مجاهدین یې تشویق کړل، کله چې موږ په ولسوالۍ د درنو او سپکو اسلحو له میلونو د اور باران وراوه همدغه مهال مې پلار د بام له سره هم زموږ د جګړې ننداره کوله او هم به بیرته په جانماز ودرید او الله ته به یې زموږ د فتحې لپاره دعاوې کولې، پلار مې د خوښۍ اوښکې تویولې او په دې یې ویاړل چې بچو یې په مرتدینو اوربل کړی، کله چې له جګړې راستانه شوو، په سبا یې زیات تشویق کړو، ډېر ناز یې راکړ نهایت زیات خوشاله و او بیا یې راته په یو ډول له خندا په ډکه لهجه په پیغوریزه ډول وویل:

تاسې هسې د کور مجاهدین یاستئ، یوه شپه جنګ کوئ او نور مو بیا در، درک ورک شي، تاسې هره شپه په دې خبیثانو همدا د بیګاني جنګ په شان جنګ وکړئ تاسې بیا وګورئ چې دا ګیدړان دا ساحې څنګه پریږدي.

دپلار دې خبرو به زموږ جذبې او همتونه لا لوړول، یوه شپه یې راوغوښتم او راته یې کړه چې: بچیه څنګه خوشې پروت یې یوه شپه کوم کار وکړئ بیا مو په ورځو، ورځو درک نه وي؟

ورته مې وویل: پلاره بس همدومره مو وس وي مجاهدین په څه خوارۍ او زارۍ یو څه مهمات راپیدا کړي، همغه یوه شپه جنګ شي نو، اوس نو اکثره ملګرو سره نه اسلحې شته او نه کارتوس لرو، مجاهدین دلته خپله وسه کوي، بس مشران مو په حیات اباد او اسلام اباد کې عیشونه کوي.

پلار مې راته وویل: بچیه مه خفه کیږه ورشه هغه فلانۍ زمکه په فلاني خرڅه کړه او ځانته پرې مهمات هم واخلئ او که مو کوم ملګري اسلحه نه درلوده اسلحه هم پرې واخلئ، که دا هر څه مو ختم کړل بیا هغه نوره زمکه خرڅه کړه، خو جهاد ته مه شا کوئ موږ جهاد د کلمې د لوړاوي لپاره کوو، مشران به مو خپل کار کوي دا ځل به مو الله نه نا امیده کوي ګوندې داسې سپیڅلي صف الله راکړي چې مشران یې له دې ټولو مرداریو او پردیو ته له مزدوریو پاک وي.

همغه و چې زمکه مې وپلورله او خپل ترتیبونه مو پرې بیا رامنظم کړل، زموږ په کور کې ماپسې واړه ورونه همداسې د جهاد په فکر او احساس رالویدل، هر یو ته جهاد لومړیتوب درلود، هر ماشوم مو ځکه عملي مجاهد و چې هر څه یې عملي زده کول، د اسلحو او ماینونو انتقال، د دښمن ترصد، د مجاهدینو خدمت او مجاهدینو سره ناسته ولاړه او نورې سرګرمۍ ددې باعث شوې چې هر ماشوم مو د هر څه سره پوره بلد شو.

هغه وخت چې زه زندان کې وم، زما ځلورم وروریوسف ۱۳ کلن و، همدغه شانته یوسف عمري هم

تربیه شوی هلک و، په لږ وخت کی تري الله زیات کار واخیست یوسف سره له ډیر کوچنیوالي یې دماینونو د تنفیذ زیات شوق و، همغه وو چه د ملګرو له لوري د اکثره ایخودل شویو ماینونو تنفیذ ته به یوسف کیناستلوپه یوسف چا شک نه کاوه د ډیرو کفارو او طواغیتو عرادې او جسدونه یې د ماینونو په لمبو وسیزل.

یو وخت زندان ته راغې له سترې مه شي وروسته یې متصل شروع وکړه: چه وروره ستا دنیولو جاسوسي چا کړې؟

ما ورته کړه چه دې خبرو نه اوس تیر شه، دمور او پلار او کور کېسې راته وکړه پلار خوبه ډیر پریشانه نه وي؟

لنډه یې راخلاصه کړه: الحمد لله ټول روغ جوړ او خوشاله دي، ته به د جاسوس مالومات ضرور راکوې، تاته مالوم دی، فلانی خو نه دی؟ زه پوهه شوم چې اوس مې په څه چل د جاسوس نوم له خولې وباسي او دا خو لا ماشوم دی هسې نه ځان خراب کړي، ورته په غوسه شوم: تاسره نورې خبرې نشته همدا جاسوس دی او جاسوس دی، صبر وکړه ما هیڅ اقرار نه دی کړی، زر خوشې کیږم بیا به د جاسوس غم کوو اوس ته دې خبرې پسې مه شله کیږه، داچه زندان کې د ملاقات وخت محدود وي یوسف بیا، بیا دغه خبره رایاده کړه، خو اخر خبره سخته شوه یوسف په ژړا شو ویل یې: ته به زندان کې پروت یې اوجاسوس به ژوندی او ازاد ګرځي دا کوم غیرت دی، ماته خو دغه شان ژوند، ژوند نه ښکاري نور مجاهدین مې ورته پوه کړل، چه زما دغه ورور کشر دی، تاسی ورته نصیحت وکړئ، هسې ځان خرابوي، بیا هملته ځینې مشرانو مجاهدینو ملګرو کیناوه نصیحت یې ورته وکړ، خو کوم خاص اثر یې پرې ونه کړ، اخر د پیوازۍ وخت پوره شو او یوسف لاړ، بله هفته بیا د ملاقات ورځ وه، بیا راغی همغه زړې کېسې یې کولې، ویل یې زما په یو کس شک دې همغه جاسوسي کړې ده؟ ورته مې کړه: بس بیګنا خلک وژنه اخرت کې به یې ځواب ووایې.

اوچت شو، ویل یې: بس نور نو زه همداسې نه شم کیناستلای دعا کوه چې له دې مرتدینو ښه سم انتقام واخلم.

چې راغلی و، معسکر ته تللی و، او بیا له هغه ځایه یې د استشهادیانو په ټولي کې نوم لیکلی و، دغه وخت زما د حبس موده پوره شوه کور ته راغلم، د ورور جدایي او کم عمرۍ دردولم یوه ورځ وه، چه یو بل ملګري ته یې زنګ وهلی و، چه ورور ته مې مبایل ورکړه چه خبرې ورسره کوم، خبرې راسره شروع کړې ډیر خوشحاله و، راته یې وویل: وروره بخښش راته کوه، په فلانۍ ورځ مې واده دی، زه پوه شوم چې د عملیاتو وخت یې رارسیدلی، ورته مې کړل: خپل مسؤل ته دې ووایه چه زما ورور هم دغه واده کې برخه اخلي، زه هم تاسره یو ځای همداسې واده کوم.

په خندا راته وویل: وروره ته نور زما په څېر ودونو والا برابر کړه ودونه ورته وکړه، دا ودونه به کشران کوي تاسې یې وروزئ.

هغه ورځ چه راغله نو زموږ حجره کی د کومې راډیو خبرونه کوم کس نیولي وو، غالباً له غرمې وروسته وخت و، د خبرونو سرخط و: دخوست ولایت په مرکز کې د استخباراتو په ریاست فدایان ننوتي، له سهاره سخت جنګ شروع دی او لا تراوسه روان دی، زه پوه شوم چه دغه ورځ خو مې د ورور وعده هم وه، د ورور جدایي سخته وي، او د امریکایي اشغال په وړاندې د جهاد په جریان کې دا زموږ له کوره لومړی شهید و، د درد احساس به مې په دې خبره راکماوه چې دا شهادت مې د ورور ارمان و او دا ارمان یې پوره شو.

یوسف هم شهید شو، زموږ د کورنۍ د جهاد لړۍ لا چټکه شوه، ماپسې لومړي او دوهم ورور هم دغه وخت د جهاد سنګرونه تاوده ساتلي و، ماپسې دوهم ورور مې جان محمد عمري بیا هغه څوک و چې په ماینونو یې له دښمن څخه لار ورکه کړې وه، له ابتدا څخه یې د الکترانیک او ماینونو جوړولو او د جواسیسو د وژلو سره زیاته مینه وه، ډیر جواسیس الله د همده په لاسونو دجهنم کندې ته اوغورځول. او ورسره څنګ کې داسې اختراع د ماینونو وکړه چه د ملګرو منځ کی دا ماینونه په لوټه مشهورشول، یعنې دا هغه ماینونه وو، چه اوس ورته سمیټی ویل

کیږي، د بوې سېمې د اراضـی سره
همرنګ جوړېږي، خخولو ته یې
ضرورت نه پیدا کیږي، دغه اختراع
خو یا ده خپله کړې وه او یا یې
چرته له چا څخه اوریدلي و او
طریقه زده کړې وه والله اعلم .
خو په هر صورت کوشش یې دا
و چې په هر کار کې یو نوښت
وکړي ، او نوې ، نوې پرمختګونه
رامنځ ته کړي، خو تقریباً ۲۰۰۷
نه دغه شروع وشوه، ابتدا کې
مرتدین وو، بیا زموږ ساحو ته
خارجیان راغلل ، د جان محمد لاس
کې به همیشه یا یوه غټه لوټه(د
خاورو چم) او یا خښته وه ، کلیوالو
به فکر کاوه چې د خاورو چم او
خښته ورسره ده چرته به یې په
کار وي ، چا به پرې د ماین ګمان
نه کاوه خو هغه به خطرناک ماین
و ، تل به یې د خارجیانو ګزمې
د عقابي نظرونو لاندې وې ، هغه
وخت به خارجیان کلیو ته پیدل
راښکته کیدل ، ډلې ،ډلې به یا
چرته روان یا ولاړ و . *جان محمد
به کله ماینونوته د پلاستیک پوخ
وراغوستې و او کله د خښتې او یا
خاورې رنګ به یې ورکړی و،..
بس چې له هرې لارې به ممکنه وه
نو جان محمد څخه به خارجیان
روغ بیرته په پښو نه تلل ، هره لار
او هره کوڅه یې د دوی په وینو
ولړله ، زموږ د سېمې کلي او کوڅې
یې اشغالګرو ته داسې مرګونې او
خونړۍ کړې چې بیا به یې ورته
د راکتلو جرات نه کاوه .

هغه وخت د امریکا تالي څټي
ملکانو به دا اوازې کولې چې دلته
یو شینوګی هلک دی ټول وطن یې
نارامه کړی چې د خارجیانو خواته
نیزدې شي نو بیا د خارجیانو خیر
نه وي دا شینوګی بیا ورک شي او
خارجیان موږ په تکلیفوي او نور
کلیوال رانیسي ، جان محمد دومره
بهادر انسان و، چې د دشمن څخه
به لرې نه تلو ،که په یو طرف
به دوښمن لاړ، نو له بل طرف
به دا بیا وربانډی راتاؤ شو، د کلي
خلک به دده بهادرۍ ته حیران
پاتې وه، حالات ورځ تربلې سختیدل،
موږ هم د حالاتو سره مبارزه کوله
ترشا مې یو ، یو وروړ را زلی
کیده او د جهاد ډګر ته راواته ،
نور نو کلي کې ډیر رسوا شو
، هره شپه به مو په کور چاپه
وه اخر مو کور کلی پریښود او

سره له کورنۍ له کلي کډه شوو،
۲۰۱۰ کال و دلته کلي اولس کې بیا
جان محمد مجاهدین رهبري کول،
دغه وخت زموږ د خپلې کورنۍ
دولس کسیزه د مجاهدینو تکړه ډله
برابره شوې وه ، چه رهبري یې
همدغه جان محمد کوله بلاخره
جان محمد باندی خپل کور کې
صلیبیانو چاپه ووهله او اسیر
شو، زندان ته لاړ دوه کاله وروسته
الله را آزاد کړ .
د جان محمد عمري د میرانې او
اتلولیو کیسې بیخي زیاتې دي ، که
یې ذکر کړو نو د نورو شهیدانو
تذکیره به پاتې شي خو یوه ستره
کارنامه چې زموږ د ژوند لوری
یې بدل کړ او موږ یې هغه کاروان
ته داخل کړو چې موږ یې له
کلونو په وینو او اورونو کې لارې
څارلې چې هغه د اسلامي خلافت
سره بیعت و .
کله چې د اسلامي خلافت ظهور
وشو او خراسان هم دغه نړیوال
خلافت یو ولایت اعلان شو ، نو
له هر لوري ورته د امارت او نورو
تنظیمونو څخه زړو(پخوانیو) او
د هغه لومړنیو مخلصو مجاهدینو
ډلې راماتې شوې چې کلونه ،
کلونه یې د امریکایي اشغال او د
هغوی د طاغوتي مرتد ګوډاګي
نظام په وړاندې هر ډول مبارزه
کړې وه او هر قسم قربانۍ یې
ورکړې وې ،جان محمد هم دغه
کاروان لار ونیوه او د بیعت تصمیم
یې ونیوه، موږ پسې یې رابطه
وکړه چې وروره تاسې چې د کوم
هدف او ارمان لپاره جهاد شروع
کړې و لله الحمد هغه ارمان او
هدف ته د رسیدو لپاره د خلافت
کاروان خپل سفر پیل کړ ، هله
نو نور ځنډ مه کوئ او په خیر
راشئ چې د خراسان د والي حافظ
سعید خان په لاس د مسلمانانو د
خلیفه سره بیعت وکړو ان شاء الله،
په مسنجر کې مې ورته بیرته
پیغام پریښود چې:
والکه !یو ځل خه تحقیق او پلټنه
وکړه هسې نه لکه امارت چې په
آی ایس آی پلورلي یو، دغسې ته
مو په چا خرڅ نه کړې ؟
ویل یې ما پوره تحقیق کړی او ته
هم خپل هر ارخیز تحقیق وکړه ،
او که له تحقیق کولو وروسته هم
رانه شي نو ګوره په خلاصونو
غوږونو یې واوره چې زما او ستا
لارې هم سره بیا جلا کیږي خه
سوچ پرې وکړه ، دغه وخت جان
محمد د اسلامي دولت تمکین ته
سره له ګڼو ملګرو هجرت کړی
و او دغه وخت ورته ګورګوری
چې د خراسان دوهم ستر مرکز
ګڼل کیده د همدې ساحې د امنیتي
کمربند مسولیت ورته سپارل شوی
و ، چې دغه وخت یې ډیر سخت
جنګونه وکړل ، همیش به خط کې
ناست و ، او شپه او ورځ به ګوته
په ماشه و ، دا کمربند یې د الله په
فضل د هر ډول دښمن څخه شه
کلک ساتلی و ، هم د طالب ملیشو
څخه او هم د افغان مرتدینو او د
امریکا په مشرۍ د نړې د کفري
داړه مارو څخه .
ګڼ مرتدین یې په خپل لاس ذبحه
کړل او په هر تعرضي او دفاعي
جګړه کې به الله عزوجل دې
هسکه غاړې راویسته
اخر د خراسان د والي تقبله الله
له لوري چپرهار ته ولیږل شو
او هلته د اسلامي خلافت له لوري
د چپرهار د هغه وخت د مسؤل
خالص مولوي صیب تقبله الله
نایب وټاکل شو ، جنګونه ورځ
تربلې سختیدل یو وخت داسې
راغله چه جان محمد عمري د
پچیر آګام په ساحه کې د دشمن
له مختلفو ولایتونو څخه د راحشر
شویو په زرګونو افرادو مشتملو
قطعو سره په جنګ واوختې، چه
په دې جګړو کې خپله خالص
مولوي صیب هم شهید شو او
جان محمد چه د دشمن منځ ته
داخل شوی و، له څلورو طرفونو
محاصره شو او هلته یې د سخت
جنګ کولو بعد د شهادت جام
نوش کړ. تقبله الله .
د شهیدانو پلار افتاب الدین عمري
چې تر دغه وخته یې یو بل زوی
ایمل عمري هم په یوه پیښه کې
لومړی زخمي او بیا شهید کیږي
درې زامن او یو لمسی یې شهیدان
شوې و ،خو دده په حوصلو او
ثبات کې کوم فرق نه راتللو دا
ټول غمونه او کړاوونه یې د الله
عزوجل د رضا او د اسلامي نظام د
قیام په هدف په سره سینه تیرول
.
عمري بابا همغسې خپل بچي
جهاد ته تشویقول او ورته یې
ویل اوس خو نو باید لس ځله
خپل زور او خدمت زیات کړئ
اوس مو نو په وینو او قربانیو د
نړیوال خلافت بنسټونه مظبوطیږي
اوس مو په وینو او اوښکو څوک
تجارت نه شي کولای اوس خو په
پوره اخلاص او خوشالی د قربانۍ
هر ډګر ته ودانګئ
د عمري بابا مشر زوی د خپلې
کورنۍ د اتلولیو کیسه کوي او زه
ورته غوږ یم وایي : ددغه شهیدانو
له شهادت وروسته مې د بل وروړ
لعل محمد نوبت شو ، لعل محمد

چې په محمدي هم مشهور و
له ماشومتوبه ډیر ساده مزاجه
مالومیده خو ډیر قوي و، د ناړامه
او سختو کارونو کولو له امله په
سیمه کې مشهور و، په لومړیو
کې یې جهاد سره کومه علاقه نه
درلوده ، بس خپلو پټو کې به
چاپیره و ، له همغه تنکي ځلیتوبه
د پلار د زمکې او جایداد سخت
کارونه همده ته ور تر غاړې و ،
زموږ د ټولې کورنۍ د هر سخت
کار غږ به په لعل محمد و ، چې
موږ کورنۍ به ورته له ډیرې
مینې لالوګی وایه ، یوه ورځ په
حجره کې د یو ملګری سره ناست
وم ،لعل محمد چای راوړ،موږ دغه
وخت د یو جاسوس د وژنې په

پلان خبرې کولې دې راته لاس تر زنې ناست و او غوږ، غوږ و، موږ سره د جاسوس د وژنې په پلان او نقشه ډېرې خبرې وکړې خو کومه مثمره نتيجه يې نه درلوده ، اخر د لعل محمد زړه راتنګ شو په ډېره نا اشنا لهجه يې موږ ته رامخ کړ : ځئ مړه ما ويل تاسې به ډېر تکړه ياستئ اوس د يو کس په وژلو سره نه سلا کيږئ دا خو نو دومره سخت کار نه دی ، ماته همدا اوس توفانچه راکړئ ، زه ورپسې همدا اوس ځم نه به مې څوک وګوري او نه به الله بل مشکل پيدا کوي او په منډه به يې درته د الله په مدد مردار کړم .

لعل محمد چې موږ ته يو هوايي او ساده انسان ښکاريده ، دې خبرو يې سخت خوند راکړ، په خبرو کې يې په الله توکل ، جرات، ډاډ او په ځان باور نغښتې و ،بل ملګري مې تهديد کړ ورته يې کړه : پاځه مړه ته خپله پوزه نه شې پاکولې نو مړی به څنګه وکړې.

محمدي د ملګري تهديد هسې بابيزه وګاڼه ، صبر يې ونکړ، بيايی خبره راغبرګه کړه : ګوره تاسی ته زه چل خايم کنه ،زما خبره ومنئ ،ددی خبيث نه به بيغمه شئ ،د محمدي پرلاپسې ټينګار او په دې اړه عجيبو مشورو زما ملګري هم اخر قانع کړ، بيا مو ډېر ناز او ډاډ ورکړ.

بله ورځ همغه جاسوس پسی تللی و، وژلی يی و، او خه محفوظ راستون شوې و ، بس له دې وروسته يې نو بيا سمه ملا وتړله، داسې اندازې ته ورسيد چه د وخت فرعونيانو به له مختلفو لارو موږ سره رابطې کولې او يا به يې پيغامونه راليږل او عذرونه به يې کول چې ستاسې د دغه ورور سترګی ډېرې خطرناکې دي، زموږ طرف ډېر ګرځي ،راګرځي، موږ ورڅخه تشويش لرو، منعه يی کړئ ، يايې پوه کړئ ، چرته له موږ خرپ پورته نه کړي ...

دده دجنګونو ډېرې کېسې دي يوه لنډه کيسه به يې درته بله هم وکړم :

يووخت د چپرهار ولسوالۍ مانو کلي کې ماسره دوه کشران مجاهدين چې د استشهادي عملياتو لپاره راغلي وو، کور کې پټ ديره و، دغه وخت فقط يو کم عمره زوی او يو کم عمره ورور مې راسره و ، دواړو د جنګ کولو پوره وړتيا هم نه درلوده ، دشمن زموږ له حاله خبر شوی و ، چې کور کې ورسره استشهاديان دي او د جنګ کولو هم ورسره نور څوک نه شته ، نو د کورونو شاته مو د اربکيانو پوستې وې ، چې هغوی د شا له اړخه راخواره شول شاته يې زموږ لاره بنده کړه او مخ نه راباندې په زيات تعداد د اردو مرتدعسکر د ډاګو د بيس څخه راغلل ، دغه وخت زموږ نور مجاهدين يوبل طرف عملياتوته تللي وو، چه موږته په وخت راتګ يې ممکن نه و ،کله مې چه دغه حالات وکتل نو يو قسم تشويش راته پيدا شو ،چه دشمن همدغه موقع لټوله او په لاس ورغله، دغه وخت موږ د محمدي سره رابطه وکړه ،له دې حالاتو مو خبر کړ، محمدي نو دغه وخت هغه پخوانی محمدي نه و اوس نو ډېر ويخ ،زيرکه او د جنګي تکيتيکونو يو ماهر انسان و، لنډ يې راته وويل : وروره تاسې فقط لس دقيقې مقاومت وکړئ زه يوه چاره کوم د الله په مددسره ،د محمدي او زموږ تر منځ د يو ساعت د پيدل مزل په اندازه مصافه وه ،لاره کې دښمن هم و ، محمدي د يوې خبرې سړی و ،ويل يي: وروره غم مه کوه در رسيږم ان شاء الله ، دغه وخت زموږ رابطه هغه نورو مجاهدينو ملګرو سره هم وشوه ،هغوی ته مو هم دغه هدايت وکړ، چه تاسې دشمن طرف يو څو فايره وکړئ چه دشمن لږ توقف وکړي همغه و چې ملګرو د لرې نه د پيکا ډزی وکړې، خو دشمن دومره وحشت وکړ، چې په هوانونو يې شروع وکړه ، لس دقيقې به شوې وې چې محمدي رابطه وکړه په غلې غږ وايي وروره بې فکره اوسه زرګرانو سره يم او دشمن راته ښکاري، که کوم اندازه دربشکته شوي وي، همغه را حصارکړه، دا نور به يو هم راڅخه درنه شي ان شاءالله ،دا زما د پيکا دخولی لاندې شو باذن الله ، نور مطمين اوسه، صرف راته امر وکړه .

دا چې محمدي تنها نه و، راغلی ځان سره يې يو راکټ چي او دوه نور ملګري هم راوستي وو، کله چه محمدي موږ ته خپل موقعيت اوښود، مناسبې ساحې ته رسيدلی و، و نور خو موږ ته معلوم و، چه دجنګ په هره لوبه کې څه مهارت لري دغه وخت کې مې ورته امر وکړ چې ته دې د خپلې مخې دشمن د ګذارونو لاندې ونيسه ، موږ به به دخپلی مخې هغه پسې واخلو ، همغه و چه دشمن چيغې جوړې کړې، چې موږ پرېږدئ ،چې خپل زخميان وباسو، ګنې بمبارد درباندې کوو، خو نتيجه دا شوه چه د بيس قومندان دمحمدي پسی رابطه وکړه ،ورته يی ويلي و: چې زه به هيڅکله ستا له اجازې پرته بيا له بيس نه ستاسې طرف دربشکته نه شم ،يقينې چه دغيرت غر يي، موږ درته قانع شو، بس اينده موږ نه درځو که امريکايان درتلل د هغوی خپل کار دی .

محمدي د غيرت اوبهادری څخه ډک انسان و، تل به يی خوله له خندا ډکه وه ، دمجاهدينو ورسره ډېر محبت و، قاطع دريځ والا و ، په نورو سيمو کې به چې ملګرو ته کوم کار سخت شو نو محمدي به يې غوښت، يو ځل په يوه بله ولسوالۍ کې نورو مجاهدينو دوه تنه جاسوسان وژل غوښتل خو نه برابريدل ، بيا يې محمدي غوښتې و او محمدي دواړه د الله په خاص نصرت په رڼا ورځ وژلي و،...

د اسلامي خلافت د بيعت لاندې د چپرهار په جنګونو کی زخمي شو خو له دې وجې چې مهاجر ملګري به مايوسه شي، تداوی ته هم لاړ نه شو ،په يو لاس زخمي و، په بل روغ لاس يی ډېرې ورځې مقاومت وکړ، بلاخره تمکين ته راغی او دلته يې هم په فتحه کتيبه کی نوم ليکنه وکړه ، هميشه به د جنګ په سختو سنګرونوکې پاتې کيده، او د انغماسې مجاهدينو سرګروپ به ، کله به چې دجنګ لپاره ګروپ بندي کيدله، نو د محمدي دګروپ تعداد به ډېر زياتيده، د هرمجاهد به دا غوښتنه وه چې د محمدي په ګروپ کی راشم ،علت يې دا وه چه ده سره جنګي مهارت او د ملګرو ترمنځ محبت ډېر و، هميش به جنګ کې دده د ملګرو تلفات کم و، د ملګرو کلک کنترول به يی کاوه، خپله به هميش يوه پيکا يا کلاشن يا ايم شانزده دواړه ځان سره ګرځول ، محمدي د صحت څخه هم خه برابر او قوي ځوان و .

ډېر ماهره نښه ويشتونکی و، چه دده مخ ته دشمن نشو ودريدلای، دده اسلحه به دومره قدرمنده وه چه خپله به په خاورو کې پروت خو اسلحه باندی به يې ګرد نه برداشت کاوه او ځانته به يې تل په سينه ساتله .

کله چې په تمکين چاپې شروع شوې ، نو محمدي د چاپو سره د جنګ تجربه درلوده ، په ګورګوری

کې يې هم داسې ځای کې اوسيده چې د ټولې ګورګورۍ د دفاع نقطه وه ، هر ماښام به يې يې مخابره ګرمه وه ، مجاهدين يې تل ويخ ساتل ، د دفاعي کارونو تر څنګ يې شرطه کې هم خدمت کاوه ، د وزيرو تنګي او تورې بورې په جنګونو کې يې هم ستر رول درلود او هلته يې هم د ميړانې ډيرې کيسې مشهورې دي .

د وزيرو تنګي مياګانو په نوم کلي ته چې په توحيد اباد نومول شوې و راکډه شو ، دلته يې په حاکمه نقطه کې واړول د څو چاپو سره په ميړانه وجنګيد او د الله په فضل چاپې د ماتې سره مخ شوې ، په توحيد اباد اخري تر ټولو ستره چاپه کې ترې دښمن يو قدم مخ ته نه شو تللې چې اخر يی په

کور امريکايي جيټانو بمبار وکړ چې د خپلې مجاهدې ميرمنې يو کوچنې ګلالي زوی عثمان او دوه نورو ملګرو سره يو ځای په شهادت ورسيد. تقبلهم الله

کله چې اسلامي خلافت اعلان شو ، نو موږ هم خپل کلي ته کډن راستانه شو ، د خلافت جنګونه چپرهار ته راښکته شول ، دلته مصروف و ، لومړي وختونه و ، د مجاهدينو او مهاجرينو په خدمت بوخت و، لا تمکين ته نه و ختلي ، دغه وخت زما مشر زوی اسحاق عمري د ۱۲ کلونو په عمر و ، د قران کريم په حفظ مصروف و ، تل به يې خوله له خوږې خندا ډکه وه ، ډير نرم ، حليم او متواضع ځوان و،له ماشومتوبه د مجاهدينو په خدمت بوخت و ، د جهاد کيسو ته به يې ډير په مينه غوږ ايښی و، او همداسې په عملي او فکري شکل روزل کيده ، د خراسان د اعلان سره سم چې لا مو هجرت نه و کړې اسحاق خپل سبق سره ،سره خپل کور کې د مجاهدينو او مهاجرينو ميلمنو په خدمت بوخت و، کله چې جنګ زموږ تر کليو راورسيد نو اسحاق به مجاهدينو ته مهمات او خوراکي توکي انتقالول او ترصد کې به يې ورسره مرسته کوله ، د دښمن له نقل وحرکت څخه به يې په ډير مهارت مجاهدين باخبره ساتل ، اخر هم اسحاق په دې روانو کړو خدمتونو بسنه ونه کړه او په واړه ځان يې ټوپک ته لاس کړ.

په سختو تعرضونو او دفاعي جنګونو کې يې برخه واخسته دغه وخت مشرانو امر وکړ چې ټول مجاهدين بايد تمکين ته راشي موږ هم سره د کورنۍ هجرت وکړ ، والد صيب مې هم راسره و او الله عزوجل يې په دې اخري عمر کې د هجرت او اسلامي خلافت سره د بيعت سعادت نصيب کړ ، کله مو چې هجرت وکړ نو زموږ کورنۍ د همغه لومړيو مهاجرينو څخه وه د والي صيب له لوري راته په ګورګورۍ کې د کور جوړيدو او هملته د اوسيدو امر وشو، اسحاق راسره د هجرت

ددې اغزن او ستونزمن يون په هر سخت پړاو کې ملګری و او لکه د يو مظبوط سرې په څېر يې په درنو کارونو کې ماته اوږه راکړې وه .

ورځې تيريدې او د اسحاق جنګي مهارت زياتيده ، ماته هم د والي صيب له لوري د همدې منطقې حربي ماموريت وسپارل شو ، د خپلو ګڼ شمير وريرونو ، تره زامنو ماما زامنو او نورو کليوالو په شمول نور ګڼ شمير مجاهدين ورونه هم راسره راټول شول ، د سختو جنګونو لړۍ شروع شوه ، غوښتل مو ددې پراخه جګړې لړۍ په ابتداء کې د دښمن په يوه قوي پوسته له بريد څخه وروسته وکړو ، نو همداسې مو په يوه قوي پوسته د بريد پلان برابر کړ ، پوستې ته د اکمال ټولې لارې مو بندې کړې، غوښتل مو چې دې جنګ لپاره د ملګرو له منځه قوي ملګري راټول کړو ، اسحاق هم ځان رامخ ته کړ، خو د کم عمرۍ له امله يې په ليست کې نوم ونه ليکل شو، اسحاق عمري چې کله پوهه شو چې تعرض ته يې نه بوځو نو په ژړا شو ، هغه مهال پرې د مولوي صيب خادم تقبله الله رحم راغی ، ورته يې وويل : وراره ماته هم د جنګ يو طرف دفاعي خط سپارل شوی ، نو ته به ماسره لاړ شې ، خو اسحاق غوښتل چې انغماسيانو کې ولاړ شي ، خو له ډيرو خبرو او نصيحت وروسته يې دا ومنله چې خادم مولوي صيب سره لاړ شي، ، کله چه جنګ شروع کيږی خادم مولوي صيب راته بيا کيسه کوله چې : يوځل مې له څنګه د تکبير هيبتې نارې پورته شوې ،چې ګورم اسحاق د پوستې په لور په منډه دی ،غږ مې ورباندی وکړ چې: والکه! زه دی تنها پريخودم را تاو شه !

په منډه کې جواب راکړ : مولوي صيب مه مې درستنوه نور رانه صبر نه شي ، همغه و چې له تعرضيانو سره يو ځای بيا د پوستې منځ ته رسيدلی و ، بيا نو مشهور شو کله به يې کوم تعرض کې چا نوم وليکه او که نه او يا به که بل هر ترتيب کې يې نوم ليکل شوی و ، نو د جنګ د شروع کيدو سره به نور ددې بريکونو کار پريښوده او په پوسته به يې ورغورځهل

بيا نو مسولين مجبوره و چې په لومړنيو انغماسيانو کې نوم وليکي ، يو ځل د هسکې مېنې ولسوالۍ په امنې قوماندانۍ بريد برابر شو نو همغه وه چې اسحاق لومړی کس و چې د قوماندانۍ ودانې داخل ته يې ځان رسولی و ، يو ځل امارتي مشرکينو په ګورګورۍ په داسې حال تعرض وکړ چې اکثره کتيبې او مهاجرين مجاهدين بل طرف په تشکيل تللې و ، کورونو او سنګرونو کې ټول زخميان او سپين ږيري کمزوري ملګري پاتې و دښمن له موقعې استفاده وکړه ،فقط د اسحاق عمري او دده په عمر د يو بل مجاهد انس په شمول څو تنه کم عمره کشران مجاهدين پاتې و ، امارتي مشرکين دارالاسلام ته راداخل شوې و ، هغه وخت يې خپل مسول په دې قانع کړې و ، چې موږ دا څو تنه پرې تعرض کوو ، همغه و چې اجازه ورته وشوه نور نو دغه تنکو زلو د دښمن په لور ورمنډې کړې ، نه يې له مرمۍ سر ټيټاوه او نه يې هم نور ډار پيژانده ، دغه وخت د دښمن په مخابرو کې وارخطايي خپره شوه ، کشرانو يې په خپلو مشرانو چغې جوړې کړې چې هله ! داسې کسان يې راپريښې چې واړه ، واړه دي سم نه ښکاري ، بس همداسې راپه منډه دي ، سر نه ټيټوي، لګيږي هم نه ، نور نو راورسيدل ، مسول يې ورته وآيي چې ضربه يې کړئ ، کشران يې ورته په ورخطايي جواب ورکوي چې هر څه کوو نه لګيږي ، ډير کسان يې راڅخه وويشتل ، نوره ورسره نه کيږي مخ نه ګرځوي ، بالاخره همدې پنځو تنو تنکو زلمو سره الله دومره نصرت کوي چې د امارت مجهزه قوه ماتوي ، کسان يې زخميان او مرداريږي موټرو ته يې اچوي او تښتي له شا دوی ورپسې دي او په منډو يې سر کړې دي ، له دې پنځو تنو يو يې زخمي کيږي خو دوی بيا هم خپل حرکت نه دروي همغه و چې راغلی د جهل او شرک لښکر الله ماتوي او له سيمې پښې سپکوي، د اسحاق د شجاعت او بهادرۍ هم ګڼ داستانونه دي په ډير سختو معرکو کې يې برخه واخيسته ، پنځه ځله زخمي شوی خو له هر ځل جوړيدو وروسته بيرته له هغې په لوړ مورال د جګړې ليکو ته ستون شوی، د مجاهدينو ترمنځ يې هم

پراخه محبوبیت درلود.

د اسحاق عمري په اړه به زه (ددې لیکنې لیکوال) هم یوه خاطره شریکه کړم :

(د هجرت مو لومړني وختونه و ، د ګنو مجاهدینو د شجاعت او میړانې کیسې به مو اورېدې ،چې ددې تولو منځ کې عمري ډېر یادېده ، هر مجلس کې به همدا د جګړو او حماسو کیسې وې ، او د هر چا په خوله به د عمري د کارنامو او میړانو کیسې وې ، د عمري لیدو ته مې سخته تلوسه وه ، زموږ کور په مامند کې و او هغه مهال د هسکې مینې ولسوالۍ په طرفونو کې جګړې ګرمې وې او عمري د هسکې مینې په سنګرونو کې اوسیده ، ډېر وخت وروسته یو ځل ګورګورۍ ته وربرابر شوم ، راسره ملګري ته مې ویل: مشر قاري صیب هم یو ځل ګورو چې ورسره مې لږ کارونه دي ، هغې راته کړه : د هغې ځای خو ماته نه دی مالوم له دې ماشومانو به پوښتنه وکړو ، هلته یو ډله واړه مهاجر ماشومان ولاړ و ، د قاري صیب د کور پوښتنه مو ترې وکړه یو ماشوم د ونو لاندې ولاړو کسانو ته اشاره وکړ: هغه کسانو کې زوی ولاړ دی .

چې د همغه ولاړو کسانو څنګ ته ورغلو نو له سلام وروسته ټولو راسره خه تود روغبړ وکړ ټول تنکي ګلالي زلمي و او اکثر یې مسلح و ، پوښتنه مې ترې وکړه په تاسې کې د قاري صیب زوی کوم یو دې . نورو ملګرو یې یو تنکي زلمي ته اشاره وکړه : دا یې زوی دی .

درونده ټاپ یې له وړې سینې تړلی و ، خایسته تور ټوپک یې څنګ ته پروت و ، سپینو بوټانو او پورته کړو پایڅو یې ګلالی ځوانۍ ته لا ښکلا ورکړې وه ، ویل یې راځئ : دې مخکې او موږ ورپسې شو ، په لاره مې ترې وپوښتل : قاري صیب څنګه دی ؟

ویل یې : الحمد لله جوړ تیار دی .

ورته مې کړه : عمري څنګه دی او چرته دی ؟

یو شېبه غلي شو لږ ځنډ پس یې جواب راکړ هغه هم خه دی راځه ان شاء الله ورسره به وګورې .

حجرې ته ورسیدو شېبه پس همدې ځوان ډوډۍ او چای راوړ موږ هم مزله ځپلې و چې ماړه او دمه شو ، نو ورته مې کړه : خه وراره ته قاري صیب راوګوره چې ورسره کار لرم .

په خوږه خندا یې وویل : قاري صیب خو نه شته ډېر لرې دی .

ورته مې کړه : خه د الله بنده خو هملته به دې ویلي وی کنه .

بیا یې د خوږې خندا سره مل جواب راکړ : که هلته مې درته ویلي وی چې قاري صیب نه شته ، بیا راسره نه راتللې او زه پوهیدم چې ستړي او وږي یاستې .

ورته په خندا شوم : خه ماشاء الله بیا خو مې ومنلې ، خه عمري راته راپیدا کړه چې دا ځوان خو وګورو هسې هم تیار راغلي یو ، زما ددې پوښتنې سره هلته ناستو ځو کشرانو مجاهدینو غلي وخندل .

یو ځوان راته کړه : همدا خپله عمري دی .

حیران شوم ، دا څه وایې دا خو ورو کوټی ماشوم دې کنه ومې خندل . څنګ ته مې رانیږدې کړ په اوږو مې لاس وراچوه ، ډېر حیاناکه و ، ورته مې کړه : والله ما خو ویل چې عمري به سم چار شانه ځوان وي ، سم سړی به وي . دې خبرو سره ناستو ټولو مجاهدینو وخندل .

یوه یې وویل : اوس لکه چې دا سړی نه دی که څنګه ؟

ورته مې کړه : شوخي مې وکړه ، ولې نه، سړی او میړنی خو همدا دی چې په دې واړه ځان یې د کارنامو کیسې د هر چا په خوله دي ، عمري له ډېرې حیا سر ښکته نیولی و.) زما خاطره ختمه شوه .

والد صیب یې وایي : عمري ډېر خوږ او متواضع ځوان و ، نرم اخلاق او صله رحمي یې زیاته وه ، ملګرو به هم ډېر نازاوه او د کورنۍ له خوا به هم ډېر ناز ورکول کیده ، خه جهادي لباس او خه اسلحه به یې ځانته هر وخت برابرولو ، خو

دده په اړه دا مشهوره وه چې نه خه بوټ زوړلی شي نه څادر، ټاپ ، او نور شیان ... بلکې چې په غاړه به یې هر مجاهد هر شی خوښ کړ ، نو له ده به یې اخستې او و ده به هم ورته په خوږه خندا ورکاوه چاته یې انکار نه کاوه .

د اسحاق عمري د جنګونو کیسې زیاتې دي په هر صورت کله به چې فارغ و نو په ارام به نه

کیناسته ، اره او تبر به یې راواخستل د کونډو او یتیمانو او یا د زخمیانو مجاهدینو د کورنیو د سون د لرګو غم به یې خوړ او یا به هم د همدوی په نورو خدمتونو بوخت و ، چې د همدې خدمتونو په لړ کې یې یتیمانو ته سودا راوړله چې په لاره کې د ډرون د بې رحمه برید ښکار شو او د شهید شو .

دعمري بابا مشر زوی کیسه کوي او وایي چې د اسحاق عمري له شهادت وروسته زما د بل زوی بلال عمري نوبت شو ، بلال زما دوهم زوی و، دا هم دا سحاق په څېر دقرآن کریم حافظ ؤ ، دده هم د اسحاق په څېر د جنګونو او سنګرونو سره بې کچه مینه وه ، کله مو چې هجرت وکړ ، نو دغه وخت یې عمر ډېر کم و، تل به یې په تعرضونو او جنګونو کې په برخه اخستو ټینګار کاوه خو ډېر وروکی و ، ورته به مو اجازه نه ورکوله ، خو سنګرونو ته د مهماتو او خوراکي توکو په اکمال به تل مصروف و ، که به هر څومره سخت بمباری و، نو دې به خپل کار کاوه په توکو بار خره او کچر به یې روان کړې و

او لوړو سنګرونو ته به روان و، څو ځل پرې بمبار هم وشو خو الله به ساته، کله چې د وزيرو تنګی فتحه شو نو بلال عمري په معسکراتو کې د متفجراتو زده کړې ته کيناست دې برخې سره يې ځانګړې علاقه وه او په دې برخه کې ورته الله عزوجل ځانګړې استعداد هم ورکړی و، ډېر لږ وخت کې ډېر څه زده کړل، د استادانو له خوا يې ورته امر وشو چې بايد خپله ځانته د متفجراتو اړوند سامانونه برابر کړي او خه نوښتونه وکړي ،بلال په ډېره مينه خپل کار جاري ساته، کله چې د مرکخيلو او وادي حصار په طرف مجاهدينو پرمختګ وکړ، نو هلته د متفجراتو ملګرو ته ضرورت شو، چې بلال ته هم همغه خوا د تللو امر وشو، هلته د همده په لاس په جوړو شويو ماينونو ډېر طالب مرتدين د مرګ کندو ته پريوتل، بلال فقط د ماينونو کار ته غوښتل شوې و خو له موقعي څخه په استفاده يې

يوازې په ماين کارۍ بسنه نه کوله بلکې تل به د انغماسي ډلګيو سره د جنګ په لومړيو ليکو کې يو ځای و، په دې يې هم زړه تسل نه کاوه اخر يې په استشهادي کتيبه کې نوم ليکنه وکړه او د خپل نوبت په انتظار يې همغه د وادي حصار په سنګرونو کې وخت په رباط کې تيراوه.

د بلال عمري په اړه به زه (ددې ليکنې ليکوال) هم خپله يوه خاطره شريکه کړم: (له څو ورځو سخت سفر وروسته په دې وتوانيدو چې د وادي حصار په دره ورننوزو، هدف مو د مجاهدينو سره ملاقاتونه او دوی سره مجلسونه و، د نري خوږ قبلې طرف د غره په لمن کې ځای ،ځای سرې خټينې کلاګانې ابادې وې، دا سېمې تازه د اسلامي دولت مجاهدينو فتحه کړې وې او د مخکې تللو لپاره دلته تياری روان و، في الحال جنګ نه و، په لوړو څوکو کې د مجاهدينو سنګرونه اباد و، د وادي حصار له همدې درې څخه مرکخيلو او اړوند نورو ساحو ته د خوراکي توکو او نورو مهماتو اکمال کيده ،موږ غوښتل له دې لورې هيڅ اسره ونه وينو، د مرکخيلو د اخري سنګر پورې ولاړ شو او بيا له هغې طرفه په ټولو مرکزونو او سنګرونو کې د مجاهدينو ورونو پوښتنه وکړو، ځکه مو نو له دې طرف د مجاهدينو له ليدو څخه ځان ساته او کوشش مو کاوه چې د خپل راکول شوي ماموريت په اساس موږ هم څوک ونه ويني، ځکه نو لاره کې چيرته دمه هم نه شو، موږ چې سخت مزله او ولږې ځپلې و، راسره رهبر ملګري راته کړه: وروره دغه پاس غټه کلا کې د مجاهدينو مرکز دی همدلته به لږه دمه هم وکړو او يو کپ ډوډۍ به هم وخورو، چې کلا ته مې وکتل نو په يو کونج کې د تناره لوګی خاته، ددې لوګي په ليدو مو نور هم د لوږې احساس وکړ ،ملګري ته مې وويل: سمه ده بس بسم الله کړه.

کلا ته وروختو غټه د لرګي دروازه يې تياره خلاصه وه، دوه درې تنه مجاهدينو مو دروازه کې تود هرکلی وکړ، چې په دروازه ورننوتو نو لومړی مې سترګې په لوګي پسې ورستنې شوې، چې کتل مې يو تنکی ګلالی زلمی چې لا يې هم شونډه نه وه توره شوې ،په خړ خيرن رومال کې خپلې ګرګوتي څڼې راټولې کړې وې، لګيا و د ډوډۍ په پخولو بوخت و، چې ورنيږدې شوم، نو ويې پيژندم له ډيرې حيا يې مخ واړوه، لوګو وهلې اوښلنې سترګې يې پاکې کړې، له لرې مې ورغږ کړ: والکه ډوډۍ پخولی شې او که نه، هسې نه وره دې ډېر پاسته وي يا ټولې پيړې ونه څڅيږي او يا يې ونه سيزي، ماته د جواب راکولو په ځای په خوله تندي يو ځل بيا له سره د ترلي زوړ رومال پيڅکه تيره کړه، د تناره له سره راکيوت، په ډېر ادب او احترام يې راسره ستړي مه شي وکړل يو په عمر پوخ بل مجاهد ملګری هم ورسره مصروف و، د تناره په سر په شکرۍ کې تازه راوتلې تودې ډوډۍ ته مې لاس ورو غځاوه ورته مې کړه: وراره اجازه ده؟

په خوږه خندا يې وويل: همداسې وچه يې مه خوره قسمت مو خه دی، نن مو چيلی ذبحه کړی، په خه وخت کې راغلئ. موږ هم په يوه کوټه کې کيناستو لږ وخت وروسته دا ګلالی زلمی راننوت اوس يې نو پاک رومال په غاړه کې پروت و مخ او لاس يې هم له ګردونو پاک کړي و، په خندا مې خواته راغی راسره جوخت کيناست، په سترګو کې ځانګړی ادب، هوښياري او زيرکتيا وه، راته يې کړه: ستا بيا ليدل مې ډېر ارمان و، درڅخه خبر شوې و چې روغ يې خو ويل مو الله خبر دی چې له وادي حصاره به ژوندي ووځو که نه چې تاسې ووينو. ورته په خندا شوم، په اوږه مې لاس ورکيښود، دادی ګرانه بس زه خپله ستاسې د خوږو ورونو ملاقات ته راغلم.

غلې يې راته غوږ کې وويل: تودې اوبه هم شته او صابون او شامپو هم لرو دا ويښتان به دې هم ووينځې او جامې به بدلې کړې، دا جامې به هم درته زر، زر ووينځم ته چې څو ډوډۍ خورې او لمونځ کوې نو خپلې جامې به دې وچې شي. ډير ترې متاثره شوم، ورته مې ويل وراره جانه، موږ نه ايسارېږو فقط ډوډۍ ته راستانه شو، الله دې ستا په دې اخلاص او نيت تاته ډير اجرونه درکړي، ډير راسره ټينګ شو، ويل يې: خه چې جامې نه بدلوې نو ويښتان خو دې ووينځه، ما چې څو ځواب ورکاوه دې اوچت شو لږه شيبه پس يې پلاستيکي چپلې په دروازه کې واچولې ويل يې: دا په پښو کړه اوبه مې تيارې کړې دي، د انګړ په منځ کې کيناستو، ډيرو مجاهدينو ورونو هڅه کوله چې په سر راته اوبه راواچوي خو ده پرينښودل په سر يې اوبه راواچولې کله مې چې سر ووينځه نو هلته نيږدې د کټ په لنګه اچولې ځان پاک يې راواخست په دواړو لاسونو کې په ادب ونيوه، ددې زلمي له ادب او احترام څخه ډېر برخورد ډېر خوشاله کړم.

ورته مې کړه: وراره نوم دې څه دی؟

په غلې غږ يې په احترام وويل: عکرمه.

ورته مې وويل: د کوم ځای يې؟

جواب يې راکړ: د چپرهار.

دغه وخت راسره زما رهبر ملګري راته کړه: ولې ودې نه پيژانده دا خو د مشر قاري صيب زوی دی.

ما ورته کړه: خه دا څه وايې ما خو فکر کاوه چې د قاري صيب دوه زامن دي يو مشر عمري او بل يو شوخک کشر عمري چې د شوخۍ پرې ختمه ده ګمان مې کاوه چې همدا دوه زامن لري ... دا خو خه شوه الحمد لله چې قاري صيب داسې زيرکه او با ادبه بل زوی هم لري.) زما خاطره ختمه شوه.

د عکرمه (بلال عمري) والد صيب وايي: کله چې د اسلامي دولت په تمکين د دوحې د تړون په اساس د امريکا د عام بمبار او هوايي علني او ښکاره ملاتړ په پايله کې له مختلفو لارو طالب مشرکين او د افغان دولت ډول ،ډول قواو بريدونه پيل کړل، نو جنګ تر توحيد اباده راورسيده، موږ بلال ته امر وکړ چې کورونه او دا لارې کوڅې ټولې تشريک (ماين کاري) کړه چې دښمن خه ذليله شي، بلال هم په ډېره ليوالتيا خپل کار جاري وساته، بس د تقدير فيصلې دي، چې په همدې لړ کې د خپل قوي ماين ښکار شو او نازک بدن يې ټوټه، ټوټه شو. تقبله الله.

دغسې له دې وړاندې زما په يو بل وراره سبحان الله عمري باندې هم خپل ماين په داسې حال کې انفجار کړې و چې د مرتدينو په لار کې يې د هغوۍ عرادو ته ځای په ځای کاوه په دې انفجار کې سبحان الله عمري هم لکه د بلال په څېر ټوټه، ټوټه شو، بيا مو دده د جسد ځينې ټوټې راټولې کړې.

زمـا یـو بـل وراره نصـار احمـد هـم سـبحان اللـه سره ملګـرى و ، نومـوړي سـخت زخمـي شـو ، نصـار احمـد زمـا د مـشر وراره هجـرت اللـه بـدر ورور و ، هجـرت اللـه بـدر او مدثـر بـدر مـې هـم دواړه وریرونـه و .

هجـرت اللـه بـدر هـم ډیـر متواضـع ، نـرم مزاجـه ، خندانـه ، خـوږ ، متـوکل او میلمـه دوسـت ځـوان و، کلـه چـې جـان محمـد بنـدي شـو نـو هغـه وخـت نومـوړي د مجاهدینـو مـشري کولـه ، ورسـته بیـا هغـه مهـال د خپـل زخمـي ورور سـبحان اللـه سره یـو ځـای د عمـر کاروان څنـګ تـه لاړ ، کلـه چـې پـه عمـر کاروان د شـیخا او کلا څخـه لانـدې د ترخانـۍ پـه سـیمه کـې امریکایـي درنـده ګانـو چاپـه ووهلـه په هغـه چاپـه کـې عمـر کاروان سره د ابـو زاهـد پـه نـوم یـو مهاجـر شـیخ شـهید شـو کاروان تقبلـه اللـه زخمـي شـو او هجـرت اللـه بـدر اسـیر شـو ، کلـه چـې لـه زندانـه را ازاد شـو ، نـو اللـه عزوجـل پـه خراسـان کـې د اسـلامي خلافـت ظهـور کـړی و ، هجـرت اللـه هـم سمدسـتي هجـرت وکـړ او پـه خراسـان کـې یـې پـه مختلفـو ادارو کـې ډیـر مهـم کارونـه او خدمتونـه تـرسره کـړل ، پـه ځانګـړې ډول یـې د اقتصـاد پـه اداره کـې کـړې خدمتونـه یـې لـه هیچـا پټ نـه دي ، نومـوړی هـم یـو زړور او بهـادر مجاهـد و ،

اخـر هـم زمـوږ د کورنـۍ د یـو بـل غـړي بشـر مـل عمـري سره یـو ځـای د هسـکې مینـې ولسـوالۍ پـه ځنګـې سـیمه کـې د امریکایـي درندګانـو لـه لـوري د ډرون د بـې رحمـه ګذارونـو ښـکار شـول چـې دواړه یـو ځـای پـه شـهادت ورسـیدل .

بشرمـل عمـري هـم یـو زړه سـوانده ، مخلـص او متواضـع مجاهـد و ، نومـوړي هغـه مهـال د هیئت الهجـره پـه اداره کـې پـه خدمـت بوخـت و ، چه د همـده پـه رهبرۍ ګڼـو مهاجرینـو اللـه عزوجـل د اسـلامي دولـت تمکـین تـه پـه سـختو لارو د هجـرت توفیـق ورکـړی و .

د هجـرت اللـه عمـري بـل ورور او زمـا بـل کـشر وراره مدثـر عمـري و ، مدثـر عمـري هـم یـو ګلالـی او مینـه نـاک ځـوان و، نومـوړی هـم پـه سـنګرونو او جنګونـو میـین زلمـی و، تـل بـه یـې درنـه چانټـه او ډک ټوپـک پـه غـاړه و ، مخکـې مـو زمـا د ورور لعـل محمـد د شـهادت مختـصر واقعـه ذکـر کـړه پـه همغـه بمبـار کـې ورسره مدثـر عمـري هـم شـهید شـو.

اوس غـواړم د محمـدي پـه کـور د چاپې پرمهـال د بمبـار لـږ تفصیـلي کیسـه درسره شریکـه کـړم ځکـه اوس یـې موقعـه راغلـه ، لعـل محمـد محمـدي په شـمول دوی ټـول پنځـه کسـان و ، یـو محمـدي و یـوه یـې میرمـن وه ، یـو یـې د عثـمان پـه نامـه زوی و او یـو زمـا اوخـی غـلام لالا و ،

کیسـه داسـې وه چـې د وزیـرو تنګـي پـه خولـه کـې پـه پراتـه کلي توحیـد ابـاد د امریکایـي یرغلګـرو پـه مـشرۍ د نړیوالـو کفـارو او نـورو طواغیتـو حملـې او جګـړې ورځ تـر بلـې زیاتیـدې ،پـه اخـري سـتره چاپـه کـې جنګ سـخت شـو زمـوږ سـاحه د کلي بـر سر کـې وه ،دغـه جنګـي ملګـري مـاسره وه لانـدې ملګـري اکـثر بـی اسـبابه او بـی تجربـې وو، ددغـه قسـم جنګ سره بلـد نـه وو، زمـوږ هلکانوته مـوږ دلتـه خـط برابـر کـړ، ماینونـه مـو امـاده کـړي وو، جنګ تـه ملګـرى ناسـت وو، چـه دشـمن ډیـر زور وکـړ، کوشـش یـې کاوه چـې ټـول توحیـدا ابـاد ونیـسي، خـو مـوږ بـه مخابـره کـی غـږ وربانـدی وکـړ، چـه ملګـري لـه لـرې څخـه ډزې ونکـړئ ، چـه رانیـږدی شـول، نـو اول بـه ماینونـه انفجـار کـړئ او بیـا بـه جنګ شروع کـړئ، زه ورسره خپلـه همدلتـه موجـود وم، هـر ملګـري ځانتـه یـو جنګـي خنـدق وهلـی و او ګوتـه پـه ماشـه پـه کـې ناسـت و ، پـه همـدې حـال کـې یـو ځـل دشـمن د توحیدابـاد سرتـه را اوچـت شـو ، دغـه سـاحه کـی یـو مایـن بـلال عمـري دوی ایښـی و ،نـو مـوږ ورتـه وویـل چـه تاسـې یـې پریـږدئ، همغـه و، چـې کلـه راوچت شـول نـو انفجـار وربانـدې وشـو سـم تلفـات ورتـه واوښـتل ،بیـا یـې نـو سـم بمبـارد وکـړ، د بمبـار نـه بعـد کماندویـان راوچـت کـړل، چـه داخـل نـه ورتـه محمـدي نارنجـک شروع کـړ، دغـه مرمـۍ د دوی منـځ کـې اللـه برابرولـې، خـو د محمـدي نـوم مخابـرو کـی داسـې اخسـتل کیـده چـې دشـمن هـم ورتـه متوجـې شـو خـو اللـه وریـځ راوسـتله محمـدي رابطـه وکـړه، چـې وروره مـوږ درې نفـر تعـرض کـوو، تاسـې زمـوږ شـاته دفـاع وکـړئ، مـوږ هـم ورسره ومنلـه یـو محمـدي بـل مدثـر او بـل زمـا اوخـی غـلام لالا و.

د محمـدي مجاهـده میرمن هم د دښـمن دې طـرف مـخ تـه مورچـه کـې ناسـته وه ، پراخـه ګرنیټونـه ورسره پراتـه و ، او پـه دې نیـت ناسـته وه کـې دښـمن لـه دې لـوري راشي نـو پـه ګرنیټونـو بـه یـې مخـه ونیـسي ، دوی ټـول پنځـه کسـه و ، نـور مهاجریـن هـم ورسره و خـو هغـوی سـمڅو کـې و ،دوی ټـول بهـر دفـاع تـه ناسـت و ، لـږ وروسـته اسـمان راشـین شـو ، جیـټ او څرخکـې راغلـې ، محمـدي مـو لـه تعرضـه منعـه کـړ ، شـیبه وروسـته جیـټ راتاوه شـوه او څـو درانـه بمونـه یـې د محمـدي پـه کـور وغوځـول ، چـې پـه کـې د محمـدي پـه شـمول غـلام لالا ، مدثـر د محمـدي میرمـن او د محمـدي وړوکـی زوی عثـمان چـې مـور سره مورچـه کـې ناسـت و شـهیدان شـول .



زمـوږ د کورنـۍ دوه نـور غـړي سـعید اللـه عمـري او زمـری عمـري و، دا دواړه ورونـه و، دواړه ډیـر مخلـص او تکـړه مجاهدیـن و چـې زمـری عمـري پـه انـس هـم مشـهور و، پـه ګورګـورۍ کـې ډرون وویشـت شـهید شـو .



سعیدالله عمري چې د زمري عمري مشر ورور و، ماسره توري بوري تشکیل ته ولاړ، زموږ د کورنۍ یو بل غړي سنګر عمري هم ورسره و دوی به ټولې رابطې کنټرولولې، دا ځلور کسان و یوخالد استاد یو صهیب استاد او دوه دغه هلکان چه دا ماسره اوسیدل، توره بوره کې یو جنګ وشو ددې لپاره مو نوم لیکنه کوله چه لیست راغی اول په کې ددغه هلکانو نومونه وو، ورته غوسه شوم چې تاسې ته دغه رابطه کمزوری کار ښکاري، ولې داسې کوئ وایې سمه ده نه ځو خوبیا هم یو ملګری لاړ، خو وعده یې رانه واخستله چه دوهم ځل به موږ د انغماسي ترتیب کوو، ماهم ورسره منلې وه، خو د تقدیر فیصله بدله شوه، زه خط ته لاړم دوی په یو جګ سر پدی خاطر چې هر هر طرف سره رابطه وشي پاتې شو، چې زه واپس خط نه را روان وم ناوخته شو، دې ملګرو ته ونه رسیدم شپه مو لاره کې راغله اودشپې لس بجې پروت وم، چه بې باون راغله او بره ملګرو باندې یې یو ګذار وکړ،

خو زه پوه شوم چه ملګري یې وویشتل، رابطې مو پسې کولې جواب نه راتلو، او ورتلل هم نه کیدل، بلاخره سهارشو چې ملګري مو وروليږل ملګرو رابطه وکړه چې ځلور واړه شهیدان دي، خو دغه یو ګذار نه ؤ بلکې اتلس ګذاره یې کړي وه چه نهه کوره وه هر یو یې دوه ګذاره ویشتلای وه، دغه ځلور کسان شهیدان شو او همملته سنګر کې ملګرو دفن کړل په دوی کې

یو سعیدالله د زمري مشر ورور او زموږ یو بل د کورنۍ غړي سنګر عمري هم شهیدان شول.

د هجرت او قتال سلسله روانه وه او د عمري بابا کورنۍ هم په پوره اخلاص او میړانه د الله د نظام د قیام په هدف په روانه مبارزه کې له هیڅ وروسته کیدل نه خوښول، ددې کورنۍ د ځوانانو وینې یو بل پسې بهیدې او بهیږي او لګیا دي د اسلامي خلافت د قیام نیالګي پرې خړوبیږي، ددې کورنۍ ځوانانو د ژوند په ډګرونو کې یو بل سره سیالي ونه کړه بلکې د مرګ په سترګو کې یې سترګي خښې کړې او د الله د کلیمې د لوړاوي په خاطر یې د قتال په ډګر کې یو بل سره سیالي روانې دي، یو بل پر بل پسې چې رالویږي نو د تودو سنګرونو غیږې ته ستنیږي او د الله عزوجل له دینه قربانیږي.

ددې کورنۍ د ګلالیو زلمو د شهادتونو سلسله ښه تیزه روانه وه.

د عمري بابا مشر زوی په دې ځای خپله کیسه نه بس کوي بلکې مخکې ځي او وایي:

زموږ د کورنۍ د دوه نورو غړو نعمت الله عمري او فریدالله عمري د شهادتونو نوبت راورسید دا دواړه هم ورونه و، نعمت الله عمري چې په مجاهدینو کې په حقمل مشهور و د نا اشنا صفاتو درلودونکې ځوان و د وزیرو تنګي په جنګونو کې یو تر ټولو سخت سنګر د همده په نوم مشهور و، د حقمل سنګر هغه سنګر و چې د یو نه ماتیدونکي او کلک حصار حیثیت یې درلود،

په دې سنګر کې به حقمل عمري همیشه پروت و، حقمل عمري استشهادي کتیبه کې نوم لیکنه هم کړې وه خو هغه مهال جنګونه ډیر سخت شول او دې د مشرانو په امر په همدې جنګونو او سنګرونو کې پاتې شو، دا سنګر په هر لحاظ ډیر سخت سنګر و، نورو مجاهدینو به درې ځلور ورځې وروسته تبدیلي کوله خو حقمل عمري په دې سنګر کې پاخه اړولي و او نه ترې کوزیده، دا په ګڼ ځنګل تر ټولو لوړ سنګر حقمل د مرګ تر ورستیو شیبو وساته دې غرني زمري په ژوند دا سنګر دښمن ته پرینښود، هم یې د مشرانو د رابط په حیث خپل مسؤلیت اداء کاوه او هم یې سنګر ساته، اخر هم په دې سنګر امریکایي درنده ګانو ډیر سخت بمبار وکړ، داسې بمبار چې ټول غر اور واخیست، همغه و چې څو ورځې وروسته مجاهدینو په همدې سنګر کې د نعمت الله عمري سوزیدلی جسد خښ کړ.

د شهیدانو د کاروان کتار ورځ تربلې اوږدیده او زموږ یو بل خورین چې د غلام لالا زوی و محمد نومیده دا هم ډیر تېز او جنګي ماشوم و، د مرکخیلو په جګړو کې یې خاص نوم درلود، هغه مهال موږ د تنکیو زلمو څخه جوړه د اشبالو یوه طوفاني کتیبه درلوده، په دې کتیبه کې ټول تنکي زلمي راټول و، دوی داسې خلک و چې له مرګې څخه یې سترګه نه سوځیده، د برید پرمهال به یې سر نه ټیټاوه، د دښمن په کاروانونو او پوستو به داسې ورختل لکه توفاني سیلۍ. دوی تر ډیره جنګي اصول نه مراعتول، بس چې د دښمن موقعیت به ورته مالوم شول نو چې په هر قیمت به کیدل ځان به یې همغه نقطې ته رساوه، دې تنکو زلمو په دښمن کې زړه چولی و، چې دښمن به د اشبالو کتیبې د راتللو واوریدل نو زړونه به یې لړزیدل، محمد خورین هم د اشبالو د کتیبې یو مجاهد و، ډیر سخت جنګونه یې وکړل، په ټولو جنګونو کې الله وساته چې وروسته بیا په توحید اباد کې پرون وویشت او شهید شو.

زموږ د کورنۍ یو بل غړي وقاص عمري و، وقاص هم ډیر مخلص او زیرک مجاهد و، په همغه لومړیو کې له زړورو او سرښیندونکو مجاهدینو د کتیبه الموت په نوم یوه کتیبه جوړه شوه، دې کتیبه کې ټول هغه زلمي راټول شول، چې له ژونده یې مرګ خوښ ګڼه، دوی ته ډیره سخته روزنه شروع وه چې کتیبه بمبار شوه او ددې کتیبې ګڼ مجاهدین شهیدان شول چې وقاص هم د شهیدانو ددې قافلې ملګری شو.

زموږ د کورنۍ دوه نور غړي یو ابراهیم عمري او بل احمد عمري و ، دا دواړه هم د خراسان د لومړیو جنګیدونکو زمرو څخه و ، دوی به هم په وخت هر سنګر ته ځان رساوه ، له جګړې پرته یې بل څه نه پیژندل او نه پرې وخت تیریده ،بس تل به یې ببر سرونه د جنګې اسونو مهار نیولی و چې په کومه خوا به ورته امر وشو نو په همغه خوا به الوتل ، د طاعت والا زلمي و ، دا ګمنامه او سرشیندوکي زمري هم له ډیرو خایسته صفاتو درلودونکي و ، د خراسان د لومړیو جنګونو په مرحله کې هم د امارتي مشرکینو سره د مجاهدینو ډیر سخت جنګونه وشول ، یو وخت د هسکې مېنې ولسوالۍ په ګورګورۍ منطقه طالب مشرکینو ډیر سخت او مسلسل بریدونه کول او الله به هر ځل ناکامول ، همغه وخت امارتي مشرکین په مرغه نوم سیمه کې و او له همغه سیمې یې ګورګورۍ ناامنه کوله ، بیا همدغه دوه زړور زلمي سره د دوه ګروپه مجاهدینو په مرغه کې په طالب مشرکینو د برید لپاره واستول شول ، دواړه سرګروپان هم و ، چې په لاره کې یاد مجاهدین بمبار شول او دغه دواړه زلمي مستقیماً په نښه شوي و ، چې د جسدونو ټوټې یې هم ونه موندل شوې.

د شهادتونو سلسله څه ګرمه روانه وه او دې تنکو زلمو توده وینه

بهیده ، عمري بابا دې ټولو زامنو، لمسو ، خورینو ، وریرونو د کورنۍ د نورو غړو په شهادتونو حوصلې نه پریوتې بلکې د هر شهید له شهادته به چې خبریده نو ورپسې به یې نور تشویقول چې د هغې تشه ډکه کړي ، په همدې سلسله کې زموږ د کورنۍ دوه نور غړي یو نادر عمري او بل خالد عمري و دا دواړه هم تکړه او مخلص پخواني مجاهدین و ، دوی هم د جهاد په لاره کې ډیر زخمتونه او کړاوونه وګالل ، دا غریب او فقراء مجاهدین د ډیر ثبات او استقامت والا خلک و ، دوی هم په شهادت ورسیدل.

عسکر عمري او شالالا عمري مې هم د تره زامن و ، دوی هم له نورو مجاهدینو کم نه و ، دا هم پخواني او زړور مجاهدین و، عسکر عمري به ماسره ګرځیده او زیات خدمت یې کاوه ، تل به مې هر سخت کار ته وړاندې کاوه خو ناراستي یې نه پیژنده ، دې هم ګورګورۍ کې خلافت سنګر په نوم یو سنګر ته په لاره و چې ډرون وویشت او شهید شو .

بل تره زوی مې شالالا عمري و ، دې هم د ډیرو جګړو ، او معرکو غازي و ، پخوانی زړور او ډیر متواضع مخلص مجاهد و ،

دشالالا عمري هم د جنګونو ډیرې عجیبې کیسې دي ، په چپرهار له څو لوریو دښمن هجوم راوړ مجاهدین کم

و، شالالا ځان د دښمن مخ ته سپر کړ مهاجرینو ته یې د وتلو چانس ورکاوه

د وتلو په وخت کې د نرۍ اوبو په ساحه کې بیا په جنګ واوختل ، مهاجرین یې وویستل او زموږ د کورنۍ اته نفر هلکان دلته جنګ کې ښکیل شول، چې هیڅ قسم کومک ورته رسیدای نه شو ، جنګ ډیر سخت شو ،ملګرو سره مهمات هم په خلاصید شو ، دښمن په ډیر غټ تعداد د دغه ملګرو د ژوندي نیولو په هدف ترینه راتاو شو، خو دالله مدد و، دغه ساحه کې شالالا دښمن ته کمین کې کیناست ملګري یې له ځانه لرې بوتلل ، چې دښمن څه ډاډه راشي ، همغه و چې دښمن پخپل کثرت غرور وکړ او راغی، چې الله د شالالا کمین ته برابر کړل ، دلته دښمن بیخي زیات ولیدل، بلاخره چې شالالا هم دلته ولګید او زخمي شو، بیا نورو ملګرو دده دراویستلو لپاره جنګ شروع کړ، خو راویستل یې بیخي

ناممکن شول ، شالالا همدلته شهید شو ،بیا دمنطقی خلکو دفن کړی و، چه امارتي مشرکین دده له شهادته خبرشول نو له قبر څخه یې وویست دده جسد یې په پلاستیک کې تاو کړ او په یوه عامه لاره کې واچوه یوه هفته همداسې پروت و ، وروسته بیا د کلي خلکو دفن کړی و

دې ټولو شهیدانو روزنکې عمري بابا د ژوند تر وروستیو شیبو د اسلامي خلافت په تمکین کې و ، دغه وخت ډیر ضعیفه شوی و ، په ضعیفه او کمزوري ځان یې د تمکین د ژوند سختیو ، ولږو ، تندو ، یخنۍ واورو ، د سختو پیچومو مزلونو ، چاپو او بمبارونو او نورو ډول ، ډول کړاوونو سره د الله عزوجل په مرسته مبارزه وکړه ، ارادې او همت یې کمزوری نه شو ، د خپلو بې شمیره زلمو شهادتونو یې پښې ونه ریږدولې بلکې همغسې د خپلو بچو تر شا لکه د مظبوط غره په څېر ولاړ و ، د خپلې کورنۍ د بې شمیره زلمو په شهادتونو به یې ویاړ کاوه ، دا د شهیدانو پلار افتاب الدین عمري بابا هم د وزیرو تنګې په توحید اباد کې د هجرت او جهاد په دیار کې د دارالاسلام په غیږ کې د سپیڅلي شریعت په سیوري کې وفات شو ، هغه مهال ډیره سختي وه ، که به ګڼ مجاهدین شهیدان شول نو د بمبارونو له امله به یې جنازه کې چا شرکت نه شو کولای خو کله چې عمري بابا وفات شول نو وریځې وې او ډیر ګڼ مجاهدین یې په جنازه کې راټول شول ، او دا باعزمه مخلص سپین ږیری مجاهد د دارالاسلام په غیږ کې دفن شو .

لنډه کیسه
ټپي بندي

د هجرت مو زیات وخت نه کېده، تازه مو د دارالاسلام د ژوندله رنګونو او خوندونو مو خوند اخیست، هر څه کې یو عجیب کیفیت و، دلته د مجاهدینو ترمنځ مینه او صمیمیت بیخي بې مثاله و او بیا نو دې ډېره مزه کوله چې مشر او کشر هر مجاهد ناسته ولاړه، خوراک راښه درشه د ژوند نور معاملات او تعاملات ټول په سنت طریقه و، ټول مجاهدین په مختلفو برخو کې د اسلامي نظام په خدمت بوخت و. ژوند همداسې په خوند روان و، یوه ورځ غږ شو چې د مامند په شېل سیمه کې په طالبانو برید دی، نو لږ وخت لا نه و تېر چې ډلې، ډلې مجاهدین غوړې څنې او توري سترګې له کلي او کوره راوتل، او ډېره جالبه لا دا وه چې هغه مجاهدین چې اسلحه یې نه درلوده، هغوی کور په کور هغه مجاهدینو پسې ګرځېدل او معلومات یې کاوه، چې که کوم مجاهد د عذر په بناء جنګ ته نه تللو، یا هم د امیر لخوا به په بل خدمت بوخت و، نو هغه ته به یې په ډېره مینه ویل چې: وروره ته خو هسې هم نشې تللی نو دا اسلحه دې ماته راکړه چې زه جنګ ته لاړ شم. نآشنا ماحول و، ډېر ځایه مې دوه، دوه مجاهدین تر سترګو شو چې یو بل ته یې زارۍ کولې چې دا ځل خیر ته مه ځه، ټوپک دې ماته راکړه زه ځم، بیخي د دوی په لیدو به دې د هغې صحنې تصور کاوه لکه د تبوک په غزا کې چې صحابه راتلل او نبي علیه السلام څخه یې به یې اسلحه او سورلۍ غوښتله، خو نبي علیه السلام به جواب کړل چې ما سره دومره امکانات نشته، نو قرآن کریم کې د هغوی بیان راغلې چې دغه صحابه به ډکې سترګې بېرته وګرځېدل او د خپلې ناتوانۍ له امله به سخت خفه و، چې ولې د الله د رسول علیه السلام او د صحابه و د جهادي کاروان څخه وروسته پاتې شو، بیخي نو همغه تاریخ تکراریده او د همغه غزواتو تصور را ژوندی کیده، دا په اسلحو سینګار متېه ور زلمي داسې ښکاریدل ،لکه وږي زمري، په لیدو یې د هر چا فکر ته دا راتلل چې دا زمري به خپل ګیدړ ذاته دښمن ان شاء الله خامخا ماتوي.

ددې پرکیفه صحنو د لیدو په هدف د یو څو ملګرو څنګ ته ولاړ وم، اسلحې ښکته پورته کیدې، چا د هوان خپې په شا کړې وې، چا یې میل روان کړی و، چا دهشکه، هشتادو او راکټ لانچر انتقالوه، او د چا تر څنګ به پیکا پرته وه ،د چا لاس کې ایم شانزده او د چا لاس کې به سنایپر و، هغه د چا خبره بې اختره، اختر و، له ماسپخینه ټول مجاهدین په لومړۍ لیکه کې راپوره شول، ټول ماسختن ته په انتظار و ، هر یو یې له سر څخه سره ټوټه ترلې وه او له اندازې څخه یې مالومیدل چې تر ماسخوتنه انتظار ورته ډېر سخت دی، د ډېر تلوار له امله په یو ځای نه کیناستل، لکه مست اسونه داسې په ټوپونو و، کله به د یوې ډلې څنګ ته لاړل، له هغې به راستانه شول بلې ډلې ته به ورغلل، مشرانو مجاهدینو ترو ته ډېې وهلې وې او د جنګ په پلان او نقشه غږیدل، اخر هم د انتظار ترخې شېبې تمامې شوې او ماسختن شو

شیخ عبد الحسیب تقبله الله چې هغه وخت د حافظ سعید خان نائب و، د برېد څخه مخکې یې ډېر ایماني بیان وکړ، مجاهدینو ته یې وویل له خپلو ګناهونو توبه وباسئ، کیدایشي د دې حاضرو مجاهدینو له ډلې یې د ځېنو ورونو نیتېه پوره وي، بیرته راونه ګرځي او د رب لقاء ته ورشي!!

شیخ صېب داسې یو انقلابي بیان وکړ چې هم یې خپل مجاهدین زمري وژړول او هم یې داسې مورال او حوصلې ورکړې چې بیخي نو حد پرې تمام و، په اخره کې الله عزوجل ته په ډېره عاجزۍ د تودو اوښکو په بدرګه د دعا لاسونه لپه شول، نظامي او عسکري امیرانو هم مجاهدینو ته د جنګ په اړه لازمې سپارښتنې وکړې، د تعارض لپاره د استشهادیانو او انغماسیانو کتیبه، ددفاعي مجاهدینو کتیبه، د زخمیانو او شهداوود انتقال کتیبه، د اسلحې او مهماتو رسولو کتیبه، د ثقیلې اسلحې کتیبه .... لنډه دا چې هرې برخې لپاره د خپل فن او مسلک اړوند مجاهدین ورونه غوره شول، او آخر هم ددښمن په لور حرکت شروع شو، دا نو هغه شېبې دي چې په لفظونو کې د خوندونو تصویرول محال شي هغه چې د انسان زړه د نآشنا ایماني سرور او لذت څخه ډک وي، مجاهدین خو ټول خوشحاله ول خو د انغماسیانو د کتیبې نائب ابو حمزه (عبد الرحمن) مولانا چې د اچین ولسوالۍ د دعوت اداري مسؤل و او د سرخاب د لوي جمات خطیب هم و، هغه څه بیل رنګ خوشحاله و او بیخي یې تادي وه، کله چې د دښمن پوستو ته بیخي ورنږدې شو نو ابو حمزه مولانا ویل چې: دلته اوس بیا دعا کوو ځکه دا بیخي د معرکې وخت دی، یو بل ملګري څخه یې د اجتماعي دعا کولو غوښتنه وکړه، خو هغه ورته وویل چې مولوي صېب تاسې یې خپله وکړئ. نو مولوي صېب لګیا شو او ددښمن په ساحه کې

يې د رب العالمين څخه د نصرت دعا وغوښته او په چيغو يې وژړل، او بيا د لوی الله په مرسته تر ټولو مخکې ددښمن په پوستو وروختو، اوږد جنګ وشو چې نتيجه کې الله عزوجل مجاهدينو ته بريا ورپه برخه کړه، دښمن الله ذليله کړ، څه يې مردار شول او څه يې په تيښته بريالي شول خو متآسفانه چې په دې معرکه کې ابو حمزه مولانا هم په سر باندې د کلاشن مرمۍ وخوړه او زخمي شو،ملګري چې يوخوا په فتحه خوشحاله ول او الله عزوجل ته په سجده پراته و، خو بلې خواته د ابو حمزه د زخمي کېدو غم هم خورا دروند و، سهار مجاهدين فاتحين راستانه شول او مولانا ابو حمزه يې هم دفاعي سنګر ته منتقل کړ، شيخ عبد الحسيب تقبله الله چې خپله په صحنه کې موجود و،هغه يې هم په ډيره په مينه عيادت وکړ، او بيا يې د شفاخانې په لور واستاوه.

د څه موده تداوۍ څخه وروسته د ابو حمزه ورور صحي حالت يو څه ښه شو، خو د لا زياتې تداوۍ او علاج اړتيا يې درلوده ، ځکه نو مشرانو لخوا لاندې راوليږل شو، دلته يې څه موده تيره کړه، يو څه درملنه يې هم وشوه خو کوشش يې کاوه، چې زر تر زره بيرته تمکين ته وخيژي، هماغه وه چې ملګرو دده په غوښتنه ترتيب راجوړ کړ او دا يې رخصت کړ، تمکين ته بيرته د ختلوپه حال کې دنرۍ اوبو په ساحه کې د طالب مليشو له لوري اسير شو، مجاهدين پرې زيات خفه شول، مودې تيرې شوې خو د هر نوعه کوشش باوجود هم د ابو حمزه درک نه و، تر دې چې يو وخت راباندې زيرى وشو چې ابو حمزه مولانا خوشې شوی، او يوه ورځ چې وزيرو تنګي په لور روان و، خوشبختانه د تورې بورې ميلمستون کې مو په ابو حمزه مولانا سترګې ولګېدې، ددغه خوږ ملګري ملاقات ته د دوه کالو راهيسې لکه جل وهلي تږی چې د يخو اوبو په انتظار وي داسې ليونۍ تنده مې احساسوله ، نو په بيا ځلي ليدو مو د خوشحالۍ اندازه نه وه، يو بل سره مو تود روغبړ وکړ او دغه ملاقات ځان سره پخواني يادونه لکه د ويډيو په څېر چالان کړل، هغه ملګري، هغه مجلس، هغه حافظ سعيد خان، شيخ عبد الحسيب، ابو سعيد مولوي صيب، شيخ منصور، شيخ سلمان خراساني، شيخ عباس، مدثر مولانا، او زمونږ ډيرى کاري ملګري مو سترګو ته شول، چې نن ټولو د شهادت جام نوش کړی و، په پنډو خاورو کې يې خپل نوراني مخونه پټ کړي و او مونږ سره يې يواځې ښکلي او خواږه يادونه مله و !! هغه د تعارض شپه مو رايادة شوه، د ابو حمزه منډې رامنډې، مورچو باندې ختل کوزيدل، د ملګرو دعاګانې او ژړاګانې، د شيخ عبد الحسيب شجاعت او د رهبرۍ خواږه يادونو مو ذهن ونيوه، بيا مو د ابو حمزه د زخم او اسارت يادونه را په زړه شول خو بيرته مو د سوچونو دغه سلسلې سره الله په آماني وکړه او مولانا ابو حمزه سره مې د زړه خواله شروع کړه ،زه يې په زخمي حال کې د زنداني کيدو ، د طالب مشرکينو په زندان کې د وخت تيريدو او بيرته راخوشې کيدو کيسو اوريدو ته سخت ليواله وم ، نور مې نو ځنډ ونه کړ ورته مې کړه : خه اشنا ټوله کيسه راته ټکي په ټکي وکړه ، ابوحمزه ډير متقي ځوان و، په دې خاطر چې په دې کيسه بيانولو يې د قربانيو يادونه ونه شي نو د کيسې کولو څخه يې کلک انکار کاوه خو زموږ ډير ټينګار دې ته اړ کړ چې خپله کيسه راته وکړي ، ابو حمزه راته کړه : وروره خه چې نه مې پريږدې نو غوږ شه : له تداوي څخه وروسته د خپلې ميرمنې او وړوکي زوۍ په شمول د خلافت تمکين په لور بيرته روان وم، چې کله ساحه نږدې شوه، ملګرو ته مې زنګ وواهه چې بس نږدې يم، د جمهوريت د مرتدينو څخه الله عزوجل په خير راتير کړو، خو زه خبر نه وم چې دلته د امارت مرتدينو د جمهوريت مرتدينو سره قرارداد کړی او د عوامو موټرونه تالاشي کوي، د هغوۍ څخه مالونه اخلي، په دې کې زمونږ موټر هم ددغه غلو خواته راورسېد، له ما يې وپوښتل: څوک يې او چيرته ځې؟

ما ورته يو جواب ورکړ ،خو د هغوۍ تسلي ونه شوه ځکه زما صحي حالت جوړ نه و او لاس کې راسره يو پنډ دوايي هم وه ،نو راته يې کړه چې: داعشي (!) يې؟ نور يې نو زه جواب ته پرينښودم ، يو دم يې په سامان راحمله کړه ، سامان يې راڅخه واخسته، زما له وړوکي مبايل څخه همغه نمبر ته زنګ وواهه څو شيبې مخکې چې پرې زه ملګري سره وغږيدم .

طالب ورته کړه چې : دا کس زمونږ د خلافت مجاهد دی او که نه بل څوک دی ؟

د تقدير ليک و، هغه ملګري فکر وکړ چې ګوندې خپلو ملګرو ورته زما په نمبر زنګ وهلی ، په داډ يې جواب ورکړ : هو دا د خلافت مجاهد دی او زخمي و، اوس له تداوي راستون شوی، اکرام يې وکړئ!!!

دا خبرې چې دوۍ واوريدې نو راته يې وويل چې: تا څنګه دروغ ويل ؟ په هماغه ځای کې يې راباندې شروع وکړه، د کنداغونو، لتو او سوکانو باران يې راباندې جوړ کړ، زما حالت خو له مخکې څخه بيخي خراب و خو نور يې هم وځپلم ، سمدستي يې راته لاسونه وتړل، زما ميرمن يې هم له موټر راښکته کړه، چې په غيږ کې ورسره د څو مياشتو کوچنۍ ګلالۍ زوۍ هم و، زه يې زيات ووهلم خو د ځان د درد او خفګان احساس مې هغه وخت بيخي زيات شو کله چې دې بې ضميره ظالمانو زما په ميرمن هم ګذارونه شروع کړل، نو دغه صحنه مې له برداشته بيخي

بهر شوه ،خو بې وسه وم، لاسونه مې تړلي وو اوخپل رب ته له شکایت پرته بله چاره نه وه.

مونږ یې دلته ودرولو، او د سرک په سر د شکنجې سره ،سره د ښکنځلو او رټلو نه ختمیدونکې سلسله شروع وه، خو د رب العالمین شان و چې نرۍ اوبو سیمه کې میشت د خلافت مجاهدین خبر شوي وو، چې امارتي شغالان بیا په پټه پاخه سرک ته راوتلي دي او عوام مسلمانان زوروي، نو د بټي کوټ د زمري ډاکټر بلال په مشرۍ د خلافت یوې کتیبې په همدغه طالبانو برید وکړ، که څه هم دغه مجاهدین زمونږ له اسارته خبر نه و، خو دې طالبانو دا فکر وکړ چې دا برید یې گوندې زما د خلاصون په پار وکړ، نو تر ټولو لمړی یې زه او زما میرمنه په یوې غواگۍ موټرکې وتښتولو او چپرهار ته یې منتقل کړو، و بیا د طالب ملیشو په تیښته د بریالي کېدو سره جنگ ختم شو او زمونږ انتقالونکي ډرایور یې هم ونیوه ، له دې ځایه مو د اسارت مزل پیل شو، لمړۍ مرحله د تعذیبونو وه، د ژمي ورځې شپې وې او مریض هم وم، د میرمنې اسارت غم، د وړوکي بچي فراق، د تمکین خواږو یادونو به همېش دردولم، خو بلې خوا به مو چې سوچ وکړ، د الله عزوجل په لار کې اسارت له امله به مې ځان بختور گاڼه، ځکه چې دا د یوسف او محمد علیهما الصلاة والسلام سنت و، نو د شپې په تیارو کې به مې ددې عمل د قبولیت په پار اوښکې تویولې.

یو څو بندیان راسره نور هم و، چې په مختلفو جرمونو متهم و، خو زما پیره تر ټولو سخته وه ،ځکه چې زه د خلافت مجاهد وم.

کله چې په زندان کې مو دوه میاشتې تېرې کړې، نو یوه شپه چې له خوبه رابیدار شوم، گورم چې نیمه شپه ده، د سپینې سپوږمۍ رڼا د کړکۍ له لارې کوټې ته دننه راغلې وه، کوټه ټوله رڼا وه، لاندې خوږ هم بیخي روښانه ښکاریده، او زمونږ په ساتلو مامور طالبان ټول د غفلت په خوب ویده دي. زړه کې مې راغله چې نور د اسارت زولنې ماتې کړم او د دې غافله سپو څخه وتښتم، ځکه مخې ته مې هیڅ مانع نه و، خو چې کله مې خپله مهاجره عفت منده میرمن او گلالی بچی راپه زړه شو، نو فکر مې وکړ چې ددې ښکاره زولنو سربېره زه په نورو معنوي زولنو تړل شوی یم چې ماتول یې فعلاً زما په توان کې نشته!! بس د تیښتې له خیالونو راووتم ، سر مې په کمبل کې پټ کړ او د یو عالم سوچونو سره مل د غم په دریاب ورگډ شوم ، د یو چا په گنگوسي مې د فکرونو تنسته وشکیده، چې سر مې له کمبل څخه راوویست، گورم چې دا زمونږ انتقالونکی ډرایور دی، لاسونه یې خوشي کړي دي، او ماته یې وویل چې زه خو ځم، راځه چې ولاړ شو، خو ما ورته وویل : ته پخیر لاړ شه خو زما زنانه او ماشوم هم اسیران دي، زه هغوی نشم پریښودای!!

یدې سره هغه د کړکۍ څخه ښکته ټوپ کړ او په یو خوړ کې په منډو شو، ما ورته له کړکۍ کتل، دا نو هغه منډه وي چې د انسان قوت څو چنده زیات شي،د سپوږمۍ په رڼا کې مې کتل چې په څو دقیقو کې یو تور سیورې له گوډ څخه پناه شو، زړه مې مطمین شو چې خه شوه یو مسلمان خو د وحشیانو له اسارته ازاد شو. او بیرته کمبل په سر راکش کړه او په سوچونو ،سوچونو کې مې سترگې ورغلې وې!!

کله چې سهار دا غافله طالبان راپاڅیدل او ویې کتل چې ډرایور خو تښتیدلی دی، نو په ما یې راکیښودې، نه یې سر کاته او نه مخ ، بس د مسلسلو درنو گذارونو یو ناتار راباندې جوړ شو ، راته یې ویل چې : دا ډرایور تا خوشې کړی دی!!!

نو ما ورته وویل تاسې خو ما لږ خبرې ته پریږدئ، تاسې سوچ وکړئ چې ما هغه خلاصوه ،نو ولی ځان مې نه خلاصوه ؟ خو دغه ملیشو زما خبرې ته هیڅ غوږ نه نیوه، زه یې سم ووهلم، اخر هلته یو میشت کلیوال سپین ږیری راغی او ورته یې وویل چې: دده گناه نه ده، دا ملامته نه دی هغه به خپله تختیدلی وي او بس دا ستر انقلاب دی، څوک به تښتي، څوک به ځي ،څوک به راځي ،خو دې خوار ته نور څه مه وایاست،نور یې ونه وهئ ، له هغه وروسته یې زما د وهلو سلسله یو څه ودروله ،خو له دې وروسته یې زه د مهم او خطري بندي په نوم د طالبانو تر ټولو کرغیړن زندان ته منتقل کړم، چې دا همدغه توره بوږه وه چې نن په کې دا دی ما او تا د خوشالۍ او ازادۍ په فضا کې ناست یو او د طالب ملیشو تغر تړې ټول شوی او د اسلامي دولت مجاهدین پرې واکمن دي، ابوحمزه په خوږې موسکا خپله کیسه وغزوله : دلته تورې بوړې ته یې چې راوړم، ددې زندان د څارنې وظیفه خپله د طالبانو د سیمه اییز قومندان " رهبر " په غاړه وه، د زندان مو دریمه میاشت شروع وه، سخت ژمی و، د تورې بوړې یخني خو بیا تاسې ته معلومه ده چې له حده زیاته وه، زما سر هم زخمي و، په ژمي کې زخم هم تازه کیږي نو سخت په تکلیف وم، خو دغه درنده صفته ملیشو د رحم په نوم کوم څېز نه پیژانده، د نورو بندیانو په څېر به یې په ما هم په زوره په پټو کې کار کاوه، ټوله ورځ به پټو کې لگیا و، کار به مو کاوه، او شاوخوا به رانه طالب ملیشې تاو وې، ترڅو کوم بندي ونه تښتي. زما د مرض یې هیڅ تداوي نه کوله او آن تر دې چې د امریکایي اشغالگرو په څېر د روحي تعذیب په پار به یې د نوافلو د مونځ څخه هم منعه کولم.

کله چې دلته هم څو میاشتې تېرې شوې نو یوه ورځ په یوه

خفیه طریقه باندې مې یو وړوکی موبایل راپیدا کړ او یو خپلوان ته مو زنګ وواهه، د حال احوال پوښتنه مې ترې وکړه اوله خپله حاله مې خبر کړل، د خپلې میرمنې په هکله مې معلومات ورکړل، چې هغه هم راسره بندي ده ، خو هغه راته کړه چې: ستا میرمن دې راغلې راخوشې شوې ده .

هغه وخت هم طالب مرتدینو کوم ارزښت نه پیژانده خو زما میرمن یې په دې خاطر خوشې کړې وه چې ګوندې مجاهدین به ورسره ورته عمل وکړي

د ابو حمزه خبره رښتیا وه دوی له همغه وخته زموږ د مومنو خویندو په وهلو او اسیرولو صرفه نه ده کړې ، اوس خو نو کېسه بیخي بدله ده هم مو واړه ماشومان راوژني هم مو زنانه راشهیدانوي او هم مو ورسره په زندانونو کې بیشمیره خویندې بندیانې دي او د سخت تعذیب او شکنجو لاندې دي .

په هر صورت ابوحمزه غاړه تازه کړه ویل یې : د زنانه په خوشې کیدو مې د الله حمد او ثنا وویله ، د میرمنې خوشې کیدو راځخه ټول غمونه هیر کړل، د وخت په تیریدو، زمونږ همدا معمول و، چې سهار به یې پټو ته ویستلو ټوله ورځ به یې راباندې کار کاوه، او ماښام به خیرنې جامې بیرته راستنیدو، د نورو جامو درک نه و، لنډه دا چې په زندان کې مې نهه میاشتې پوره شوې، د روژې میاشت هم زندان کې راغله، ورځې او شپې تیریدې، دغه طالبانو کې داسې کس شتون نه درلود چې قرآن کریم ترجمه او تفسیر خلکو ته وکړي، نو ما به په اسارت کې هم خلکو ته مونځونه ورکول ، نو د کلي خلکو د طالبانو څخه وغوښتل چې دا بندي قاري صیب به مونږ ته د قرآن تفسیر شروع کړي، د رمضان مبارکه میاشت ده، طالبانو ورته وویل : چې دا به مو وهابیان کړي، هغوی ورته وویل چې نه مونږ خو ترې مختصر تفسیر د قرآن کریم زده کوو، او مونږ ته خو سم مسلمان ښکاري او نورو تفاصیلو ته ورسره نه ځو، آخر طالبان مجبوره شول چې د قوم خبره یې ومنله ، ما به هره ورځ له ماسپخین مونځ څخه مازیګر مونځ پورې د قرآن کریم ترجمه او تفسیر کاوه، چې جمات او له جماته بهر به زیات شمیر طالبانو پیره کوله.

یوه ورځ چې له سهار څخه مو تر ماسپخین پورې کار کړی و، او مونځ لپاره جمات ته ورننوتم، چې ګورم جمات کې پراته طالبان ټول ویده دي، بیرون ووتلم، بیرون هم څوک په یوه پوله ویده و او څوک په بله پوله ویده و، له ځانه خبر نه و، اسلحې یې هم داسې پرتې وې، کلیوال هم پدغه ورځ مونځ ته نه وو راغلي نو زړه کې مې راغلل چې همدا خایسته موقع راته الله عزوجل راکړه، باید زه ترې استفاده وکړم او وتښتم، لاندې خوړ ته راکوز شوم، خوړ ته چې کښوتم ګورم د کلي ماشومان دي او ددغه طالبانو واړه بچیان هم پکې دي، زه یې چې خوړ کې ولیدم نو راته یې کړه چې قاري صیب نه تښتې ؟ وتښته کنه!! وایي سخت تعجب مې وکړ، چې دا د رب کومک وګوره. ما ورته کړه چې څنګه وتښتم خو اوس ستاسې پلاران راپسې راځي او ما بیرته نیسي، هغوی راته وویل چې مونږ دلته ودریږو، لمړي قدم کې تا موټر ته خیژوو، او که بیا زمونږ پلاران دې خواته راغلل مونږ به ورته ووایو چې ابو حمزه دې خوا ندی راغلی، دلته خو مونږ ولاړ یو نو هغوی به نورې خواوې ولټوي او ته به تر هغې له ساحې وتلی یې. ما هم ورسره ومنله. لارې ته وربرابر شو او د یو موټر په انتظار و، دا هم داسې حالت وي چې د قرار او فرار حالت وي، که اسیر د تېښتې په جرم ونیول شي نو تعذیب یې بیخي زیاتیږي، خو که موقعه برابره شي نو همېش لپاره له نو الله ازادي ورپه برخه کوي ، نو زه اوس د مثبتې یا منفي نتیجې په ترمنځ په انتظار وم چې یو موټر د ښار په لور روان و، دې ماشومانو ودراوه او ورته یې وویل: چې دا د کوکنارو مزدور دی، اوس مریض دی، پیسې نه لري، کور ته تلل غواړي نو تر ښاره یې ته ورسوه الله به اجر درکړي، د ډرایېور زړه کې رحم راغی او راته یې وویل چې کښېنه، کله چې ما د موټر دروازه خلاصوله نو یو ماشوم ورته وویل چې دا بندي دی او تښتي!! دا خبره چې ډرایور واوریده، سخت وډار شو او موټر یې په منډو کړ ، دا چانس خو خطا شو، کله چې دا موټر لاړ، نو دې نورو ماشومانو هغه شیطان ماشوم سخت وراټه، ورته یې ویل : پریږده وبال لري ، مریض هم دی خیر دی چې قاري صبب لاړ شي او اختر خپل کور کې تیر کړي .

نو هغه ماشوم هم خجالت شو او لوظ یې وکړ چې بیا به داسې نه وایم. په لار کې ولاړ یو، یو خوا د مرګ تهدید دی او بل خوا د خلاصون امید دی، خو په رب مو توکل و او د هغه په ډاډ مو د خلاصون لپاره اسباب په کار اچول، لږ ځنډ وروسته بل موټر راغی، ماشومانو د تېر په څېر ودراوه او هغه خبره یې ورته تکرار کړه، دې ډرایور هم زړه کې رحم راغی او زه یې شاته سیټ کې کېښنولم، او موټر روان شو. د طالبانو د مرکزونو په منځ تېر شوی مات رامات کچه سرک باندې مزل روان و او هره لحظه مې دا ډار محسوساوه چې طالبان به راورسیږي او ما به بیرته ونیسي، خو د رب تقدیر جدا و، مسلسل مې اذکار کول، یو وخت مې چې کتلې نو د طالبانو د واک ساحې څخه مونږ وتلي وو، نو زیات حمدونه مې ادا کړل، لاره کې موټر ته نور خلک هم راوختل تر دې چې د موټر ټول سیټونه ډک شول، خو ماته چا څه نه ویل چې ولې په داسې بد حال یم ؟ په پاخه سرک د موټر مزل روان و، ټول غلي غلي ناست دي، چې پدې کې زما له خولې غیر اختیاري په لوړ غږ د الله أکبر چېغه ووتله! ټول خلک ماته متوجه شول او تپوسونه یې رانه شروع کړل، څوک یې ؟ چیرته ځې؟ انتحاري (استشهادي) خو به نه یې ؟ ما ورته وویل چې نه، زه مریض یم، تکلیف لرم، په خپل واک کې نه یم. خو خلکو خبره نه منله، زما ظاهري حالت هغوی سره زیاتې پوښتنې او اندیښنې راولاړې کړې، ځکه زما کالي سخت خیرن و، سر مې هم ببر و ، له ډیره غمه مې ږیره هم څه خوړلې او څه

دوړيدلې وه او سر مې هم د تکليف له امله بيخې يو اړخ ته کوږ شوی ، او عجيبه لا دا وه چې مخکې سيټ کې ناست نفر راته خپل کارت هم راښکاره کړ، چې د سابقه افغان حکومت د امنيت اداري مرتد کارمند و. او له ما يې په موټرکې تحقيقات پيل کړل، ما ورته وويل چې قاري يم خو مريض يم. قرآن کريم کې راته پوښتنې وکړې چې سورت ياسين وايه، فلانی سورت وايه ؟ ما ورته تلاوت وکړو، خو هغه خبيث ويل چې سخت مشکوک کس يې. کله چې جلال آباد ته ورسېدو، زه يې غاړې ته کړم او بيا يې د پوښتنو لړۍ پيل کړه، ما ورته جوابونه ورکړل او خپله مريضي مې ورته بيان کړه آخر يې په زړه کې رحم راغی او راته يې وويل: ځه سمه ده خپل کور ته ولاړ شه، خو تا سره پيسې نشته، زه به درته يو موټر ودروم چې کابل ته دې يوسي. يو لوکس موټر ته يې وويل چې دا يو مريض دی، پيسې ورسره نشته، تر کابله يې ورسوه. هغه چې زما حالت وليد نو ويې ويل چې ده باندې خپل موټر نه ککړوم، دې کاليو ته خو يې وګوره!

په دغه جواب سره د امنيت نفر بيا ماته وويل چې مشکوک نفر يې، صبر زه يو زنګ ووهم، چرته زنګ يې ووهه او چا سره يې خبرې وکړې چې داسې يو مشکوک کس مې نيولی دی، هغه ورته کړه چې زه درغلم، رينجر کې يې راوړو. څو دقيقې وروسته رينجر مې مخې ته ولاړ و او زما لاسونه دغه راغليو پوليسو راوتړل او رينجر ته يې ګزار کړم. د يو زندان څخه خوشې شوم خو په بل واوړېدم! لږ ځنډ وروسته د پوليسو يو مرکز ته رينجر وردننه شو او زه يې کوز کړم، دا نو د پوليسو د مرتد قومندان شخصي زندان و،قومندان راباندې د وهلو شروع وکړه چې څوک يې، سم حال وايه ؟

ما چې ورزش هم کړی و خو دغه وخت د زخم حالت و، نو ځکه مې هيڅ نشو کولای خو خپل جسم مې ورته جوخت کړ، پدې سره قومندان سخت په قار شو او په کنداغ يې راباندې شروع وکړه. خو د الله په فضل ما ورته هيڅ کوم راز ونه وايه، دا مې ورته ويل چې کوکنارو مزدور وم، دوی د هغه امنيت نفر څخه وپوښتل چې دا له کومې ساحې راغلی دی؟

هغه خو زه ليدلی وم چې دا د توري بوري څخه راغلی دی، نو هغه قومندان يو چاته زنګ وواهه، چې خبرې مې تر غوږ شوې دا هماغه د خوګيانو طالب قومندان رهبر و، چې دې پوليس قومندان تري پوښتنه وکړه، چې ستاسې سيمې څخه داسې يو مشکوک نفر راغلی دی، آيا دا رښتيا هم د کوکنارو مزدور دی ؟

هغه چې دا خبره واوريده، ورته يې کړه چې دغه خو زمونږ بندی دی، له مونږ درتښتيدلی دی، او ورته يې کړه چې دغه بندي به بيرته مونږ ته راکړې او زه به درته په بدل کې دوه ټوپکونه درکړم، ده هم ورسره ومنله، بيا موبايل له رهبر څخه يو بل کس واخيسته او د پوليسو قومندان ته يې وويل چې دې بندي ته موبايل ورکړه، ماته يې موبايل راکړ، هغه کس راته ځان معرفي کړ، چې زه فلانی يم، دا نو د طالبانو د زندان مسؤول و، راته لګيا شو چې چيرې تښتيدلې، ته خو اوس هم زمونږ لاس کې يې، بيرته به زما لاس ته راځې او زه به درڅخه غوښې پرې کړم، ما يې خبرې واوريدې او له الله څخه مې ددې انسان له شره پناه وغوښتله. [د طالب مليشو قومندان رهبر چې د چرسو، کوکنارو، قاچاق، اختطاف اوپه ډول ډول جرمونو کې يې نوم درلود ، د طالبانو ددوحې قرارداد څخه لا پخوا يې د کابل اداري مختلفو قومندانانو سره د مواد مخدره، قاچاق او اختطاف په لړ کې کلکې اړيکې درلودې ، يو بل سره يې د مجالسو ويډيوګانې هم نشر شوې دي، د طالبانو او سابقه حکومت بيرغ يوځای پورته کوي، بيا دغه پوليس قومندان زه وتړلم او يو تشناب کې يې بندي کړم، او زما د کورنۍ رابطې لار يې راڅخه وپوښتله، چې کله يې د کورنۍ شميره پيدا کړه نو ماته يې په خوراک کې نشه راکړه، زه يوه شپه او يوه ورځ بې هوښه وم، چې راپاڅيدم فکر مې کاوه چې د سهار وخت دی، اوبه مې وغوښتې، هغوی ويل څه کوې؟ ما ورته وويل اودس کوم سهار مونځ کوم، په خندا شو وايي ماښام دی، تا يوه شپه او يوه ورځ خوب کړې. سخت خفه شوم ځکه مونځونه راڅخه قضا شوي وو، خو مونځونه مې راوګرځول. پدغه وخت کې دې قومندان زما کورنۍ سره د پيسو خبره شروع کړې وه او ورته يې ويلي وو چې د طالبانو قومندان راته دوه ټوپکې راکوي، خو آخر سره په يو مقدار پيسو جوړ شوي وو، او سبا ته يې زما د سپارلو ژمنه ورسره کړې وه، سبا سهار يې راته وويل چې ستا ترور راغلی ده، ما تعجب وکړ چې دا څه وايي ؟ خو کله چې يې له تشنابه رابهر کړم، نو ترور مې رښتيا هم وليده، هغې ورته پيسې ورکړې او زه يې ورسره په همدغه حالت کې ورخوشې کړم، ترور مې چې د کلونو هجرت وروسته زما دا حالت وليد نو د دغه وضعيت خفګان او د خلاصون خوشحالی له امله يې په غيږ کې ونيولم او په سلګو، سلګو يې راته وژړل، ما هم ورسره د خوشحالی له امله اوښکې بدرګه کړې او بيا له هغه ځايه په يو ترتيب سره ووتلو او د خپلوانو سره يوځای شو، کابل ته راغلو او له کابله خپل ولايت په لور روان شو. ټول فاميل مو له خوشحالی الله عزوجل ته په سجده پرېوت، بيا يې راته تداوي شروع کړه، تقريبا يو کال وخت يې ونيوه.

چې کله راخه شوم نو دادی څو ورځې وشوې چې بيا مې هجرت راوکړ.

د اوږد اسويلي په ملتيا مې ورته وويل : الله عزوجل دې ددې ټولو تکاليفو او دردونو پراخه بدلې درکړي او الله دې همداسې باثباته لره .

د ابو حمزه له دې مجلسه ډير اغيزمن شوم ، ځان سره مې ويل دا دين څومره خواږه لري ، د همدې دين په سر له څومره کړاوونو ووت ، خو حوصلې يې ماتې نه شوې هغه دی بيا يې په همغه پخواني مسير خپل يون جاري ساتلی .

ابوحمزه سره مو الله په اماني وکړه موږ تري وزيرو ته واوښتو او څو ورځې وروسته دا هم د وزيرو تنګې ته راغی ځانته يې کور برابر کړ، دغه وخت د زاوې ، وډيسار او مرکخيلو په طرفونو کې د طالب مليشو په خلاف خوندوره غزا روانه وه طالب مليشې پرلپسې د ماتې او شکست سره مخ وې ، ابوحمزه اوس جوړ تيار و او د وډيسار سنګرونو ته وروخوت هلته يې نو په طالب مشرکينو خپله سينه سپه کړه ، دلته بيا هم زخمي شو، خو دا ځل زخم يې ژور نه و، رب العالمين ورته نآشنا حوصله او استقامت ورکړی و، چې بيا هم لکه د غر کلک ولاړ و له دښمن څخه يې هيڅ خوف نه درلود ، د امارتي مشرکينو په وړاندې د هر سخت سنګر په جنګ کې به حاضر و ، کله چې طالب مشرکينو په دوحه کې د اسلامي دولت په خلاف د شريکې جګړې تړون لاسليک کړ، نو امريکايانو له بل هر وخت خپل ړانده بمباريونه زيات کړل ، کله يې چې مجاهدين له هر لوري خه سخت وځپل نو بيا يې له مختلفو لوريو خپلو نيابتي مليشو طالب مرتدينو ته د اسلامي دولت په تمکين د ورختلو امر ورکړ ، همغه و چې طالب مرتدين به د امريکايي کروزونو او ډرنونو د سختو بمبارونو په سيورې کې پرمخ راتلل ، لومړی به ورته د اسلامي دولت سنګرونه امريکايي طيارو بمبار کړل او بيا پرې طالب مرتدين وروختل ، د پاکستان له لوري هم په زرګونو شيعه ګان پاکستاني فوځيان او نور احمقان د سپين غر په ژيړان کنډو راواوختل ، د اسلامي دولت مجاهدينو د امريکايي ډرونونو او کروزونو د مسلسل بمبار له امله ډير معمولي حرکت نه شو کولای خو طالب مرتدينو به ښکاره اکمالات کول او د سپين غر په څوکې يې خيمې وهلې وې او اورونه به يې بلول، يوه ورځ ابوحمزه سره د نورو ملګرو په ډير احتياط او په پټه طريقه د توري بوري په بر سر کې د طالب مشرکينو په يو مرکز د بريد په هدف وخوځيد غوښتل يې چې په يوه لوړه څوکه د طالب مرتدينو په پوسته بريد ترسره کړي ،همغه و چې امريکايي بادارانو يې خپلې مليشې ډيرې کلکې ساتلې او نه يوازې دا چې د دوی پرمختګ ته به يې لار خلاصوله بلکې په دوی باندې د کيدونکو بريدونو مخه به يې هم نيوله ، ابو حمزه د طالب مليشو پوستې ته نا رسيده همغه طالب مشرکينو سره د جګړې په لړ کې د امريکايي ډرونونو په ګذارونو کې په همغه توره ، بوره کې په شهادت ورسيد چې څو مياشتې يې ورکې د امارتي مشرکينو سره په زندان کې تيرې کړې و .

تقبله الله .

شعر

مجاهدینو انتظار مو ده اسیره خورکۍ
کوي مو څار، سترګې په لار مو ده اسیره خورکۍ

ژمی، یخني، شیبه باران، خیمه یې هم څڅیږي
په ډیرو ستونزو کې دُچار مو ده اسیره خورکۍ

هجران، زندان، ظلم، وحشت، غربت او سل غمونه
جیل د طاغوت کې ګرفتار مو ده اسیره خورکۍ

کړي ښځونک زلمي دې غبرګ لاسونه ډک له بنګړو
چې زولنو کې را ایسار مو ده اسیره خورکۍ

ناروغـي زياتـه ده، يتيـم ماشـوم د مـرګ پـه خوله کې
ژاړي دا ګڼـې شـپې بيـدار مـو ده اسـيره خورکـۍ

د مرتدينـو سـتغي سـپورې، پيغورونــه، ښـکنځل
پـه شـکنجو کـې ناکـرار مـو ده اسـيره خورکـۍ

شـور د تکبيـر چـې د زنـدان دروازې ولـړزوي
داسـې شـيبو تـه پـه تلـوار مـو ده اسـيره خورکـۍ

ولچـک، ځنځيـر يـې غازيـان مات کـړي حريـت وويني
غـازي پـه تمـه هـر سـهار مـو ده اسـيره خورکـۍ

لـه غيـرت ډکـه، د تقـوا، صـبر، ثبـات نمونـه
نـن د ملحـد لاس تـه ګـوزار مـو ده اسـيره خورکـۍ

ډېر ژر
ان شاء الله تعالی

د مقدسي د باطلو خبرو په جواب کې إلهي توره

(راخیستل)

مؤسسة العزائم
الإعلامية

مؤسسة العزائم الإعلامية

يې وړاندې کوي